د افغانستان بانک

DA AFGHANISTAN BANK

# اقتصادي او احصائیوي بولټن

د ۲۰۱۹ کال کلني بولټن ( د ۱۳۹۷ کال د مرغومي څخه تر ۱۳۹۸ کال لیندۍ پورې)

د افغانستان بانک اقتصادي او احصائیوي بولټن

د افغانستان بانک

# اقتصادي او احصائیوي بولټن

د ۲۰۱۹ کال کلني بولټن ( د ۱۳۹۷ کال د مرغومي څخه تر ۱۳۹۸ کال لیندۍ پورې)

د افغانستان بانک اقتصادي او احصائیوي بولټن

د پولي سیاست آمریت
د افغانستان بانک
ابن سینا واټ
کابل
افغانستان
ټیلیفون: ۲۱۰۳۹۳۲-۲۰-۹۳+
ویب پاڼه: www.dab.gov.af
بریښنالیک: info@dab.gov.af

ټول حقونه خوندي دي

حقونه او اجازه لیکونه

په دې بولټن کې د ټولو مطالبو د خپرولو حق خوندي دی؛ خو نقلول او بیاځلي چاپول یې په آزاده توګه ترسره کېدای شي. د بیا چاپ لپاره د تصدیق پاڼې او د بولټن یوه کاپي لازمي ده.

**یادداښت:**

د افغانستان مالي کال له ۱۳۹۱ (۲۰۱۲) کال راهیسې بدلون موندلی دی. نوی مالي کال هر کال د ډیسمبر په ۲۲ پیلیږي. دا بولټن د ۲۰۱۹ مالي کال (د ۱۳۹۷ له مرغومي څخه تر ۱۳۹۸ لیندۍ پورې) اقتصادي او احصائیوي بدلونونه رانغاړي.

## د محتویاتو لړلیک

**عمومي کتنه** ........ ۱
**۱. نړیوال اقتصادي وضعیت** ........ ۵
**۱.۱ پرمختللي اقتصادونه** ........ ۵
۱.۱.۱ د امریکې د متحدو ایالتونو اقتصاد ........ ۵
۲.۱.۱ د بریتانیې اقتصاد ........ ۶
۳.۱.۱ د جرمني اقتصاد ........ ۷
۴.۱.۱ د جاپان اقتصاد ........ ۸
**۲.۱ راغوړېدلي اقتصادونه** ........ ۸
۱.۲.۱ د چین اقتصاد ........ ۸
۲.۲.۱ د ترکیې اقتصاد ........ ۹
۳.۲.۱ د هند اقتصاد ........ ۱۰
**۲. د بانکي او پولي بازار بدلونونه** ........ ۱۳
۱.۲ پولي پروګرام ........ ۱۳
۲.۲ د نقدینه ګۍ حجم ........ ۱۴
۳.۲ خالصه نړیوالې زیرمې ........ ۱۷
۴.۲ د اسعارو د مبادلې بازار ........ ۱۷
۱.۴.۲ د اسعارو د مبادلې نرخونه ........ ۱۷
۲.۴.۲ د اسعارو لیلام ........ ۱۸
۵.۲ د ازاد بازار عملیات او د سیالیت شرایط ........ ۱۹
۱.۵.۲ د پانګه ایزو پاڼو لیلام ........ ۱۹
۲.۵.۲ الزامي او اضافي زیرمې ........ ۲۰
**۳. د انفلاسیون بهیر او لیدلوری** ........ ۲۳
۱.۳ د نړیوالو سوداګریزو توکو کتنه ........ ۲۳
۲.۳ په افغانستان کې د لګښتي توکو بیې ........ ۲۳
۱.۲.۳ په ملي عمومي انفلاسیون کې بدلونونه (کال په کال بدلونونه) ........ ۲۴
۲.۲.۳ په ملي عمومي انفلاسیون کې بدلونونه (ربعې په ربعې بدلونونه) ........ ۲۵
۳.۲.۳ د کابل په عمومي انفلاسیون کې بدلونونه (کال په کال بدلونونه) ........ ۲۷
۴.۲.۳ د کابل په عمومي انفلاسیون کې بدلونونه (ربعې په ربعې بدلونونه) ........ ۲۷

**۴. د بهرني سکتور بدلونونه** ۳۳
۱.۴ د ادباینو بیلانس ۳۳
۱.۱.۴ د جاري حساب بیلانس ۳۳
۲.۱.۴ پانګه ایز حساب ۳۴
۳.۱.۴ مالي حساب ۳۴
۲.۴ د توکو سوداګري ۳۵
۳.۴ د سوداګرۍ لورى ۳۶
۱.۳.۴ د صادراتو لورى ۳۶
۲.۳.۴ د وارداتو لورى ۳۷
۴.۴ د سوداګرۍ ترکیب ۳۸
۱.۴.۴ د وارداتو ترکیب ۳۸
۲.۴.۴ د صادراتو ترکیب ۳۹
۵.۴ بهرنۍ پورواینې ۴۰
۶.۴ خالصه نړیوالې زیرمې ۴۱
**۵. د مالیاتي سکتور بدلونونه** ۴۹
۱.۵ د بودجې د اجراء نرخ ۴۹
۲.۵ اصلي بودجه (کسر او ډېریدنه) ۵۰
۳.۵ ټولیزه عواید ۵۱
۱.۳.۵ کورني عواید ۵۱
۳.۳.۵ غیر مالیاتی عواید ۵۲
۲.۳.۵ د بسپنه ورکوونکو مرستې ۵۲
۴.۵ لګښتونه ۵۳
**۶. د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی** ۵۷
۱.۶ د بانکي نظام شتمنی ۵۷
۱.۱.۶ ناخالصه پورونه ۵۹
۲.۱.۶ د بانکونو ترمنځ طلبات ۶۴
۳.۱.۶ پانګونه ۶۴
۴.۱.۶ په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات ۶۴
۲.۶ پوراینې ۶۴
۱.۲.۶ امانتونه ۶۵
۲.۲.۶ پور اخیستنې ۶۶

۳.۶ نقدینه ګی (سیالیت) ۶۶
۱.۳.۶ د نقدینه ګی نسبت (په پراخه کچه) ۶۶
۴.۶ پانګه ۶۷
۵.۶ ګټورتیا (نافعیت) ۶۷
۶.۶ د اسعارو د مبادلې خطر ۶۸
۷.۶ د ټکتانې د نرخ خطر ۶۸
۸.۶ د اسلامي بانکوالی د سکتور کړنې ۶۹
عمومي کتنه ۶۹
۱.۸.۶ ټولیزه شتمنی ۷۰
۲.۸.۶ ټولیزه امانتونه ۷۴
۳.۸.۶ نقدینه ګي (سیالیت) ۷۵
۴.۸.۶ پانګه ۷۶
۵.۸.۶ ګټورتیا (نافعیت) ۷۶
**پایله** ۷۹

**د ګرافونو لست**

۱.۱ ګراف: د پرمختللي اقتصادونو او د غوړېدو په حال کې هېوادونو د ناخالصو کورنیو تولیداتو وده........ ۵
۲.۱ ګراف: د امریکې د متحدو ایالتونو د ناخالصو کورنیو تولیداتو د ودې کلنی نرخ........ ۵
۳.۱ ګراف: د امریکې د متحده ایالتونو د بې کارۍ کچه او د لګښتي توکو د بیو شاخص........ ۶
۴.۱ ګراف: د بریتانیې د ناخالصو کورنیو تولیداتو د ودې کلنی نرخ........ ۷
۵.۱ ګراف: د جرمني د ناخالصو کورنیو تولیداتو د ودې کلنی نرخ........ ۷
۶.۱ ګراف: د چین د ناخالصو کورنیو تولیداتو د ودې کلنی نرخ........ ۸
۷.۱ ګراف: د ترکیې د ناخالصو کورنیو تولیداتو د ودې کلنی نرخ........ ۹
۱.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې په ګردښت کې پیسې........ ۱۴
۲.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې پولي زیرمې........ ۱۴
۳.۲ ګراف: خالصې بهرنۍ شتمنۍ، خالصې کورنۍ شتمنۍ او د پراخه مفهوم په توګه پیسې (M2)........ ۱۵
۴.۲ ګراف: په ګردښت کې پیسې، جاري امانتونه او پیسه وزمه د پراخه مفهوم په توګه پیسې د ونډې په توګه (سلنه)........ ۱۵
۵.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د خالصه نړیوالو زیرمو حقیقي کچه او هدف........ ۱۷
۶.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنی منځنی نرخ........ ۱۷
۷.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د انګلیسي پاونډ او یورو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنی منځنی نرخ........ ۱۷
۸.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د هندۍ روپۍ او پاکستانۍ روپۍ پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنی منځنی نرخ........ ۱۸
۹.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د ایراني تومانو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنی منځنی نرخ........ ۱۸
۱۰.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د امریکایي ډالرو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ........ ۱۸
۱۱.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د پانګه ایزو پاڼو نا ترلاسه شوې ونډه........ ۱۹
۱۲.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د ۷ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ........ ۱۹
۱۳.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د ۲۸ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ........ ۱۹
۱۴.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د ۹۱ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ........ ۲۰
۱۵.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د ۱۸۲ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ........ ۲۰
۱۶.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د ۳۶۴ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ........ ۲۰
۱.۳ ګراف: ملي عمومي انفلاسیون (کال په کال)........ ۲۴
۲.۳ ګراف: په ربعواره توګه د اوسط موندلو میتود........ ۲۵
۳.۳ ګراف: په ربعواره توګه د ملي انفلاسیون منځنی نرخ........ ۲۷
۴.۳ ګراف: د کابل د کلني انفلاسیون منځنی نرخ........ ۲۸
۵.۳ ګراف: په ربعواره توګه د کابل انفلاسیون منځنی نرخ........ ۲۸
۱.۴ ګراف: د جاري حساب بیلانس........ ۳۴
۲.۴ ګراف: د پانګه ایزه او مالي حساب بیلانس........ ۳۵
۳.۴ ګراف: د بهرنۍ مستقیمې پانګونې داخلي جریانونه (FDI)........ ۳۵
۴.۴ ګراف: د سوداګرۍ کړنې او بیلانس........ ۳۶
۵.۴ ګراف: د صادراتو لورې (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۸ مالي کال........ ۳۶
۶.۴ ګراف: د صادراتو لورې (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۷ مالي کال........ ۳۷

۷.۴ ګراف: د وارداتو لوری (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۸ مالي کال ........................................ ۳۷
۸.۴ ګراف: د وارداتو لوری (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۷ مالي کال ........................................ ۳۸
۹.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۷ مالي کال ........................................ ۳۸
۱۰.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۸ مالي کال ........................................ ۳۹
۱۱.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۷ مالي کال ........................................ ۳۹
۱۲.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۸ مالي کال ........................................ ۴۰
۱۳.۴ ګراف: د بهرنی پوراینې پرتله، ۱۳۹۷ مالي کال او ۱۳۹۸ مالي کال ........................................ ۴۱
۱۴.۴ ګراف: د تیرو دورو په اوږدو کې خالصه نړیوالې زیرمې ........................................ ۴۲
۱.۵ ګراف: د ۱۳۹۷ مالي کال او د ۱۳۹۸ مالي کال لپاره د ټولیزه عوایدو، ټولیزه لګښتونو او بسپنو پرتله ........................................ ۴۹
۲.۵ ګراف: د ټولیزې بودجې پرتله، ۱۳۹۷ مالي کال او ۱۳۹۸ مالي کال ........................................ ۵۰
۳.۵ ګراف: د عملیاتي بودجې او د پرمختیایي بودجې د اجراء د نرخونو پرتله، ۱۳۹۶ مالي کال او ۱۳۹۷ مالي کال ........................................ ۵۰
۴.۵ ګراف: د اصلي بودجې کسر او ډېرېدنه، ( د بسپنو په ګډون او نه ګډون)، ۱۳۹۷ مالي کال او ۱۳۹۸ مالي کال (په افغانی) ........................................ ۵۰
۵.۵ ګراف: د ټولیزه عوایدو، لګښتونو او بسپنو بنسټیزې برخې، ۱۳۹۸ مالي کال ........................................ ۵۱
۶.۵ ګراف: د ټولیزه عوایدو بنسټیزې برخې، ۱۳۹۸ مالي کال ........................................ ۵۱
۷.۵ ګراف: د ټولیزه کورنیو عوایدو پرتله، ۱۳۹۷مالي کال او ۱۳۹۸ مالي کال (په زر افغانی) ........................................ ۵۱
۸.۵ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د کورنیو عوایدو بنسټیزې برخې ........................................ ۵۲
۹.۵ ګراف: د ټولیزه غیر مالیاتي عوایدو د بنسټیزو برخو پرتله، ۱۳۹۷ مالي کال او ۱۳۹۸ مالي کال ........................................ ۵۲
۱۰.۵ ګراف: د کلنیو بسپنو شننه، ۱۳۹۷ مالي کال او ۱۳۹۸ مالي کال ........................................ ۵۳
۱۱.۵ ګراف: د بسپنه ورکوونکو د ونډې اجزاوې، ۱۳۹۸ مالي کال ........................................ ۵۳
۱۲.۵ ګراف: د بسپنه ورکوونکو د ونډو پرتله، ۱۳۹۷ مالي کال او ۱۳۹۸ مالي کال ........................................ ۵۳
۱۳.۵ ګراف: د ټولیزه لګښتونو پرتله، ۱۳۹۷ مالي کال او ۱۳۹۸ مالي کال ........................................ ۵۴
۱.۶ ګراف: د بانکي نظام په ټولیزه شتمنیو کې د بانکي ډلو ونډه ........................................ ۵۸
۲.۶ ګراف: د بانکي نظام د ناخالصه پورونو په پورتوفولیو کې د بانکي ډلو ونډه ........................................ ۵۹
۳.۶ ګراف: په ټولیزه ناخالصو پورونو کې د منځنیو، وړو او کوچنیو پورونو ونډه ........................................ ۶۲
۴.۶ ګراف: د پور د پورتوفولیو کیفیت ........................................ ۶۳
۵.۶ ګراف: د بانکونو ترمنځ طلباتو کې د بانکي ډلو ونډه ........................................ ۶۴
۶.۶ ګراف: په پوراینو کې د بانکي ډلو ونډه ........................................ ۶۵
۷.۶ ګراف: په افغانی اېښودل شوي امانتونه ........................................ ۶۵
۸.۶ ګراف: د امانتونو اسعاري ترکیب ........................................ ۶۶
۹.۶ ګراف: د بانکي ډلو ترمنځ امانتونه ........................................ ۶۶
۱۰.۶ ګراف: د امانتونو ډولونه ........................................ ۶۶
۱۱.۶ ګراف: د بانکي نظام ګټورتیا ........................................ ۶۸
۱۲.۶ ګراف: له پانګې ترلاسه شوې ګټه (ROA) او له شتمنی ترلاسه شوې ګټه (ROE) ........................................ ۶۸
۱۳.۶ ګراف: نهایي خالصه ټکټانه ........................................ ۶۸
۱۴.۶ ګراف: د اسلامي بانکوالی برخې د شتمنیو بهیر ........................................ ۷۱
۱۵.۶ ګراف: د اسلامي بانکوالی نظام د محصول پر بنسټ پانګونه او مالي تمویل، د ۱۳۹۷ مالي کال او ۱۳۹۸ مالي کال پرتله (مبلغ په میلیون افغانی) ........................................ ۷۳

۱۶.۶ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په پای کې د محصول پر بنسټ پانګونه او د مالي تمویل سلنه ............ ۷۳
۱۷.۶ ګراف: د اسلامي بانکوالۍ برخې د بانکونو ترمنځ طلبات ............ ۷۴
۱۸.۶ ګراف: د امانتونو ډله بندي، د ۲۰۱۹ کال د ډیسمبر پر بنسټ ............ ۷۴
۱۹.۶ ګراف: د اسلامي بانکوالۍ برخې د پانګې بهیر ............ ۷۶
۲۰.۶ ګراف: د شریعت مطابق محصولاتو د سترو برخو څخه ترلاسه شوې ګټه ............ ۷۸

**د جدولونو لست**


۱.۲ جدول: د نقدینه گی حجم، ۱۳۹۸ مالي کال (۱۳۹۷/۹/۲۱ نه تر ۱۳۹۸/۱۲/۲۱ پورې) ........ ۱۶
۱.۳ جدول: ملي عمومي انفلاسیون، د ۱۳۹۷ مالي کال نه تر ۱۳۹۸ مالي کال پورې ........ ۲۶
۲.۳ جدول: د کابل عمومي انفلاسیون، د ۱۳۹۷ مالي کال نه تر ۱۳۹۸ مالي کال پورې ........ ۲۹
۱.۴ جدول: د افغانستان د اداینو بیلانس (په میلیون امریکایي ډالر) ........ ۴۳
۲.۴ جدول: د توکو سوداګري (په میلیون امریکایي ډالر)، د ۱۳۹۸ مالي کال ........ ۴۴
۳.۴ جدول: د ۱۳۹۸ مالي کال لپاره د بهرنۍ سوداګرۍ لوری (په میلیون امریکایي ډالر) ........ ۴۴
۴.۴ جدول: د ۱۳۹۷ مالي کال لپاره د بهرنۍ سوداګرۍ لوری (په میلیون امریکایي ډالر) ........ ۴۵
۵.۴ جدول: د ۱۳۹۸ مالي کال لپاره بهرنۍ پوراینې (په میلیون امریکایي ډالر) ........ ۴۵
۶.۴ جدول: خالصې نړیوالې زیرمې (په میلیون امریکایي ډالر) ........ ۴۵
۱.۶ جدول: د بانکي نظام د شتمنۍ، پوراینو او پانګې کچه ........ ۵۸
۲.۶ جدول: د سکتور پر بنسټ د پورونو ویشنه ........ ۶۱
۳.۶ جدول: د بانکي نظام د نقدینه ګۍ نسبت ........ ۶۶
۴.۶ جدول: د ګټې/ زیان جدول (ټولیزه)، مبلغ په میلیون افغانی ........ ۶۷
۵.۶ جدول: د اسلامي بانکوالۍ د برخې شتمنۍ په ټیټېدونکي ترتیب، ۲۰۱۹ سپټمبر ........ ۷۱
۶.۶ جدول: د اسلامي بانکوالۍ د برخې ټولیزه شتمنۍ او پوراینې ........ ۷۱
۷.۶ جدول: د محصول پر بنسټ د اسلامي بانکوالۍ په برخه کې مالي تمویل او پانګونه (ناخالص)، په میلیون افغانی ........ ۷۳
۸.۶ جدول: د اسلامي بانکوالۍ برخې د ټینګښت مهم شاخصونه، ۲۰۱۹ ډیسمبر ........ ۷۵
۹.۶ جدول: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د اسلامي بانکوالۍ د برخې د ګټې او زیان جدول ........ ۷۷
۱۰.۶ جدول: د شریعت مطابق د سترو محصولاتو د ډولونو پر بنسټ ګټه ........ ۷۸
۱۱.۶ جدول: د اسلامي بانکوالۍ برخې کارکوونکي، پور اخیستونکي، امانت ایښودونکي او نور مشتریان ........ ۷۸

## د افغانستان بانک د سرپرست رئیس پیغام

"د ټولنې د ډېرو زیانمن کیدونکو وګړو ملاتړ، د افغانستان بانک د پالیسیو او هڅو موخه ده. دا چاره د سالم او اغېزناکه پولي سیاست د تطبیق له لارې ترسره کېږي، هغه سیاست چې د بانک پر لومړني هدف (د بیو پر ثبات) تمرکز کوي."



**عمومي کتنه**

د افغانستان بانک د نقدینه ګۍ د حجم د هدف ټاکلو له رژیم څخه کار اخلي چې پر بنسټ يې پولي زیرمې د بانک عمده عملیاتي هدف او د نقدینه ګۍ په موخه په ګردښت کې پیسې د بانک ضمني هدف جوړوي. پولي زیرمې په ۱۳۹۸ مالي کال کې له خپل اصلي هدف څخه ټیټې شوي دي، حال دا چې په ګردښت کې پیسې او د پولي زیرمو بنسټیزه برخه د لنډې مودې لپاره له خپل اصلي هدف څخه لوړې شوي دي. د افغانستان بانک د خپل عملیاتي هدف د ترلاسه کولو په موخه په بازار کې د اضافي نقدینه ګۍ د کنټرول او اداره کولو لپاره د ازاد بازار له عملیاتو څخه کار اخلي. د محدوده مفهوم په توګه پیسو (M1) د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې ۶ سلنه وده ثبت کړې، حال دا چې د پراخه مفهوم په توګه پیسو (M2) ۵.۷۰ سلنه وده کړې ده.

په افغانستان کې د لګښتي توکو د بیو شاخص د ۲۰۱۵ زیږدیز کال د اپریل میاشتې پر بنسټ محاسبه کېږي. د انفلاسیون منځنی نرخ د کال په کال شمېرو پر بنسټ په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۲.۳۱ سلنه ثبت شوی چې دا شمېره د تیر کال د ۰.۶ سلنې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. په ورته وخت کې، د انفلاسیون منځنی نرخ د ربعې په ربعې شمېرو پر بنسټ د ۱۳۹۸ مالي کال په څلورمه ربعه کې ۱.۷۱ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۰.۸۹ سلنې په پرتله زیاتوالی په ګوته کوي.

د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د هېواد د اقتصاد بهرني سکتور ۲۹۴۸ میلیونه امریکایي ډالره کسر کړی دی. همدا ډول، د جاري حساب په کسر کې ۲ سلنه کموالی راغلی چې د سوداګرۍ په کسر کې ۸ سلنه کموالی یې اصلي لامل ګڼل کېږي. همدا ډول، د پانګې عواید د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې ۶۱ سلنه او شخصي لیږدونې ۱۴ سلنه زیاتې شوي دي. د پانګې په حساب کې داخلي بهیدنه ۳۷ سلنه راکم شوی چې دولت ته د بسپنو د کچې کموالی یې اصلي لامل ګڼل کېږي، حال دا چې د اداینو د بیلانس مالي حساب ټیټیدونکی بهیر تجربه کړی او کچه یې په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۱۱۷.۱۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي. له بلې خوا، د بهرنۍ مستقیمې پانګونې داخلي بهیدنې د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې ۲.۹۰ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي، حال دا چې د پورټوفولیو د پانګونې بهرنۍ بهیدنې منفي ۱۴.۶۲ میلیونه امریکایي ډالره ثبت شوي دي.

د هېواد د اقتصاد په مالي سکتور کې ټولیزه اصلي بودجه په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۳۹۹.۴۱ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ۳۷۷.۱۹ میلیارده افغانۍ په پرتله زیاتوالی په ګوته کوي. همدا ډول، اصلي بودجې (له بسپنو پرته) ۲۰۳.۶۲ میلیارده افغانۍ کسر تجربه کړی، حال دا چې د (بسپنو په ګډون) اصلي بودجې ۱۱.۲۴ میلیارده افغانۍ کسر کړی دی.

په ورته وخت کې کورني عواید په ۱۳۹۸ مالي کې ۲۰۸.۴۲ میلیارده افغانۍ او شوي لګښتونه ۴۱۲ میلیارده افغانۍ ته رسیږي. په ورته وخت کې د بسپنه ورکوونکو ټولیزه مرستې په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۱۹۲.۳۸ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ۲۰۸.۲۸ میلیارده افغانۍ په پرتله ۱۵.۹۰ میلیارده افغانۍ کموالی په ګوته کوي.

د بانکوالۍ د نظام شته شمېرې په ۱۳۹۸ مالي کال کې ټیټیدونکی بهیر ښکاره کوي. همدا ډول په دې دوره کې ټولیزه شتمنۍ، امانتونه او ناخالص پورونه کم شوي، حال

دا چې په پانګه (اکویټی) کې زیاتوالی راغلی دی. سربیره پر دې، د شتمنۍ کیفیت راټیټ شوی، حال دا چې نقدینه ګي په کافي حد کې پاتې ده. د سوداګرۍ سکتور د ۴۴.۴ سلنې ونډې په درلودلو سره له بانکونو څخه زیات پور ترلاسه کړی، حال دا چې کرنیزو فارمونو او مشتریانو د ټولیزه پورونو ۶.۱۹ سلنه ترلاسه کړي دي.

امانتونه د بانکي نظام بنسټیزه تمویلي سرچینه ګڼل کېږي چې د مشتریانو او د بانکونو ترمنځ امانتونه رانغاړي. په ورته وخت کې د بانکي نظام ګټورتیا د تیر کال په پرتله زیاتوالی موندلی چې له شتمنۍ ترلاسه شوې ګټې (ROA) او له پانګې ترلاسه شوې ګټې (ROE) زیاتوالی یې اصلي لامل ګڼل کېږي.

له بلې خوا، د اسلامي بانکوالۍ برخې په خپلو عمده مالي شاخصونو کې وده کړې او د دې برخې د شتمنۍ بنسټ په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۱۰.۷۱ سلنه وده ثبت کړې، حال دا چې ناخالصې پانګونې او د مالي تمویل پورتوفولیو په یاده موده کې ۱۷.۵۷ سلنه زیاتوالی موندلی دی. په ورته وخت کې د اسلامي بانکوالۍ برخې په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۲۷۹.۵۳ میلیونه افغانۍ زیان کړی چې له شتمنۍ د ترلاسه شوې ګټې (ROA) منفي ۱۰ سلنه او له پانګې د ترلاسه شوې ګټې(ROE) منفي ۶.۹۶ سلنه کموالی یې اصلي لاملونه په ګوته شوي دي.

# ۱

## نړیوال اقتصادي وضعیت

# ۱

# نړیوال اقتصادي وضعیت

نړیواله اقتصادي وده په ۲۰۱۹ کال کې راکمه شوې ده چې په نړیوال اقتصاد کې د سوداګرۍ کموالی، د صنعتي تولید کموالی، د غوړېدو په حال هېوادونو کې د پانګونې کموالی، د پرمختګ په حال او د غوړېدو په حال ډېری هېوادونو لکه، چین، هند، برازیل او روسیې کې کمزورې اقتصادي وده او د بریګزیټ (Brexit) له امله رامنځته شوي فشارونه یې ستر لاملونه ګڼل کېږي.

د پیسو نړیوال صندوق د نړیوال اقتصادي لرلید پر بنسټ د پرمختللو هېوادونو د اقتصادي ودې کچه په ۲۰۱۹ کال کې ۱.۷ سلنه او په ۲۰۲۰ کال کې ۱.۶ سلنه اټکل شوې ده. همدا ډول، د یورو سیمې د هېوادنو د اقتصادي ودې کچه په ۲۰۱۹ کال کې ۱.۲ سلنه او په ۲۰۲۰ کال کې ۱.۳ سلنه اټکل شوې ده، حال دا چې د غوړېدو او د پرمختګ په حال هېوادونوکې د اقتصادي ودې کچه په ۲۰۱۹ کال کې ۳.۷ سلنه او په ۲۰۲۰ کال کې ۴.۴ سلنه اټکل شوې ده.

نړیواله اقتصادي وده په ۲۰۱۹ کال کې کمه اټکل شوې چې د هند په څېر په ځینو هېوادونو کې د اقتصادي ودې چټک کموالی یې اصلي لامل ګڼل کېږي. د پرمختللو هېوادونو له ډلې د امریکې متحده ایالتونو اقتصاد په ۲۰۱۹ کال کې ۲.۳ سلنه وده کړې، حال دا چې د بریتانیې او جرمني اقتصادي وده په یاده موده کې په ترتیب سره ۱.۴ سلنه او ۰.۴ سلنه زیاته شوې ده. همدا ډول، د غوړېدو په حال کې هېوادونو له ډلې د چین اقتصادي وده ۶.۱ سلنه راټیټه شوې چې د تیرو ۳۰ کلونو په پرتله تر ټولو زیات ټیټوالی بلل کېږي، حال دا چې د ترکیې په اقتصادي وده کې ۰.۹ سلنه زیاتوالی راغلی دی.

۱.۱ ګراف: د پرمختللو، د پرمختګ او غوړېدو په حال کې هېوادونو د ناخالصو کورنیو تولیداتو وده




سرچینه: د پیسو نړیوال صندوق، نړیوال اقتصادي لرلید

## ۱.۱ پرمختللي اقتصادونه

### ۱.۱.۱ د امریکا د متحدو ایالتونو اقتصاد

د امریکا د متحدو ایالتونو د حقیقي ناخالصو کورنیو تولیداتو وده د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ ربعه کې ۲.۱ سلنې ته رسیږي. د دې هېواد د حقیقي ناخالصه کورنیو تولیداتو کلنی وده په ۲۰۱۹ کې ۲.۳ سلنې ته رسیږي چې د تیرکال د ۲.۹ سلنې کچې په پرتله کمه او ۳ سلنه اټکل شوې وده نه پوره کوي. د دې هېواد اقتصادي وده د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ ربعه کې ۳.۱ سلنه پیاوړې وده درلوده، حال دا چې په دویمه او درېیمه ربعه کې یې وده په ترتیب سره ۲ سلنې او ۲.۱ سلنې ته راټیټه شوې چې د سوداګریزو شخړو زیاتوالی او د مالیې د کمولو د اغیزو له منځه تلل یې اصلي لامل ګڼل کېږي.

۲.۱ ګراف: د امریکا د متحدو ایالتونو د ناخالصو کورنیو تولیداتو د ودې کلنی نرخ




سرچینه: د امریکا متحده ایالاتو د اقتصادي شننې او څېړنې اداره

همدا ډول، په ۲۰۱۹ کال کې په وارداتو او دولتي لګښتونو کې کموالی راغلی چې د خصوصي پانګونې او خصوصي لګښتونو کموالی یې اصلي لامل ګڼل کیږي.
په ورته وخت کې، د ډالرو په اوسني نرخ سره په ناخالصو کورنیو تولیداتو کې زیاتوالی راغلی چې کچه یې د ۲۰۱۹ کال په وروستی ربعه کې ۱۸۴.۲ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیږي او ټولیزه ارزښت یې په یاده موده کې ۲۱.۴۳ ټریلیونه امریکایي ډالره کیږي. د حقیقي ناخالصو کورنیو تولیداتو د زیاتوالي اصلي لامل د شخصي لګښتونو، د بهر میشتو ثابتو پانګونو، د فدرالي او ځایي دولت د لګښتونو او پر توکو او مالونو د خصوصي پانګونې زیاتوالی ګڼل کیږي او د میشتې ثابتې پانګونې د منفي بهیر له امله په نسبي توګه په کې کموالی راغلی دی.

**۳.۱ ګراف: د امریکا د متحدو ایالتونو د بې کارۍ کچه او د لګښتي توکو د بیو شاخص**




سرچینه: د امریکا د متحده ایالتونو د کار احصائیوي اداره

سربیره پر دې، د سوداګرۍ کسر په دې موده کې ۶۱۶.۸ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیږي او ۱.۷ سلنه کموالی ښکاره کوي چې د ۲۰۱۳ کال راهیسې تر ټولو ډیر کموالی ګڼل کیږي. همدا ډول، د توکو واردات په ۲۰۱۹ کال کې ۱.۷ سلنه راکم شوي چې په صنعتي موادو، لګښتي او نورو توکو کې د پام وړ کموالی یې اصلي لامل په ګوته شوی دی. د دې ترځنګ، د ۲۰۱۹ کال په صادراتو کې هم ۱.۳ سلنه کموالی راغلی چې د پانګه ایزه توکو، صنعتي موادو او نورو توکو په لېږد رالېږد کې کموالی یې اصلي لامل ګڼل کیږي.
په امریکا متحده ایالتونو کې د ډیسمبر تر میاشتې پورې د بې کارۍ کچه ۳.۵ سلنې ته رسیږي چې په پرچون پلورنې، تفریحي، میلمه پالنې او روغتیایي برخو کې زیاتې دندې ثبت شوي دي. په ورته وخت کې، د رغونې، مسلکي او سوداګریزو خدمتونو په برخو کې هم دندې زیاتې شوي، حال دا چې په تولیدي، ټرانسپورټ، د مالونو د ساتنې او ګودام او د کان کیندنې په سکتورونو کې دندې راکمې شوي دي.

### ۲.۱.۱ د بریتانیې اقتصاد

د بریتانیې ناخالصه کورني تولیدات په ۲۰۱۹ کال کې ۱.۴ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ۱.۳ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله لږ څه زیاتوالی په ګوته کوي. که څه هم د ۲۰۱۹ کال په څلورمه ربعه کې دې هېواد اقتصادي وده نه ده کړې او د اقتصادي ودې ګراف یې ثابت پاتې شوی دی. همدا ډول، د خدمتونو سکتور د ۲۰۱۹ کال په څلورمه ربعه کې وده کړې، خو د تیرې ربعې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي، چې د تولیدي سکتور انقباض یې اصلي لامل ګڼل کیږي. د دې ترځنګ، د بریتانیې د موټرو تولید په ۲۰۱۹ کال کې کموالی تجربه کړی چې د موټرو د تولیدي کارخونو بندیدل یې اصلي لامل ګڼل کیږي.
سربیره پر دې، د خدمتونو سکتور چې د بریتانیې د اقتصاد درې ربعې رانغاړي، د ۲۰۱۹ کال په څلورمه ربعه کې ۰.۱ سلنه او د رغونې سکتور ۰.۵ سلنه وده کړې، حال دا چې د تولیدي سکتور محصولات ۱.۱ سلنه راکم شوي دي. د

دې کموالي ستر لامل د ۲۰۱۹ مالي کال د اکتوبر په ۳۱ نېټه د بریتانیا لخوا له اروپايي ټولنې سره د شوې معاملې د لغوه کولو په صورت کې په نومبر میاشت کې د موټرو د تولید د ځینو فابریکو د کار بندیدل ګڼل کېږي.

۴.۱ ګراف: د بریتانیې د ناخالصو کورنیو تولیداتو د ودې کلنی نرخ




سرچینه: د بریتانیې د احصائیې ملي اداره

د توکو او خدمتونو د سوداګرۍ کسر د ۲۰۱۹ کال په څلورمه ربعه کې ۶.۵ میلیارده یورو ته رسیږي چې د تیرې ربعې د ۴ میلیارده یورو په پرتله د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي چې د بریتانیې د خدمتونو د سکتور په سوداګرۍ د ډیربښت کموالی یې اصلي لامل په ګوته شوی دی. له بلې خوا، د توکو د سوداګرۍ کسر په څلورمه ربعه کې راکم شوی او د ماشین آلاتو او د ټرانسپورټي تجهیزاتو وارداتو په کسر کې ۲.۲ میلیارده یورو کموالی راغلی دی. په ټولیزه توګه، د توکو او خدمتونو د سوداګرۍ کسر ۲۹.۳ میلیارده یورو ته رسیږي چې په ټولیزه توګه ۰.۵ میلیارده یورو کموالی ښکاره کوي.

### ۳.۱.۱ د جرمنی اقتصاد

جرمني، د اروپا د ستر اقتصادي هېواد او د یورو سیمې د اقتصادي ودې د اصلي محرک په توګه په ۲۰۱۹ کال کې ۰.۴ سلنه وده کړې ده. که څه هم ۰.۶ سلنه د ودې کچه د ۲۰۱۳ کال راپدیخوا تر ټولو ټیټه کلنی وده شمېرل کېږي ځکه دې هېواد په ۲۰۱۸ کال کې ۱.۵ سلنه او په ۲۰۱۷ کال کې ۲.۲ سلنه اقتصادي وده درلودلې چې په لاندې جدول کې ښودل کېږي.

د جرمني اقتصاد د ۲۰۱۹ کال په دویمه ربعه کې د ۰.۲ سلنې ودې له کموالي وروسته په دریمه ربعه کې ۰.۱ سلنې ودې د زیاتوالي له امله له اقتصادي کړکیچ څخه ژغورل شوی دی. د یادونې وړ ده چې د جرمني اقتصادي وده په یاده موده کې د نړیوالې تقاضا د کموالي، سوداګریزې جګړې او د بریګزیټ په تړاو د نا ډاډمنتیاوو له امله د پام وړ راکمه شوې ده.

۵.۱ ګراف: د جرمني د ناخالصو کورنیو تولیداتو د ودې کلنی نرخ




سرچینه: د احصائیې فدرالي اداره

د خدمتونو سکتور په ۲۰۱۹ کال کې وده کړې، حال دا چې صنعتي تولید د جرمني په اقتصاد کې د ملا د تیر حیثیت لري، کموالی موندلی دی. همدا ډول، د موټر جوړولو د صنعت په وده کې هم کموالی راغلی چې د داخلي او نړیوالې تقاضا کموالی او موټر جوړولو پر ځای چاپیریال ته د زیان نه رسوونکو نقلیه وسایطو تولیدول یې اصلي لامل ګڼل کېږي. د دې ترڅنګ، مصرفي لګښتونو په اقتصادي وده کې مثبته ونډه لرلې، حال دا چې صادراتو

په یاده موده کې کموالی کړی دی.

د احصائیې د فدرالي اداري د شمېرو له مخې په ۲۰۱۹ کال کې د دولت په عمومي بودجه کې د پرلپسې اتم ځل لپاره زیاتوالی راغلی چې کچه یې ۴۹.۸ میلیارده یورو ته رسیږي او تیر کال د ۶۲.۴ میلیارده یورو په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي.

**۴.۱.۱ د جاپان اقتصاد**

د جاپان د کابینې د دفتر د خپرو شویو شمېرو پر بنسټ، د دې هېواد د ناخالصو کورنیو تولیداتو د کلنی ودې کچه په تیره ربعه کې له ۲.۴ سلنه کموالي وروسته د ۲۰۱۹ کال په څلورمه ربعه کې ۱.۹ سلنې ته لوړ شوی دی. په ناخالصو کورنیو تولیداتو کې د پانګې د لګښتونو بنسټیزې برخې د تیرې ربعې په پرتله د اکتوبر نه تر ډیسمبر پورې ۲.۷ سلنه وده کړې چې د ۲۰۱۵ کال د لومړۍ ربعې راپدېخوا تر ټولو چټکه وده ګڼل کېږي. د دې ترڅنګ، خصوصي لګښتونو چې د ناخالصو کورنیو تولیداتو شاوخوا ۶۰ سلنه رانغاړي، ۰.۴ سلنه وده کړې ده. په ورته وخت کې، داخلي تقاضا د دې هېواد د ناخالصوکورنیو تولیداتو په وده کې ۰.۰۰۸ سلنه مثبته ونډه لرلې، حال دا چې کورني لګښتونه د ۰.۴ سلنه اټکل شوي انقباض د کلني اوسط سنجش په پرتله د کال په کال شمېرو پر بنسټ د جنورې په میاشت کې ۲.۰ سلنه زیات شوي، چې د ناخالصو کورنیو تولیداتو د ودې ښکارندویې کوي. له بلې خوا، خالص صادرات په ۲۰۱۹ کال کې ۰.۳ سلنه راکم شوي دي.

په ورته وخت کې، د جاپان اقتصاد د سوداګریزو جګړو له امله د رامنځته شویو ناډاډمنتیاوو او د نړیوالې سوداګرۍ د کموالي له امله د پام وړ کمزوری شوی دی. ځینو اقتصاد پوهانو اټکل کړی چې د پانګې لګښتونه او ټولیزه اقتصادي وده ښایي د روان کال په لومړۍ نیمایي کې راکمه شي چې د نړیوالې سوداګرۍ د کمیدو له امله د صادراتو کموالی او د توکو نه خرڅلاو یې اصلي لاملونه ګڼل کېږي.

**۲.۱ د غوړېدو په حال کې هېوادونه**

**۱.۲.۱ د چین اقتصاد**

چین چې د نړۍ دویم لوی اقتصادي هېواد ګڼل کېږي، د اقتصادي ودې کچه یې په ۲۰۱۹ کال کې ۶.۱ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ۶.۶ سلنې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي. که څه هم د ودې دا کچه د دې هېواد دولت لخوا د ۶ سلنې نه تر ۶.۵ سلنې پورې ټاکل شویو هدفونو سره برابر دی او په تیرو ۳۰ کلونو کې د اقتصادي ودې تر ټولو ټیټه کچه بلل کېږي. همدا ډول، دې هېواد د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ ربعه کې ۶.۴ سلنه، په دویمه ربعه کې ۶.۲ سلنه او په دریېمه ربعه کې ۶ سلنه وده درلودلې ده. د چین د ناخالصو کورنیو تولیداتو د ودې کچه په ۲۰۱۹ کال کې راټیټ شوی دی چې د چین او امریکا ترمنځ د سوداګریزې جګړې له امله د نړیوالې او داخلي تقاضا او په وده کې د صادراتو د ونډې کمېدل یې اصلي لامل ګڼل کېږي. د ۲۰۱۹ کال په ډیسمبر کې د پرچون پلورنې ۸ سلنه او د صنعتي تولید ۶.۹ سلنه وده د اقتصادي ودې د ښه والي دوه ښه زیري دي چې د څېړونکو لخوا د اټکل شویو کچو په پرتله ۰.۰۱ سلنه لوړوالی ښکاره کوي.

۶.۱ ګراف: د چین د ناخالصو کورنیو تولیداتو د ودې کلنی نرخ




سرچینه: د چین د احصائیې ملي اداره

د چین دولت د اقتصادي ودې د ثابت ساتلو په موخه یو لړ مالي اقدامات او هڅوونکي کڅوړې وړاندې کړې څو په روان کال کې لګښتونه کنټرول او پانګونه پیاوړې کړي، خو تمه کېږي چې په راتلونکو ربعو کې به ډېرې کمې اغیزې ولري. د روان کال په لومړیو درېیو ربعو کې د عمومي دولتي بودجې عواید ۳.۳ سلنه زیات شوي چې د مالیې او فیسونو کمولو د پالیسۍ اقدامات یې ستر لاملونه ګڼل کېږي. د دې ترڅنګ، د چین دولت په تیر کال کې د اقتصادي ریفورم په موخه یو شمېر پالیسۍ جوړې کړې چې په پایله کې یې د تیر کال د سوداګریز وضعیت په درجه بندۍ کې د پام وړ ښه والی راغلی او له ۷۸ درجې څخه ۴۶ درجې ته لوړ شوی دی. د سوداګرۍ په اړه د نړیوال بانک د ۲۰۲۰ کال د کلني راپور له مخې، چین په روان کال کې د سوداګرۍ د اتو (۸) ریفورمونو له پلي کولو وروسته، اوس مهال په ۳۱ مقام کې دی.

**۲.۲.۱ د ترکیې اقتصاد**

د ترکیې د احصائیوي انسټیټوټ د شمېرو پر بنسټ، د ترکیې د اقتصادي ودې کچه په ۲۰۱۹ کال کې ۰.۹ سلنې ته رسیږي، حال دا چې دې هېواد په تیر کال کې د پام وړ ۷.۴ سلنه وده کړې وه. همدا ډول، د دې هېواد کورنیو ناخالصو تولیداتو د تیر کال د څلورمې ربعې د ۲.۲ سلنې ودې په پرتله د کال په کال شمېرو پر بنسټ د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ ربعه کې د ۲.۳ سلنه او په دویمه ربعه کې د ۱.۶ سلنه کموالي وروسته په درېیمه ربعه کې ۰.۹ سلنه زیاتوالی موندلی دی. په ورته وخت کې، د ترکیې اقتصاد په ۲۰۱۸ مالي کال کې د اسعارو او د پور کړکیچ تجربه کړې چې د لیرې د ارزښت کمېدو، لوړ انفلاسیون، د جاري حساب زیات کسر او د پورونو زیاتیدو د دې هېواد په اقتصاد د پام وړ اغیزه کړې او په پایله کې یې په ۲۰۱۹ کال کې اقتصادي وده کمه شوې ده. د دې هېواد د ناخالصو کورنیو تولیداتو د ودې اوسنی کچه په ۲۰۱۹ کال کې ۴.۲۸ تریلیونه ترکي لیرو (۷۵۵ میلیارده امریکایي ډالرو) ته رسیږي. همدا ډول، دا شمېرې په ډاګه کوي چې د سړي سر ناخالصو کورنیو تولیداتو د ودې اوسنی کچه ۵۱،۸۳۴ ترکي لیرو (۹،۱۲۷ امریکایي ډالرو) ته رسیږي.

۷.۱ ګراف: د ترکیې د ناخالصو کورنیو تولیداتو د ودې نرخ




سرچینه: د ترکیې احصائیوي انستیتیوت (Turkstats)

همدا ډول، د ارزونې لاندې ربعه کې د کرنې سکتور ۳.۳ سلنه، د صنعت سکتور ۰.۲ سلنه او د خدمتونو سکتور ۱.۵ سلنه وده کړې، حال دا چې د رغونې سکتور وده ۸.۶ سلنې ته راکمه شوې ده.

په ورته وخت کې، په ۲۰۱۹ کال کې د امریکایي ډالرو/ ترکي لیرو د مبادلې اوسط نرخ ۵.۶۸ بدلون شوی دی. د ترکیې دولت د نوي اقتصادي پروګرام له مخې په ۲۰۱۹ کال د اقتصادي ودې هدف ۰.۵ سلنه او په راتلونکو درېیو کلونو کې ۵ سلنه ټاکلی دی. د یاد درې کلن پلان موخه د انفلاسیون کنټرول، د ودې زیاتوالي او د جاري حساب د کسر له منځه وړل په ګوته شوي دي. همدا ډول، د ترکیې دولت پلان لري څو په دې برخه کې ۱۰ میلیارده ډالر ولګوي او د صادراتو د کچې او د اورد مهاله تولیدي

ظرفیت د زیاتولو لپاره په زیات ارزښت لرونکو برخو باندې تمرکز وکړي او تر ۲۰۲۱ کال پورې دوه میلیونه نوې دندې رامنځته کړي.

**۳.۲.۱ د هند اقتصاد**

د هند د اقتصادي ودې کچه په ۲۰۱۹ کال کې ۴.۷ سلنې ته رسیږي چې د دولت لخوا په ۲۰۲۰ کال کې د ۵ سلنه ټاکل شوې کچې او د ۲۰۱۹ مارچ په پای کې د ۶.۸ سلنې ودې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي. د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ ربعه کې یې ۴.۵ سلنه وده ثبت کړې ده، حال دا چې په لومړیو نهو میاشتو (۲۰۱۹ اپریل-ډیسمبر) کې ۵.۱ سلنې ته رسیږي. د دې ترڅنګ، مالي کسر په لومړیو لسو میاشتو کې ۹.۸۵ تریلیونه روپۍ ته رسیږي، حال دا چې د ټول کال د مالي کسر لپاره ټاکل شوی هدف 7.66 تریلیونه روپۍ کېږي. د هند د اقتصادي ودې د کموالي اصلي لاملونه د تولید، صادراتو، لګښتي تقاضا او خصوصي پانګونې کمیدل او د نړیوال اقتصادي او سوداګریز وضعیت کمزورتیا په ګوته شوي دي.

په ورته وخت کې، د اداینو بیلانس د ۲۰۱۹ کال په څلورمه ربعه کې ۲۱.۶ میلیارده امریکایي ډالره زیاتوالی ثبت کړی چې د تیر کال د ورته ربعې د ۴.۳ میلیارده امریکایي ډالرو په پرتله د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي. که څه هم د اداینو په بیلانس کې دا زیاتوالی د تیرې ربعې په پرتله ۵.۱ میلیارده امریکایي ډالره زیات شوی دی.

# ۲

## د بانکي او پولي بازار بدلونونه

## ۲
## د پانګې او پولي بازار بدلونونه

د پولي احصائیو پر بنسټ، پولي زیرمې د ۱۳۹۸ مالي کال په پای کې ۱۱.۶۰ سلنه وده ثبت کړې چې د تیر کال د منفي ۰.۴ سلنې ودې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. په ګردښت کې پیسې د پولي زیرمو د بنسټیزې برخې په توګه د ۱۳۹۸ مالي کال له پیل څخه تر پایه پورې ۱۳.۶۵ سلنه وده ثبت کړې ده.

پولي زیرمې چې د افغانستان بانک د پولي سیاست او عملیاتي هدف اساسي ابزار جوړوي، له ټاکل شویو هدفونو څخه ډېرې ټیټې شوي دي. حال دا چې په ګردښت کې پیسې د ۱۳۹۸ مالي کال په پای کې د لنډې مودې لپاره له ټاکل شویو هدفونو څخه لوړې شوي دي چې د نویو بانکنوټونو خپرول، د دولت د لګښتونو زیاتیدل او د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د پانګه ایزو پانو د ورکړل شوې کچې کمیدل یې ستر لاملونه په ګوته شوي دي.

د محدوده مفهوم په توګه پیسې (M1) د ارزونې لاندې کال په پای کې ۴۷۹،۸۹۶ میلیونه افغانۍ ته رسیږي چې ۶ سلنه وده ښکاره کوي. د پراخه مفهوم په توګه پیسې (M2) هم ورته بهیر درلودلی دی چې د ۱۳۹۸ مالي کال په پای کې یې کچه ۵۱۳،۷۵۹.۳۲ میلیونه افغانۍ ته رسیږي او ۵.۷۰ سلنه وده ښکاره کوي.

د افغانستان بانک د اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې د نرخ له حده زیات څپانډتیاوو د راکمولو او په بازار کې د نقدینګۍ د مدیریت کولو لپاره د ازاد بازار تر عملیاتو لاندې د اسعارو او پانګه ایزو پاڼو له لیلام څخه کار اخلي.

د افغانستان بانک د ۱۳۹۸ مالي کال له پیل راهیسې د همدې کال تر پایه پورې په ټولیزه توګه ۲،۴۳۰.۴۰۴ میلیونه امریکایي ډالره لیلام کړي، څو په بازار کې له حده زیات سیالیت د مدیریت ترڅنګ د اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې د نرخ چټک څپ څپاندتیاوې (نوسانونه) راکم کړي. د پانګه ایزو پاڼو ټولیزه ناترلاسه شوې کچه د ۱۳۹۸ مالي کال په پای کې ۲۴.۹۰۵ میلیارده افغانۍ ته رسیږي. په ورته وخت کې، د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د ډالرو پر وړاندې د افغانۍ ارزښت ۴.۶۱ سلنه کم شوی دی.

### ۱.۲ پولي پروګرام

د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې پولي زیرمې د افغانستان بانک د پولي سیاست د یو مهم عملیاتي هدف په توګه او په ګردښت کې پیسې د ضمني هدف په توګه پېژندل شوي دي.

د پولي زیرمو (RM) کره مبلغ چې د کورنیو بیو د ثبات او د افغانستان بانک د لومړنیو موخو په ترلاسه کولو کې مرسته کوي، د پیسو د مقداري تیورۍ په کارولو سره ټاکل کیږي.

له همدې کبله، د پولي زیرمو او په ګردښت کې د پیسو لپاره ټاکل شوي هدفونه د اړونده مودې په اوږدو کې د اقتصادي ودې او انفلاسیون د متوقع نرخ پر بنسټ ټاکل کیږی. په ۱۳۹۸ مالي کال کې د پولي زیرمو او په ګردښت کې د پیسو وده ۱۲ سلنه ټاکل شوې ده.

د یادولو وړ ده چې په ۱۳۹۸ مالي کال کې د پولي زیرمو حقیقي وده ۱۱.۶۰ سلنه او په ګردښت کې د پیسو حقیقي وده ۱۳.۶۵ سلنه په ګوته شوې ده. د افغانستان بانک په بازار کې د اضافي نقدینه ګۍ د مدیریت کولو او د اسعارو

پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې د نرخ له حده زیات ځپ ځپاندتیاوو (نوسانونو) د راکمولو لپاره د ازاد بازار د عملیاتو له لارې ۲،۴۳۰.۴۰۴ میلیونه امریکایي ډالره لیلام کړي دي.

۱.۲ او ۲.۲ ګرافونه د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې لوړه کچه او د پولي زیرمو او په ګردښت کې د پیسو حقیقي مبلغونه ښکاره کوي.

**۱.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې په ګردښت کې پیسې**




سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۲.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې پولي زیرمې**




سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

### ۲.۲ د نقدینه ګۍ حجم

د محدوده مفهوم په توګه پیسې او د پراخه مفهوم په توګه پیسې د پولي او مالي احصائیو د لارښود او د معلوماتو د راټولونې د لارښوونې پر بنسټ راټولیږي. د محدوده مفهوم په توګه پیسې (M1) له امانت اېښودونکو شرکتونو څخه بهر اسعار او جاري امانتونه رانغاړي، حال دا چې د پراخه مفهوم په توګه پیسې (M2) په ترکیب کې د محدوده مفهوم په توګه د پیسو اجزاوې او داسې نورې لږې سیالې شتمنۍ یا پیسه وزمه شاملې دي.

۳.۲ جدول ښکاره کوي چې د محدوده مفهوم په توګه پیسې (M1) د ۱۳۹۸ مالي کال په پای کې ۶ سلنه زیاتوالی کړی چې د ۱۳۹۷ مالي کال په پرتله لږ څه زیاتوالی ښکاره کوي. له امانت اېښودونکو شرکتونو څخه بهر اسعار یا په ګردښت کې پیسې چې د محدوده مفهوم په توګه پیسو ۵۲ سلنه جوړوي، ۱۳.۶۵ سلنه وده کړې چې د تېر کال د ۰.۳ سلنې منفي ودې په پرتله د زیاتوالي په درلودلو سره ۳۰،۰۲۸ میلیونه افغانۍ توپیر ښکاره کوي. په ګردښت کې د پیسو د زیاتیدو اصلي لامل د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې د دولت د لګښتونو ترځنګ د نویو بانکنوټونو خپرول په ګوته شوي دي.

جاري امانتونه چې د محدوده مفهوم په توګه د پیسو نورې برخې جوړوي، د ۱۳۹۸ مالي کال په پای کې ۱.۵۵ سلنه وده تجربه کړې، حال دا چې په تېر کال کې یې ۸ سلنه وده درلودلې ده. په ورته وخت کې جاري امانتونه د تېر کال په پرتله ۳،۶۱۲ میلیونه افغانۍ ته راټیټ شوي دي.

د پراخه مفهوم په توګه د پیسو (M2) کچه د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې ۵۱۳،۷۵۹.۳۲ میلیونه افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ۴۸۶،۰۳۴.۱۸۰ میلیونه افغانۍ په پرتله ۵.۷۰ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي، خو د تیر کال د ورته مودې د ۲.۶ سلنې ودې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. په ګردښت کې د پیسې زیاتیدل د پراخه مفهوم په توګه پیسو د زیاتوالي اصلي لامل ګڼل کیږي.

**۳.۲ ګراف: خالصې بهرنۍ شتمنۍ، خالصې داخلي شتمنۍ او د پراخه مفهوم په توګه پیسې (M2)**




سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

شمېرې ښکاره کوي چې د محدوده مفهوم په توګه پیسې (M1) د پراخه مفهوم په توګه پیسو (M2) تر ټولو ستره برخه ۹۳.۴۱ سلنه جوړوي. پیسه وزمه (Quasi Money) یا نور امانتونه چې د پراخه مفهوم په توګه د پیسو(M2) بله برخه جوړوي، په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۴.۰۲ سلنه مثبته وده درلودلې ده. پیسه وزمه د ارزونې لاندې کال په پای کې د پراخه مفهوم په توګه پیسو ۶.۵۹ سلنه جوړوي چې د تېر مالي کال د ۶.۷۰ سلنه ودې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي. له همدې امله، د پراخه مفهوم په توګه پیسو (M2) باندې د هغه د بدلون اغېزه ډېره کمه ده.

په افغانۍ موده ایزه امانتونو کې کال په کال بدلون ۷،۲۶۷ میلیونه افغانۍ ته رسیږي چې ۲۵.۴۸ سلنه منفي وده ښکاره کوي، حال دا چې د اسعارو د موده ایزه امانتونو وده د ۱۳۹۸ مالي کال په پای کې ۲۶،۵۹۶ میلیونه افغانۍ ته رسیږي چې ۱۶.۶۳ سلنه وده ښکاره کوي.

د افغانۍ موده ایزه امانتونو د کموالي او د اسعارو د موده ایزه امانتونو د زیاتوالي اصلي لامل د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د اسعارو د مبادلې د نرخ بې ثباتي او د امریکایي ډالر پر وړاندې د افغانۍ د ارزښت کموالی ګڼل کېږي. دا څپاندتیاوې د دې لامل شوي څو خلک د افغانۍ بانکي حسابونو په پرتله په اسعاري حسابونو کې خپلې پیسې د امانتونو په ډول وساتي. د افغانۍ موده ایزه امانتونه او د اسعارو موده ایزه امانتونه په ترتیب سره د پراخه مفهوم په توګه پیسو ۱.۴۱ سلنه او ۵.۱۸ سلنه جوړوي. همدا ډول د پراخه مفهوم په توګه پیسو (M2) د ونډې په توګه جاري امانتونه د ارزونې لاندې کال په پای کې ۴۴.۷۶ سلنې ته رسیږي (د زیاتو معلوماتو لپاره د ۴.۲ ګراف ته مراجعه وکړئ).

**۴.۲ ګراف: ګردښت کې پیسې، جاري امانتونه او پیسه وزمه د پراخه مفهوم په توګه پیسو د ونډې په توګه (سلنه)**




سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۱.۲ جدول: د ۱۳۹۸ مالي کال د نقدینه ګی حجم (۱۳۹۷/۷/۲۹ نه تر ۱۳۹۸/۱۲/۲۱ پورې)**

| په میلیون افغانی | د ۲۰۱۷ کال سپټمبر | د ۲۰۱۸ کال سپټمبر | کال په کال د سلنې بدلون | توپیر | د ۲۰۱۹ کال ډیسمبر | کال په کال د سلنې بدلون | توپیر |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | څلورمه ربعه | څلورمه ربعه | | | څلورمه ربعه | | |
| | مبلغ | مبلغ | | | مبلغ | | |
| **۱- خالصه بهرنی شتمنی** | ۶۵۱،۲۱۹ | ۷۳۷،۸۶۱ | ۱۳.۳٪ | ۸۶،۶۴۲ | ۷۹۰،۴۱۴ | ۷.۱۲٪ | ۵۲،۵۵۳ |
| (الف) بهرنی شتمنی | ۶۶۸،۳۶۱ | ۷۵۱،۱۲۵ | ۱۲.۴٪ | ۸۲،۷۶۴ | ۸۰۰،۷۷۵ | ۶.۶۱٪ | ۴۹،۶۴۹ |
| د افغانستان بانک بهرنی اسعارو زیرمې | ۵۵۹،۶۲۱ | ۶۱۵،۱۲۳ | ۹.۹٪ | ۵۵،۵۰۲ | ۶۶۷،۸۹۷ | ۸.۵۸٪ | ۵۲،۷۷۴ |
| سره زر | ۶۱،۶۸۱ | ۶۶،۱۷۹ | ۷.۳٪ | ۴،۴۹۸ | ۸۱،۵۸۰ | ۲۳.۲۷٪ | ۱۵،۴۰۱ |
| نور | ۴۹۷،۹۴۰ | ۵۴۸،۹۴۴ | ۱۰.۲٪ | ۵۱،۰۰۴ | ۵۸۶،۳۱۸ | ۶.۸۱٪ | ۳۷،۳۷۳ |
| نورې بهرنی شتمنی | ۱۰۸،۷۴۰ | ۱۳۶،۰۰۲ | ۲۵.۱٪ | ۲۷،۲۶۲ | ۱۳۲،۸۷۷ | -۲.۳۰٪ | -۳،۱۲۵ |
| (ب) بهرنی پوراینې | ۱۷،۱۴۲ | ۱۳،۲۶۵ | -۲۲.۶٪ | -۳،۸۷۸ | ۱۰،۳۶۱ | -۲۱.۸۹٪ | -۲،۹۰۴ |
| **۲. خالصه کورنی شتمني** | -۱۷۴،۶۴۳.۳۹ | -۲۴۹،۰۲۷.۰۱ | ۴۲.۶٪ | -۷۴،۳۸۴ | -۲۷۴،۰۱۰.۴۸ | ۱۰.۰۳٪ | -۲۴،۹۸۳ |
| (الف) خالص کورنی کریډټ | -۳۶،۰۲۸ | -۷۶،۲۸۴ | ۱۱۱.۷٪ | -۴۰،۲۵۶ | -۷۴،۶۷۸ | -۲.۱۱٪ | ۱،۶۰۶ |
| د غیر مالي عامه سکتور لپاره خالص کریډټ | -۸۴،۰۵۴ | -۱۲۱،۹۰۶ | ۴۵.۰٪ | -۳۷،۸۵۳ | -۱۲۱،۶۷۸ | -۰.۱۹٪ | ۲۲۸ |
| د مرکزي حکومت لپاره خالص کریډټ | -۸۴،۱۴۸ | -۱۲۲،۰۰۱ | ۴۵.۰٪ | -۳۷،۸۵۳ | -۱۲۲،۲۶۳ | ۰.۲۱٪ | -۲۶۲ |
| د مرکزي حکومت لپاره کریډټ | ۱۵،۳۳۹ | ۷،۱۸۵ | -۵۳.۲٪ | -۸،۱۵۴ | ۱۸۱ | -۹۷.۴۹٪ | -۷،۰۰۴ |
| د مرکزي حکومت لپاره پوراینې | ۹۹،۴۸۷ | ۱۲۹،۱۸۵ | ۲۹.۹٪ | ۲۹،۶۹۹ | ۱۲۲،۴۴۳ | -۵.۲۲٪ | -۶،۷۴۲ |
| د مرکزي او سیمه ایز حکومت لپاره خالص کریډټ | ۰.۰۰۰ | ۰.۰۰۰ | ۰.۰٪ | ۰ | ۰.۰۰۰ | ۰.۰۰٪ | ۰ |
| د عامه غیر مالي شرکتونو لپاره خالص کریډټ | ۹۴ | ۹۴ | ۰.۰٪ | ۰ | ۵۸۵ | ۵۱۹.۳۷٪ | ۴۹۰ |
| د خصوصي سکتور لپاره کریډټ | ۴۹،۳۸۶ | ۴۶،۶۳۳ | -۵.۶٪ | -۲،۷۵۳ | ۴۷،۴۶۷ | ۱.۷۹٪ | ۸۳۵ |
| د نورو مالي شرکتونو لپاره خالص کریډټ | -۱،۳۶۱ | -۱،۰۱۱ | -۲۵.۷٪ | ۳۵۰ | -۴۶۸ | -۵۳.۷۴٪ | ۵۴۳ |
| (ب) د پانګې حسابونه | ۱۵۵،۸۴۲ | ۱۸۹،۹۳۵ | ۲۱.۹٪ | ۳۴،۰۹۳ | ۲۱۳،۹۷۳ | ۱۲.۶۶٪ | ۲۴،۰۳۸ |
| (ت) نور خالص اقلام | ۱۷،۲۲۷ | ۱۷،۱۹۳ | -۰.۲٪ | -۳۴ | ۱۴،۶۴۱ | -۱۴.۸۴٪ | -۲،۵۵۲ |
| **۳. د پراخه مفهوم په توګه پیسې** | ۴۷۳،۸۳۶.۸۹۰ | ۴۸۶،۰۳۴.۱۸۰ | ۲.۶٪ | ۱۲،۱۹۷ | ۵۱۳،۷۵۹.۳۲ | ۵.۷۰٪ | ۲۷،۷۲۵ |
| د محدوده مفهوم په توګه پیسې | ۴۳۶،۷۴۸ | ۴۵۳،۴۸۰ | ۴٪ | ۱۶،۷۳۲ | ۴۷۹،۸۹۶ | ۶٪ | ۲۶،۴۱۷ |
| په ګردښت کې پیسې (هغه پیسې چې له امانت اېښودونکو شرکتونو څخه بهر دي) | ۲۲۰،۵۰۷ | ۲۱۹،۹۱۱ | -۰.۳٪ | -۵۹۵ | ۲۴۹،۹۴۰ | ۱۳.۶۵٪ | ۳۰،۰۲۸ |
| جاري امانتونه | ۲۱۶،۲۴۲ | ۲۳۳،۵۶۸ | ۸.۰٪ | ۱۷،۳۲۷ | ۲۲۹،۹۵۷ | -۱.۵۵٪ | -۳،۶۱۲ |
| نور امانتونه (پیسه وزمه) | ۳۷،۰۸۸.۷۳۹ | ۳۲،۵۵۴.۴۴۴ | -۱۲.۲٪ | -۴،۵۳۴ | ۳۳،۸۶۲.۸۹۳ | ۴.۰۲٪ | ۱،۳۰۸ |
| په افغانی امانتونه | ۱۲،۸۲۷ | ۹،۷۵۲ | -۲۴.۰٪ | -۳،۰۷۶ | ۷،۲۶۷ | -۲۵.۴۸٪ | -۲،۴۸۵ |
| په بهرنیو اسعارو امانتونه | ۲۴،۲۶۲ | ۲۲،۸۰۳ | -۶.۰٪ | -۱،۴۵۹ | ۲۶،۵۹۶ | ۱۶.۶۳٪ | ۳،۷۹۳ |
| له ونډو پرته بیه لرونکې پاڼې | ۰.۰۰۰ | ۰.۰۰۰ | ۰.۰۰۰ | ۰.۰۰۰ | ۰.۰۰۰ | ۰.۰۰۰ | ۰.۰۰۰ |

سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

### ۳.۲ خالصه نړیوالې زیرمې

د افغانستان بانک په نړیوالو زیرمو کې سره زر، د پیسو له نړیوال صندوق سره د پور زیرمه او ونډه، د برداشت ځانګړی حق (SDR) او همدا ډول مهم اسعار لکه امریکایي ډالر، یورو، انګلیسي پونډ او نور شامل دي. د افغانستان خالصې نړیوالې زیرمې چې په امریکایي ډالرو څرګندیږي، د شتمنۍ هغه زیرمې دي چې د پوراینې زیرمې ترې منفي شوي دي.

خالصه نړیوالې زیرمې د ۱۳۹۸ مالي کال په پای کې ۱۴۱.۰۸ میلیونه امریکایي ډالره (۱.۸۳) سلنه لږ څه زیاتوالی ښکاره کوي. د خالصو نړیوالو زیرمو کچه د روان کال لپاره ۷،۷۰۴.۹۸ میلیونه امریکایي ډالره ټاکل شوې وه، حال دا چې د خالصه نړیواله زېرمو حقیقي کچه د ارزونې لاندې موده کې ۷،۸۴۶.۰۷ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي.

۵.۲ ګراف د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د خالصو نړیوالو زیرمو حقیقي کچه او ټاکل شوی هدف ښکاره کوي.

۵.۲ ګراف: د۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د خالصه نړیوالو زیرمو حقیقي کچه او هدف




سرچینه: پولي برخه، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

### ۴.۲ د اسعارو د مبادلې بازار

#### ۱.۴.۲ د اسعارو د مبادلې نرخونه

د افغانستان بانک وروستی موخه د بیو د ټیکاو ساتل دي، خو د افغانستان بانک د خپل اصلي هدف ترڅنګ د ازاد بازار د عملیاتو له لارې په ګټوره توګه د پالیسي په تطبیقولو سره د پولي ابزارونو سمې کارونې ته هم پاملرنه کوي. د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د افغانی ارزښت د پاکستاني روپۍ او ایراني تومان پر وړاندې لوړ شوی دی، خو د افغانۍ ارزښت د نړیوالو اسعارو لکه انګلیسي پونډ، یورو، سویسي فرانک، امریکایي ډالرو، د اماراتو د درهم، هندۍ روپۍ، چینایي ین او سعودي ریال پر وړاندې ټیټ شوی دی. په ۱۳۹۸ مالي کال کې د امریکایي ډالرو او نورو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنۍ منځنۍ نرخ په لاندې ګرافونو کې وړاندې کیږي.

۶.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنۍ منځنۍ نرخ




سرچینه: پولي برخه، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

۷.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د انګلیسي پونډ او یورو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنۍ منځنۍ نرخ




سرچینه: پولي برخه، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

۸.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د هندی روپی او پاکستانی روپی پر وړاندې د افغانی د مبادلې ورځنی منځنی نرخ




سرچینه: پولي برخه، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

۹.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د ایراني تومان پر وړاندې د افغانی د مبادلې ورځنی منځنی نرخ




سرچینه: پولي برخه، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

### ۲.۴.۲ د اسعارو لیلام

د افغانستان بانک؛ په داخلي بازار کې د بیو د ټیکاو ساتلو او د پیسو د عرضې د کنټرولولو په موخه د پولي زیرمو د ودې کچه لوړه ساتي او په همدې موخه په اونی کې درې ځلې د اسعارو لیلام او په اوونی کې یو ځلي د پانګه ایزو پاڼو لیلام ترسره کوي چې د افغانستان بانک له هغه څخه د عمده پولي ابزارونو په توګه کار اخلي. د افغانستان بانک په دوامداره توګه د اسعارو لیلام ترسره کوي، څو له بازار څخه اضافي نقدینه ګي لرې کړي او د بهرنیو اسعارو په ځانګړې توګه د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانی د مبادلوي نرخ د زیاتو څپ ځپاندتیاوو (نوسانونو) مخه ونیسي.

د افغانستان بانک د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې په ټولیزه توګه ۲،۴۳۰.۴۰ میلیونه امریکایي ډالره لیلام کړي دي، په داسې حال کې چې په همدې موده کې ټولیزه تقاضا ۵،۷۷۹.۲۱ میلیونه امریکایي ډالره وه. په منځنی توګه په هر لیلام کې ۵۶ داوطلبانو ګډون کړی او له دې ډلې ۴۲ داوطلبان ګټونکي اعلان شوي دي چې په هر لیلام کې په منځنۍ ډول ۱۶.۲۰ میلیونه امریکایي ډالره پلورل شوي دي او په ټولیزه توګه ۱۸۹.۲۵ میلیارده افغانی له بازار څخه راټولې شوي دي. همدا ډول، د خپرو شویو شمېرو له مخې د تیر مالي کال تر پایه پورې د لیلام شویو پیسو ټولیزه کچه ۲،۴۱۵.۵۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیده، حال دا چې ټولیزه تقاضا ۳،۳۶۱.۱۵ میلیونه امریکایي ډالره وه. د روان مالي کال په اوږدو کې په ټولیزه توګه په هر لیلام کې په منځنی ډول۵۲ داوطلبانو ګډون کړی ؤ چې له دې ډلې۴۰ ګټونکو داوطلبانو ته په هر لیلام کې په منځنی ډول ۱۸ میلیونه امریکایي ډالر ورکړل شوي چې په ټولیزه توګه ۱۷۴.۸۳ میلیارده افغانی له بازار څخه ویستل شوي دي.

۱۰.۲ ګراف په ۱۳۹۸ مالي کال کې د امریکایي ډالرو د لیلام له لارې ورکړل شوی او د تقاضا مبلغ ښکاره کوي.

۱۰.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د امریکایي ډالرو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ




سرچینه: پولي برخه، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

## ۵.۲ د ازاد بازار کړنې او د سیالیت شرایط

### ۱.۵.۲ د پانګه ایزو پاڼو لیلام

پانګه ایزې پاڼې، د افغانۍ لنډمهاله بیه لرونکې پاڼې دي چې د افغانستان بانک لخوا د لومړني بازار پر مشتریانو او ډېرې جواز لرونکو سوداګریزو بانکونو باندې په اوونۍ کې یو ځل پلورل کېږي. د افغانستان بانک له پانګه ایزو پاڼو څخه د پولي ابزار په توګه کار اخلي، څو د پیسو د عرضې وده مدیریت کړي. پانګه ایزې پاڼې د سوداګریزو بانکونو د اضافي نقدینه ګۍ د جذبولو لپاره کارول کېږي. اوس مهال، د افغانستان بانک د یوې اوونۍ، یوې میاشتې، درېیو میاشتو، شپږو میاشتو او د یو کال مودو د پای ته رسیدو پانګه ایزې پاڼې بازار ته وړاندې کوي.

د ۱۳۹۸ مالي کال په پای کې د پانګه ایزو پاڼو ټولیزه ناترلاسه شوې ونډه ۲۴.۹۰ میلیارده افغانۍ ته رسېږي چې د تېر کال د ۳۳.۷۲ میلیارده افغانۍ په پرتله ۸.۸۲ میلیارده افغانۍ کموالی ښکاره کوي. د نا ترلاسه شوې ونډې د کمیدو اصلي لامل د پانګه ایزو پاڼو د پلورلو د کچې کموالی او د ټکټانې د نرخ لوړوالی په ګوته شوی دی.

د ۷ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو ناترلاسه شوې ونډه ۱.۶ میلیارده افغانۍ، د ۲۸ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو نا ترلاسه شوې ونډه ۲.۶ میلیارده افغانۍ او د ۹۱ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو نا ترلاسه شوې ونډه ۶.۹۲ میلیارده افغانۍ، د ۱۸۲ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو نا ترلاسه شوې ونډه ۹.۶۱ میلیارده افغانۍ او د ۳۶۴ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو نا ترلاسه شوې ونډه ۴.۱۷ میلیارده افغانۍ افغانۍ ثبت شوې ده. د دې ترڅنګ، د ارزونې لاندې کال په پای کې د پانګه ایزو پاڼو پر وړاندې ټولیزه ورکړل شوې ټکټانه ۱۶۶.۸۵ میلیونه افغانۍ ته رسیږي.

سربېره پر دې، د ۱۳۹۸ مالي کال له پیل څخه تر پایه پورې د ۷ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو د عیار شوې ټکټانې منځنۍ نرخ ۰.۵۰ سلنه، د ۲۸ ورځنیو بیه لرونکو پاڼو نرخ ۰.۸۳ سلنه، د ۹۱ ورځنیو پاڼو نرخ ۱.۱۶ سلنه، د ۱۸۲ ورځنیو پاڼو نرخ ۱.۴۰ سلنه د ۳۶۴ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو د ټکټانې نرخ ۲.۱۹ سلنه بدلون شوی چې د تیر کال په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي.

**۱۱.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د پانګه ایزو پاڼو ناترلاسه شوې ونډه**




سرچینه: پولي برخه، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۱۲.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د اووه ورځنیو پانګه ایزو پاڼو ورکړل شوی او د تقاضا مبلغ**




سرچینه: پولي برخه، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۱۳.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د ۲۸ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ**




سرچینه: پولي برخه، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۱۴.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د ۹۱ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ**




سرچینه: پولي برخه، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۱۵.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د ۱۸۲ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ**




سرچینه: پولي برخه، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۱۶.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د ۳۶۴ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ مبلغ**




سرچینه: پولي برخه، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

### ۲.۵.۲ الزامي او اضافي زیرمې

سوداګریزه بانکونه اړ دي چې د خپلو ټولو امانتونو ۸ سلنه د افغانستان بانک په افغانیو حسابونو او ۱۰ سلنه په اسعاري حسابونو کې د الزامي زیرمې په توګه وساتي. د نویو مقرراتو پر بنسټ الزامي زیرمې په افغانی او بهرنیو اسعارو ساتل کیږي، حال دا چې په تیر وخت کې یوازې په افغانی ساتل کیدې. د پورتنیو امانتونو په بدل کې سوداګریزو بانکونو ته هیڅ ډول ټکټانه نه ورکول کیږي. تر لاسه شوي معلومات ښکاره کوي چې د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې دا ټکټانه ۵،۷۳۴.۴۳ میلیونه افغانی، ۲۰۲.۰۵ میلیونه امریکایي ډالره او ۱۵.۶۱ میلیونه یورو ثبت شوې ده.

- **د شپنې امانتونو اسانتیا:** دا اسانتیا ټولو سوداګریزو بانکونو لپاره برابره شوې، څو له خپلو اضافي بیلانسونو څخه ټکټانه ترلاسه کړي. د شپنې امانتونو د اسانتیا د ټکټانې نرخ اوس مهال ۰.۱ دی. ( د یادونې وړ ده چې دا نرخ د ۲۰۱۷ کال د سپتمبر په ۱۱ نېټه د افغانستان بانک د عالي شورا لخوا د منظور شوي متحد المال پر بنسټ په ټولو بانکونو باندې د اجراء وړ دی).

د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د شپنې امانتونو د اسانتیاوو ناترلاسه شوی مبلغ ۸،۲۱۵.۶۳ میلیونه افغانی ثبت شوی دی او په ورته موده کې د یادو اسانتیاوو په بدل کې د ورکړل شوې ټکټانې نرخ ۸.۳۰ میلیونه افغانی ته رسیږي.

- **د شپنې پور اسانتیا:** دا اسانتیاوې د سوداګریزو بانکونو لخوا د لنډ مهاله نغدي اړتیاوو لپاره کارول کېږي او بانکونو ته په هغه صورت کې اجازه ورکوي چې د نغدي جریان له کمښت سره مخ شي او اړتیا ولري چې د شپنې پور د اسانتیاوو پر بنسټ له د افغانستان بانک څخه په افغانیو پور ترلاسه کړي. کوم مبلغ چې له بانکونو څخه د دې اسانتیا په بدل کې ګرځول کیږي د تېرو ۲۸ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو د لیلام له مبلغ څخه ۳.۵ سلنه لوړ دی. دا پور اخیستنه یوازې د پانګه ایزو پاڼو د ناتصفیه شوي مبلغ په مرسته تضمین کېږي. د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې هیڅ بانک د شپنې پور له اسانتیا څخه برخمن شوی نه دی.

# ۳

## د انفلاسيون بهير او ليد لوری

## ۳

## د انفلاسیون بهیر او لید لوری

### ۱.۳ نړیوالو سوداګریزو توکو ته لنډه کتنه

د تیلو یو بیرل بیه په ۱۳۹۸ مالي کال کې په منځني ډول ۶۱ امریکایي ډالرو ته رسیدلې چې د تیر کال په پرتله ۱۰ سلنه او د پخوانیو اټکلونو په پرتله په یوه بیرل کې ۵ امریکایي ډالره ټیټوالی ښکاره کوي. د تیلو د بیو د بیرته لوړولو لپاره د تیلو د صادرونکو هېوادونو د سازمان (OPEC) او همکارو هېوادونو لخوا د تیلو په تولید کې کمښت راغلی او په دې توګه د تیلو بیې بیرته لوړې شوي دي چې د ۲۰۱۹ کال د جنوري له میاشتې راپدېخوا د ورځې د ۱.۲ میلیونه بیرله تیلو د تولید د کمولو سربیره د همدې کال په ډیسمبر میاشت کې د ورځې د ۰.۵ میلیون بیرله تیلو د تولید د کمښت پرېکړه یې د یادونې وړ ده.

همدا ډول، د ایران د اسلامي جمهوریت د تیلو پر تولید د یو لړ جیوفولیټیکي او داخلي عواملو له کبله فشارونه راغلي دي. که څه هم دا فشارونه د تیلو د تقاضا په کمېدو سره له منځه تللي چې د تقاضا د اټکلونو په ټیټېدونکي بهیر کې په ډاګه شوي دي. د تیلو د بیو وړاندوینې په ډاګه کوي چې د تیلو د یوه بیرل بیه به په ۲۰۲۰ او ۲۰۲۱ کلونو کې په منځني ډول ۵۹ امریکایي ډالرو ته ورسیږي.

همدا ډول اټکل کیږي چې د ۲۰۲۰ کال په اوږدو کې به د تیلو عرضه د امریکې متحده ایالتونو لخوا د نوي پایپ لاین د فعالیدو له امله زیاتوالی ومومي. د دې وړاندوینې پر وړاندې تر ټولو لوړ خطر د اقتصادي ودې ډیر کموالی ګڼل کیږي. اوس مهال اټکل کیږي چې په ۲۰۲۰ کال کې به د تیلو په لګښت کې یوازې ۱ سلنه زیاتوالی راشي چې په تیر وخت کې په نړیواله کچه د تیلو د کمښت پر مهال د تیلو د نړیوالې تقاضا له زیاتیدو سره د پرتلنې وړ دی. د دې اټکل پر وړاندې یو جدي او لوړ خطر د امریکا او چین ترمنځ په سوداګریزو تړنګلتیاوو کې د پام وړ کموالی بلل کیږي چې دا چاره د تیلو د تقاضا د زیاتیدو هیلې نورې هم زیاتوي.

په ورته وخت کې، د مهمو فلزونو بیې د ۲۰۱۹ کال په دویمه نیمایي کې راټیټې شوي چې د نړیوالې ودې او سوداګریزو فشارونو د کموالي ښکارندویي کوي. همدا ډول اټکل کیږي چې د ۲۰۲۰ کال په اوږدو کې به د فلزونو بیې راټیټې شي چې د صنعتي توکو د تقاضا زیاتوالی یې اصلي لامل ګڼل کیږي. د دې ترڅنګ، د امریکا او چین ترمنځ د سوداګریزو ترینګلتیاوو د پام وړ کموالی د تیلو په څېر د فلزونو د بیو د اټکلونو پر وړاندې یو لوړ خطر دی. همدا ډول، د کرنیزو توکو بیې د ۲۰۱۹ کال په دویمه نیمایي کې راکمې شوي دي چې د هوا د حالاتو د ښه کیدو له امله د غلو دانو د ګودامونو زیاتوالی یې اصلي لامل ګڼل کیږي. اټکل کیږي چې په ۲۰۲۰ کال کې د کرنیزو توکو بیې ثابتې پاتې شي او د بیو د اټکل پر وړاندې خطرونه یې تر ډیره په متوازن حالت کې دي.

### ۲.۳ په افغانستان کې د لګښتي توکو بیې

اوس مهال په افغانستان کې د لګښتي توکو د بیو شاخص د ۲۰۱۵ کال د اپریل میاشتې د بیو پر بنسټ په پام کې نیول کیږي، حال دا چې دا شاخص د ۲۰۱۱ کال د مارچ میاشتې د بیو پر بنسټ محاسبه کیده. په همدې ترتیب په دې نوي سنجش کې د لګښتي توکو د بیو د شاخص اجزاوې د نویو عواملو په پام کې نیولو سره عیاریږي. د احصائیې او معلوماتو د ملي ادارې او د افغانستان بانک د څېرنیزو معلوماتو له مخې، په ۱۳۹۸ مالي کال کې د افغانستان د لګښتي توکو د بیو په شاخص کې دا پایلې لیدل شوي دي:

د لګښتي توکو بيې د کال په کال بدلونونو پر بنسټ په ۱۳۹۸ مالي کال کې د انفلاسيون نرخ په منځني ډول ۲.۳۱ سلنې ته رسيږي چې د تير کال د ۰.۶ سلنه ثبت شوي نرخ په پرتله زياتوالی په ګوته کوي. د انفلاسيون نرخ د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې د کال په کال پرتلې په څير د ربعې په ربعې پرتلې له مخې هم ټيټوالی ښکاره کوي. د ۱۳۹۸ کال د شمېرو شننه ښکاره کوي چې د انفلاسيون نرخ د ۱۳۹۸ مالي کال په څلورمه ربعه کې په منځني ډول ۱.۷۱ سلنې ته رسيږي چې د تير کال د ورته ربعې د ۰.۸۹ سلنې په پرتله زياتوالی په ګوته کوي.

د کابل د لګښتي توکو د بيو د شاخص انفلاسيون په ۱۳۹۸ مالي کال کې په منځني ډول ۲.۰۸ سلنې ته رسيږي چې د تير کال د ورته ربعې د ۱.۳۹ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله زياتوالی ښکاره کوي. په پلازمينه کابل کې (د ربعې په ربعې شمېرو پر بنسټ) د لګښتي توکو د بيو د شاخص انفلاسيون د ۱۳۹۸ مالي کال په څلورمه ربعه کې په منځني ډول ۱.۰۹ سلنې ته رسيږي چې د تير کال د ورته ربعې ۱.۴۸ سلنې په پرتله ټيټوالی ښکاره کوي.

**۱.۲.۳ په ملي عمومي انفلاسيون کې بدلونونه ( کلني بدلونونه)**

د لګښتي توکو د بيو عمومي شاخص د کال په کال سنجش او ارزونې له مخې د تير کال په پرتله په ۱۳۹۸ مالي کال کې د پام وړ زياتوالی کړی دی. د شته شمېرو پر بنسټ، د کال په کال سنجش له مخې د ملي عمومي انفلاسيون نرخ د تير کال د ورته ربعې د ۰.۶۵۵ سلنې په پرتله په ۱۳۹۸ مالي کال کې په منځني ډول ۲.۳۱ سلنې ته لوړ شوی دی، حال دا چې د مياشتني سنجش له مخې د انفلاسيون نرخ په اکتوبر، نومبر او ډيسمبر مياشتو کې په ترتيب سره ۱.۱ سلنه، ۱.۲۲ سلنه او ۲.۷۷ سلنه ثبت شوی دی.

په ۱۳۹۸ مالي کال کې د خوراکي توکو په شاخص کې د انفلاسيون منځنی نرخ ۵.۸۴ سلنې ته رسيږي چې د تير کال د منفي ۱.۰۴ سلنې په پرتله لوړوالی ښکاره کوي. په پورته ياد شوي شاخص کې د انفلاسيون د نرخ د زياتوالي ستر لاملونه د ډوډۍ او حبوباتو، غوښې، تازه او وچې مېوې، سبزيجاتو، بورې او خوږو توکو، اچارو او غير الکولي مشروباتو د بيو لوړېدل په ګوته شوي دي.

په دې شاخص کې د اچارو، بورې او خوږو توکو په بيو کې خورا زيات لوړوالی ثبت شوی دی چې په منځني ډول د تير کال د منفي ۱۶.۷۳ سلنې او منفي ۶.۶۸ سلنې په پرتله په ترتيب سره ۱۶.۴ سلنه او ۵.۶۱ سلنه زياتوالی ښکاره کوي.

له بلې خوا، د غوړو او شحمياتو د بيو په شاخص کې ټيټوالی راغلی دی چې په منځني ډول د تير کال د منفي ۰.۶۲ سلنې په پرتله منفي ۲.۲۳ سلنه ټيټوالی ښکاره کوي.

**۱.۳ ګراف: ملي عمومي انفلاسيون (د کال په کال شمېرو پر بنسټ)**




سرچينه: د احصائيې او معلوماتو ملي اداره/ د پولي سياست آمريت

د نا خوراکي توکو په کټګورۍ کې د تنباکو، کور جوړونې، ټرانسپورټ، اړيکو او ښوونې او روزنې د بيو د کمېدو له امله د انفلاسيون نرخ ټيټ شوی دی، حال دا چې د پوښاک، فرنيچرو او کورنيو توکو، روغتيا، معلوماتو

او کلتور او ریسټورانټونو او هوټلونو د لوړو بیو له امله د انفلاسیون نرخ لوړ شوی دی.

په ټولیزه توګه په دې کټګورۍ کې د انفلاسیون نرخ په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۰.۹۴ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ۲.۲۹ سلنې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي. په یاده کټګورۍ کې د ټرانسپورټ او کور جوړونې د بیو په شاخصونو کې د پام وړ ټیټوالی لیدل شوی چې د تیر کال د ورته مودې د ۶.۵۵ سلنې او ۱.۴۹ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله په ۱۳۹۸ مالي کال کې په ترتیب سره منفي ۰.۳۶ سلنه او منفي ۲.۴۸ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. له بلې خوا، د پوښاک او معلوماتو او کلتور د بیو شاخص په منځني ډول د تیر کال د ۳.۵۰ سلنې او منفي ۰.۹۹ سلنې په پرتله په ۱۳۹۸ مالي کال کې په ترتیب سره ۵.۵۴ سلنې او ۳.۵۰ سلنې ته لوړ شوی دی.

اصلي انفلاسیون هم په ۱۳۹۸ مالي کال کې د تیر کال په پرتله د لوړېدونکی بهیر درلودلی دی. د اوسط موندلو میتود (Trimmed mean) چې د اصلي انفلاسیون عمومي کچه په ګوته کوي، په منځني ډول د تیر کال له ۱.۴۰ سلنې څخه ۲.۸۸ سلنې ته زیات شوی دی. د دې ترڅنګ، د لګښتي توکو د بیو د شاخص انفلاسیون له ډوډۍ او حبوباتو، غوړیو او شحمیاتو او ټرانسپورټ پرته له منفي ۰.۱۰ سلنې څخه ۲.۰۶ سلنې ته لوړ شوی دی.

**۲.۲.۳ په ملي عمومي انفلاسیون کې بدلونونه (ربعوار بدلونونه)**

انفلاسیون د کلنۍ ارزونې او سنجش په څیر د لنډ مهاله ارزونې او سنجش له مخې هم ورته بهیر ښکاره کړی دی. د ربعوارې ارزونې او سنجش له مخې ملي عمومي انفلاسیون د تیر کال د ۰.۸۹ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله په ۱۳۹۸ مالي کال کې په منځني ډول ۱.۷۱ سلنې ته زیات شوی دی. د عمومی انفلاسیون د ټیټوالي اصلي لامل د خوراکي توکو د بیو لوړوالی په ګوته شوی دی.

له بلې خوا، د نا خوراکي توکو بیې د تیر کال په پرتله په ۱۳۹۸ مالي کال کې راټیټې شوي دي. د خوراکي توکو د انفلاسیون نرخ د ربعې په ربعې شمېرو پر بنسټ د ۱۳۹۸ مالي کال په څلورمه ربعه کې ۳.۶۸ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۰.۸۹ سلنې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. د خوراکي توکو لکه، غوښې، غوړو او شحمیاتو، سبزیجاتو، بورې او خوږو توکو او اچارو بیې د تیر کال د ورته ربعې په پرتله په یاده موده کې لوړې شوي دي، حال دا چې په دې کټګورۍ کې د ډوډۍ او حبوباتو، شیدو او پنیرو او هګیو بیې راټیټې شوي دي.

**۲.۳ ګراف: د ربعوار اوسط موندلو میتود**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د پولي سیاست آمریت

که څه هم، د سبزیجاتو، وچې او تازه مېوې او اچارو بیې د ربعې په ربعې شمېرو پر بنسټ د پام وړ زیاتې شوي دي چې د تیر کال د منفي ۱۸.۱۴ او منفي ۶.۳۹ سلنې په پرتله په ۱۳۹۸ مالي کال کې په ترتیب سره ۵.۳۶ سلنې او ۲۲.۸۸ سلنې ته رسیږي. له بلې خوا، د نا خوراکي توکو انفلاسیون د ۱۳۹۸ مالي کال په څلورمه ربعه کې منفي ۰.۱۳ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۲.۲۷ سلنې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي. په دې کټګورۍ کې د

تنباکو، کور جوړوني، فرنیچرو او کورني توکو، ټرانسپورټ، اړیکو او ښوونې او روزنې بیې د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې راټیټې شوې دي.

په ورته وخت کې د تنباکو شاخص د تیر کال د ورته ربعې د ۶.۱۹ سلنې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په څلورمه ربعه کې منفي ۱.۹۰ سلنې او د ټرانسپورټ شاخص د تیر کال د ورته ربعې د ۱۰.۰۴ سلنې په پرتله منفي ۶.۸۱ سلنې ته راټیټ شوی دی. له بلې خوا، د پوښاک، روغتیا، معلوماتو او کلتور بیې د تیر کال د ورته ربعې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په څلورمه ربعه کې راټیټې شوي دي.

۱.۳ جدول: ملي عمومي انفلاسیون، ۱۳۹۷ مالي کال–۱۳۹۸ مالي کال

| دوره | ٢٠١٨ کال | | | | | ٢٠١٩ کال | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | د ٢٠١٥ د اپریل پر بنسټ | | | | | | | | | | |
| تشریحات | وزن | د ٢٠١٨ اکتوبر | د ٢٠١٨ نومبر | د ٢٠١٨ ډیسمبر | اوسط (څلورمه ربعه) | اوسط (دولس میاشتې) | د ٢٠١٩ اکتوبر | د ٢٠١٩ نومبر | د ٢٠١٩ ډیسمبر | اوسط (څلورمه ربعه) | اوسط (دولس میاشتې) |
| ټولیز شاخص | ١٠٠.٠ | ٠.٨٠ | ١.١١ | ٠.٧٥ | ٠.٨٩ | ٠.٦٥ | ١.١٢ | ١.٢٢ | ٢.٧٧ | ١.٧١ | ٢.٣١ |
| خوراکي توکي او غیر الکولي مشروبات | ٤٧.٨ | -٠.٨٥ | -٠.٥٣ | -٠.٣٠ | -٠.٥٦ | -١.٠٤ | ٢.٨٥ | ٣.٢٩ | ٤.٩١ | ٣.٦٨ | ٣.٧٩ |
| ډوډۍ او حبوبات | ١٤.٦ | ٦.٧٤ | ٨.٤٦ | ٨.١٧ | ٧.٧٩ | ٣.٤٨ | ١.٣١ | ١.٢٩ | ٢.٠٦ | ١.٥٥ | ٠.٨٤ |
| غوښه | ٧.٥ | ١.٥١ | ٠.٧٩ | ١.٦٨ | ١.٣٢ | ١.٣٦ | ٧.٥٧ | ٨.٣٤ | ٨.٠٠ | ٧.٩٧ | ٥.٣٧ |
| شیدې، پنیر او هګۍ | ٤.٧ | ١.٨١ | ٢.١٠ | ١.٢٦ | ١.٧٢ | ١.٠٤ | -٠.٩٢ | -٢.٣١ | -١.٧٤ | -١.٦٦ | ٠.٩١ |
| غوړي او شحمیات | ٤.٦ | -١.٦٤ | -٢.٦٠ | -٢.٤٧ | -٢.٢٣ | -٠.٦٢ | -٠.٧١ | ٠.٢٥ | ٢.١٨ | ٠.٥٨ | -٢.٢٣ |
| تازه او وچه میوه | ٥.٠ | -٠.٨٦ | -٣.٠٤ | ١.٠١ | -٠.٩٦ | ٠.٨٩ | ٢.٨٨ | ٣.٨٩ | ٣.٧٤ | ٣.٥٠ | ٥.٢٠ |
| سبزیجات | ٦.٠ | -١٧.٥٦ | -١٧.٨٧ | -١٩.٠٠ | -١٨.١٤ | -٩.٦٤ | -٠.٥٠ | ٣.٣٤ | ١٣.٢٤ | ٥.٣٦ | -٠.٦٥ |
| بوره او خواږه توکي | ٢.٧ | -٣.٤٢ | -١.٧٦ | -١.٦٢ | -٢.٢٧ | -٦.٦٨ | ٦.٢٨ | ٣.٩٦ | ٤.٦٦ | ٤.٩٧ | ٥.٦١ |
| اچار، ترشي او... | ١.٣ | -١١.٦٨ | -٥.٢٣ | -٢.٢٧ | -٦.٣٩ | -١٦.٧٣ | ٢٤.٠١ | ٢٣.٢٩ | ٢١.٣٤ | ٢٢.٨٨ | ١٦.٤٠ |
| غیر الکولي مشروبات | ١.٤ | ٣.٦٦ | ٤.٣٣ | ٤.٤٩ | ٤.١٦ | ٢.٣٥ | ٤.٥٤ | ٣.٧٠ | ٤.١٠ | ٤.١١ | ٤.٩٠ |
| نا خوراکي توکي، تنباکو او خدمتونه | ٥٢.٢ | ٢.٣٧ | ٢.٦٧ | ١.٧٦ | ٢.٢٧ | ٢.٢٩ | -٠.٤٧ | -٠.٦٩ | ٠.٧٧ | -٠.١٣ | ٠.٩٤ |
| تنباکو | ٠.٣ | ٦.٢٤ | ٥.٩٨ | ٦.٣٤ | ٦.١٩ | ٤.١١ | -١.٠٨ | -٢.٤٤ | -٢.١٨ | -١.٩٠ | ٢.٠٥ |
| پوښاک | ٤.٦ | ٣.٢٥ | ٢.٤١ | ٤.١٨ | ٣.٢٨ | ٣.٥٠ | ٦.٠٢ | ٧.٤٨ | ٧.٥٢ | ٧.٠١ | ٥.٥٤ |
| کور جوړونه | ١٩.١ | ٠.٣٤ | ٠.٧٤ | -١.٣٩ | -٠.١٠ | ١.٤٩ | -٤.٠٧ | -٤.١٧ | -١.٤٩ | -٣.٢٥ | -٢.٤٨ |
| فرنیچر او کورني توکي | ١١.٩ | ٣.٣٢ | ٤.١٨ | ٣.٧٥ | ٣.٧٥ | ٢.٧٨ | ١.٤٢ | -٠.٠٣ | ٠.٤٢ | ٠.٦٠ | ٢.٨٥ |
| روغتیا | ٦.٢ | ٠.٥٧ | ١.٢٩ | ١.٦٠ | ١.١٥ | ٠.٧٢ | ٥.٥٣ | ٥.٦٧ | ٦.٠٨ | ٥.٧٦ | ٤.٥٣ |
| ټرانسپورټ | ٤.٣ | ١٠.٥٧ | ١٠.٨٢ | ٨.٧٤ | ١٠.٠٤ | ٦.٥٥ | -٦.٦٧ | -٧.٥٩ | -٦.١٨ | -٦.٨١ | ٠.٣٦ |
| اړیکې | ١.٧ | ٠.٧٩ | -٠.٩٢ | -١.٧٠ | -٠.٦١ | -٠.٥٠ | -٦.٦٨ | -٥.٣٢ | -٤.٤٣ | -٥.٤٨ | -٤.٣٧ |
| معلومات او کلتور | ١.١ | ١.٠٦ | -٠.٣٨ | -٠.٩٠ | -٠.٠٧ | -٠.٩٩ | ٠.٦١ | ٣.٩٨ | ٤.٣٣ | ٢.٩٧ | ٢.٠٨ |
| زده کړه | ٠.٤ | ٤.٨٤ | ٦.٥٣ | ٦.٤٠ | ٥.٩٢ | ٥.٨١ | ٢.٨٣ | ٠.٣٣ | ١.٥٨ | ١.٥٨ | ٢.١٣ |
| ریسټورانټونه او هوټلونه | ١.١ | ٣.٠١ | ٢.١٨ | ٢.٥١ | ٢.٥٧ | ٢.٢٨ | ١.٨٢ | ٤.٠٧ | ٤.٢٦ | ٣.٣٨ | ٣.١٤ |
| متفرقه | ١.٤ | ٢.٤٨ | ٢.٤٥ | ١.٤٠ | ٢.١١ | ٣.٠٤ | ٦.٧٧ | ٥.٥٣ | ٩.٨٣ | ٧.٣٨ | ٣.٨٢ |
| د لګښتي توکو د بیو شاخص، پرته له ډوډۍ او حبوباتو، غوړي او شحمیاتو او تنباکو څخه | | -٠.٦٦ | -٠.٥٢ | -٠.٨٢ | -٠.٦٧ | -٠.١٠ | ١.٦٦ | ١.٨٠ | ٣.٤٨ | ٢.٣١ | ٢.٠٦ |
| ٣٠٪ د اوسط مونډلو میتود | | ١.٧٢ | ١.٤٩ | ١.٦٤ | ١.٦٢ | ١.٤٠ | ٢.١٤ | ٢.٢٣ | ٣.٢٦ | ٢.٥٥ | ٢.٨٨ |
| سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک | | | | | | | | | | | |

۳.۳ ګراف: په ربعواره توګه د ملي عمومي انفلاسیون اوسط نرخ




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۳.۲.۳ د کابل په عمومي انفلاسیون کې بدلونونه (کلني بدلونونه)**

د کابل د لګښتي توکو د بیو د شاخص عمومي انفلاسیون د تیر کال د ۱.۳۹ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله په ۱۳۹۸ مالي کال کې په منځني ډول ۲.۰۸ سلنې ته لوړ شوی دی. خوراکي توکي چې د ټولیزه شاخص د عمومي وزن ۳۷.۲ سلنه جوړوي، د کال په کال بدلونونو پر بنسټ د یوه کال په موده کې لوړېدونکی انفلاسیوني بهیر درلودلی دی. په دې کټګورۍ کې د انفلاسیون بنسټیز لاملونه د ډوډۍ او حبوباتو، غوښې، سبزیجاتو، بورې او خوږو توکو او اچارو لوړې بیې په ګوته شوې دي. په ټولیزه توګه، د خوراکي توکو د انفلاسیون نرخ د تیر مالي کال د ۰.۱۰ سلنې په پرتله په ۱۳۹۸ مالي کال کې په منځني ډول ۴.۰۵ سلنې ته لوړ شوی دی.

له بلې خوا، د نا خوراکي توکو د انفلاسیون نرخ چې د ټولیزه شاخص ۶۲.۸ سلنه وزن جوړوي، د تېر کال د ۲.۳۳ سلنې په پرتله په ۱۳۹۸ مالي کال کې په منځني ډول ۰.۷۴ سلنې ته راټیټ شوی چې اصلي لامل یې د تنباکو، پوښاک، کور جوړونې، فرنیچرو او کورني توکو، ټرانسپورټ، اړیکو او ښوونې او روزنې د اقلامو ټیټې بیې په ګوته شوي دي. که څه هم په دې کټګورۍ کې د روغتیا او معلوماتو او کلتور د انفلاسیون نرخ د تیر کال له ۱.۸۶ سلنې او منفي ۲.۲۰ سلنې څخه په ترتیب سره ۶.۶۷ سلنې او ۱.۷۰ سلنې ته لوړ شوی دی.

له بلې خوا، اصلي انفلاسیون له ډوډۍ او حبوباتو، غوړیو او شحمیاتو او ټرانسپورټ پرته د تیر کال د ورته مودې په پرتله د ارزونې لاندې موده کې لوړېدونکی بهیر ښکاره کړی دی. په ۱۳۹۸ مالي کال کې د اصلي انفلاسیون نرخ په منځني ډول ۱.۸۵ سلنې ته رسیدلی په داسې حال کې چې په تېر کال کې دا نرخ ۰.۹۶ سلنه ثبت شوی ؤ. همدا ډول، د اوسط موندلو میتود (۳۰٪) د تیر کال د ۱.۶۰ سلنې په پرتله په ۱۳۹۸ مالي کال کې په منځني ډول ۲.۸۵ سلنه انفلاسیون ثبت کړی دی.

**۴.۲.۳ د کابل په عمومي انفلاسیون کې بدلونونه (ربعوار بدلونونه)**

د ربعې په ربعې د سنجش او ارزونې له مخې د کابل عمومي انفلاسیون د خوراکي توکو په اقلامو کې ټیټېدونکی بهیر درلودلی چې د تیر کال د ورته ربعې د ۱.۴۸ سلنې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په څلورمه ربعه کې ۱.۰۹ سلنې ته راټیټ شوی دی. د خوراکي توکو د شاخص انفلاسیون د تیر کال د ورته ربعې د منفي ۰.۰۴ سلنې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په څلورمه ربعه کې په منځني ډول ۲.۷۱ سلنې ته لوړ شوی دی. په دې کټګورۍ کې د وچې او تازه میوې، سبزیجاتو، بورې او خوږو توکو او اچارو بیې د ارزونې لاندې موده کې لوړې شوې چې پر بنسټ یې د انفلاسیون په نرخ کې هم زیاتوالی راغلی دی.

په دې کټګورۍ کې د سبزیجاتو او اچارو بیې خورا ډیرې لوړې شوې دي چې د تیر کال د منفي ۲۰.۹۶ سلنې او منفي ۲.۵۹ سلنې په پرتله په ۱۳۹۸ مالي کال کې په منځني

ډول ۲.۹۷ او ۲۶.۲۸ سلنه د پام وړ لوړوالی ښکاره کوي. له بلې خوا، د ډوډۍ او حبوباتو، غوښې، شیدو، پنیر او هګۍ د انفلاسیون نرخ د تیر کال په پرتله په ۱۳۹۸ مالي کال کې ټیټوالی موندلی دی.

د لګښتي توکو د بیو شاخص د نا خوراکي توکو کټګورۍ د توکو د بیو د انفلاسیون نرخ د ۱۳۹۸ مالي کال په څلورمه ربعه کې ۰.۰۶ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۲.۴۶ سلنې په پرتله کموالي ښکاره کوي. د ربعې په ربعې پرتلنې پر بنسټ، په دې کټګورۍ کې د انفلاسیون د ټیټوالي ستر لاملونه د ټولو نا خوراکي توکو لکه تنباکو، کور جوړونې، فرنیچرو او کورنی توکو، ټرانسپورټ، اړیکو او ښوونې او روزنې ټیټې بیې په ګوته شوي دي. په دې ډله کې د ټرانسپورټ بیو خورا ډیر ټیټوالی موندلی چې د تیر کال له ۷.۵۲ سلنې څخه په ۱۳۹۸ مالي کال کې منفي ۶.۲۷ سلنې ته راټیټې شوي دي.

د احصاییوي معلوماتو پر بنسټ د انفلاسیون د لنډ مهاله لرلید ښایي زیاتوالی ومومي او په ۱۳۹۹ مالي کال کې مثبت بهیر تجربه کړي. د افغانستان بانک د اټکل له مخې په ۱۳۹۹ مالي کال کې به د انفلاسیون نرخ د ۳ او ۴ سلنې ترمنځ وي.

**۴.۳ ګراف: په ربعواره توګه د کابل د کلني انفلاسیون منحنی نرخ**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۵.۳ ګراف: په ربعواره توګه د کابل د انفلاسیون منحنی نرخ**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۲.۳ جدول: د کابل عمومي انفلاسیون، ۱۳۹۷ مالي کال- ۱۳۹۸ مالي کال**

| دوره | ۲۰۱۸ کال | | | | ۲۰۱۹ کال | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | د ۲۰۱۵ د اپریل پر بنسټ | | | | | | | | | | |
| | وزن | ۲۰۱۸ اکتوبر | ۲۰۱۸ نومبر | ۲۰۱۸ ډیسمبر | اوسط (څلورمه ربعه) | اوسط (دولس میاشتې) | د ۲۰۱۹ اکتوبر | د ۲۰۱۹ نومبر | د ۲۰۱۹ ډیسمبر | اوسط (څلورمه ربعه) | اوسط (۱۲ میاشتې) |
| **ټولیز شاخص** | **۱۰۰.۰** | **۱.۸۰** | **۱.۷۹** | **۰.۸٦** | **۱.٤۸** | **۱.۳۹** | **-۰.۵۲** | **۰.۳۰** | **۳.٤۸** | **۱.۰۹** | **۲.۰۸** |
| **خوراکي توکي او غیر الکولي څښناک** | **۳۷.۲** | **۰.۳۲** | **-۰.۳۹** | **-۰.۰٦** | **-۰.۰٤** | **۰.۱۰** | **-۰.۰۸** | **۲.۲٤** | **۵.۹۸** | **۲.۷۱** | **٤.۰۵** |
| ډوډۍ او حبوبات | ۹.۸ | ۱۰.۹۵ | ۱۱.۱۴ | ۹.۸۳ | ۱۰.۶۴ | ۴.۹۷ | ۱.۴۵ | ۲.۷۶ | ۵.۷۵ | ۳.۳۲ | ۷.۷۴ |
| غوښه | ۶.۴ | ۳.۵۲ | ۲.۵۱ | ۴.۶۲ | ۳.۵۵ | ۳.۰۴ | ۲.۲۱ | ۳.۴۲ | ۲.۱۶ | ۲.۶۰ | ۴.۴۶ |
| شیدې، پنیر او هګۍ | ۳.۲ | ۵.۳۴ | ۵.۸۸ | ۴.۶۲ | ۵.۲۸ | ۰.۸۳ | -۳.۵۰ | -۶.۳۸ | -۵.۹۸ | -۵.۲۸ | ۰.۲۸ |
| غوړي او شحمیات | ۳.۶ | ۰.۵۸ | ۰.۹۶ | -۰.۲۵ | ۰.۴۳ | -۱.۰۴ | -۱.۵۹ | -۳.۸۹ | -۰.۴۷ | -۱.۹۸ | -۳.۸۵ |
| تازه او وچه میوه | ۵.۲ | -۴.۲۶ | -۹.۰۶ | -۱.۰۹ | -۴.۸۰ | ۴.۲۰ | -۱.۷۵ | ۴.۲۰ | ۷.۵۴ | ۳.۳۳ | ۴.۱۷ |
| سبزیجات | ۴.۲ | -۷.۹۰ | -۰.۳۶ | -۴.۶۱ | -۰.۹۶ | -۹.۶۹ | -۴.۹۵ | -۰.۰۱ | ۲۳.۸۸ | ۲.۹۷ | -۳.۱۱ |
| بوره او خواږه توکي | ۲.۸ | -۲.۲۷ | ۱.۰۶ | -۰.۳۷ | -۰.۵۳ | -۳.۹۷ | ۶.۴۱ | ۲.۷۰ | ۴.۰۷ | ۴.۳۹ | ۷.۹۴ |
| اچار، ترشي او... | ۱.۰ | -۶.۷۰ | -۲.۴۰ | ۱.۳۳ | -۲.۵۹ | -۱۳.۴۶ | ۲۵.۷۸ | ۳۰.۸۵ | ۲۲.۲۲ | ۲۶.۲۸ | ۲۳.۱۸ |
| غیر الکولي څښناک | ۰.۹ | ۵.۱۲ | ۵.۹۲ | ۵.۶۲ | ۵.۵۵ | ۲.۳۴ | ۴.۹۷ | ۴.۵۴ | ۳.۷۸ | ۴.۴۳ | ۴.۸۲ |
| **نا خوراکي توکي، تنباکو او خدمتونه** | **٦۲.۸** | **۲.۷۵** | **۳.۱۹** | **۱.٤۵** | **۲.٤٦** | **۲.۳۳** | **-۰.۸۰** | **-۰.۹۱** | **۱.۸۸** | **۰.۰٦** | **۰.۷٤** |
| تنباکو | ۰.۳ | ۴.۵۱ | ۳.۱۹ | ۴.۳۵ | ۴.۰۲ | ۳.۱۲ | -۰.۳۷ | -۲.۳۱ | -۲.۰۷ | -۱.۵۹ | ۱.۶۵ |
| پوښاک | ۴.۸ | ۴.۴۳ | ۲.۰۳ | ۴.۲۹ | ۳.۵۸ | ۴.۰۴ | ۲.۷۴ | ۵.۵۱ | ۷.۳۸ | ۵.۲۱ | ۳.۱۲ |
| کور جوړونه (استوګنځی) | ۲۳.۵ | ۰.۱۷ | ۰.۸۵ | -۲.۷۸ | -۰.۵۹ | ۱.۲۹ | -۳.۵۹ | -۳.۳۹ | ۱.۳۰ | -۱.۹۰ | -۲.۷۶ |
| فرنیچر او کورني توکي | ۱۷.۶ | ۴.۳۵ | ۵.۷۰ | ۴.۵۸ | ۴.۸۸ | ۳.۱۵ | -۰.۵۸ | -۲.۶۰ | -۲.۰۰ | -۱.۷۳ | ۲.۳۹ |
| روغتیا | ۵.۳ | ۲.۰۶ | ۱.۷۹ | ۰.۹۱ | ۱.۵۹ | ۱.۸۶ | ۷.۲۵ | ۹.۶۹ | ۱۳.۳۷ | ۱۰.۱۰ | ۶.۶۷ |
| ټرانسپورټ | ۴.۶ | ۷.۷۸ | ۸.۹۶ | ۵.۸۱ | ۷.۵۲ | ۴.۲۰ | -۵.۷۶ | -۷.۶۲ | -۵.۴۳ | -۶.۲۷ | -۰.۳۱ |
| اړیکې | ۲.۰ | ۱.۹۳ | ۰.۸۷ | ۱.۱۲ | ۱.۳۱ | -۰.۴۱ | -۱.۴۷ | -۱.۳۸ | -۰.۸۴ | -۱.۲۳ | -۰.۷۲ |
| معلومات او کلتور | ۱.۷ | ۱.۴۰ | -۲.۰۵ | -۲.۶۴ | -۱.۱۰ | -۲.۲۰ | -۰.۶۷ | ۶.۶۲ | ۷.۱۱ | ۴.۳۵ | ۱.۷۰ |
| زده کړه | ۰.۷ | ۶.۳۰ | ۸.۷۹ | ۸.۵۶ | ۷.۸۸ | ۸.۰۴ | ۱.۱۳ | -۲.۳۶ | -۰.۷۶ | -۰.۶۶ | ۱.۲۷ |
| ریسټورانټونه او هوټلونه | ۱.۰ | ۲.۳۱ | ۱.۶۶ | ۲.۸۳ | ۲.۲۶ | ۲.۲۸ | ۳.۴۱ | ۹.۳۶ | ۹.۳۱ | ۷.۳۶ | ۲.۸۶ |
| متفرقه | ۱.۳ | ۴.۳۶ | ۵.۶۷ | ۵.۰۴ | ۵.۰۲ | ۳.۲۰ | ۱۱.۸۰ | ۸.۶۵ | ۱۸.۱۷ | ۱۲.۸۷ | ۷.۸۳ |
| د لګښتي توکو د بیو شاخص (د ډوډۍ او حبوباتو، غوړي او شحمیاتو او تنباکو پرته) | | ۰.۵۴ | ۰.۴۳ | -۰.۳۲ | ۰.۲۲ | ۰.۹۶ | -۰.۴۰ | ۰.۶۶ | ۳.۸۹ | ۱.۳۸ | ۱.۸۵ |
| **۳۰ سلنه د اوسط موندلو میتود** | | **۲.۷۰** | **۲.۵۷** | **۲.٦۹** | **۲.٦۵** | **۱.٦۰** | **۰.۸۹** | **۱.۸۸** | **٤.۱۲** | **۲.۳۰** | **۲.۸۵** |
| سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک | | | | | | | | | | | |

# ۴

## د بهرني سکتور بدلونونه

## ۴
## د بهرني سکتور بدلونونه

### ۱.۴ عمومي کتنه

په ۱۳۹۸ مالي کال کې د افغانستان د بهرني سکتور ځينې بنسټيز بدلونونه د تير کال له پرتلې سره په دې څپرکي کې وړاندې کېږي. په پام کې ده چې د بانک مديريت د دې بدلونونو او د هېواد پر اقتصاد يې د اغيزو له امله د پاليسي په تړاو راپورته کيدونکو موضوعاتو ته لا ډېره پاملرنه وکړي.

د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبې په ډاګه کوي چې د بهرني سکتور کړنې د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د ۸ سلنه سوداګريز کسر، د پانګونې د عوايدو د داخلي جريان د ۶۱ سلنه زياتوالي، د کارګرو د معاشونو او هېواد ته د شخصي لېږدونو د ۱۴ سلنه زياتوالي په درلودلو سره پياوړې شوې دي. د پانګې حساب ته داخلي جريانونه دولتي سکتور ته د پانګې د لېږدونو له امله ۳۷ سلنه راکم شوي دي.

همدا ډول د بهرنۍ مستقيمې پانګونــې (FDI) داخلي جريانونه په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۲.۹۰ ميليونه امريکايي ډالره او د پورټوفوليو د پانګونو خالص بهرني جريانونه منفي ۱۴.۶۲ ميليونه امريکايي ډالرو ته راټيټ شوي دي. په ورته وخت کې، د شتمنيو رسمي زيرمې (د ادباينو د بيلانس په حساب کې) په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۱۰۴.۳ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د تير کال د ۱۶۴.۲۶ ميليونه امريکايي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۳۷ سلنه ټيټوالی ښکاره کوي. د پورتنيو بدلونونو پر بنسټ د ادباينو بيلانس په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۲،۹۴۸ ميليونه امريکايي ډالره کسر ثبت کړی چې د تير کال د ۲،۸۹۷ ميليونه امريکايي ډالره کسر په پرتله زياتوالی په ګوته کوي.

### ۱.۴ د ادباينو بيلانس

#### ۱.۱.۴ جاري حساب

د جاري حساب کسر د کال په کال پرتلې له مخې په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۳،۶۵۴.۰۷ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د تير کال د ۳،۷۳۱.۷۷ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله ۲ سلنه کموالی ښکاره کوي. (۱.۴ جدول او ۱.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ).

د جاري حساب د کسر د زياتيدو ستر لاملونه د ارزونې لاندې موده کې د سوداګرۍ د بيلانس (توکو او خدمتونو) کسر، دولتي سکتور ته د بسپنو کموالی او د کارګرو د معاشونو او د پانګونې د عوايدو د داخلي جريان زياتوالی ګڼل کېږي. په ورته وخت کې د توکو د حساب کسر په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۵،۲۹۴.۱۷ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د تير کال د ۵،۷۲۰.۶۳ ميليونه امريکايي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۷.۴۵ سلنه کموالی ښکاره کوي.

همدا ډول، د خدمتونو حساب په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۵۶۷.۱۹ ميليونه امريکايي ډالره کسر ثبت کړی دی چې د تير کال د ۶۵۳.۷۵ ميليونه امريکايي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۱۳ سلنه د پام وړ کموالی ښکاره کوي.

**۱.۴ ګراف: د جاري حساب بیلانس**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک

له بلې خوا، د کارګرو معاشونه او د پانګونې د عوایدو داخلي جریانونه په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۳۰۶.۶۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۱۹۰.۷۳ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۶۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. همدا ډول، دولتي سکتور ته خالصې بسپنې او له بهرنیو هېوادونو څخه د افغان کارګرو شخصي لیږدونې په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۱،۹۰۰.۶۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۲،۴۵۱.۸۷ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲۲ سلنه د پام وړ ټیټوالی په ګوته کوي.

**۲.۱.۴ پانګه ایز حساب**

د ادباینو د بیلانس په پانګه ایزه حساب کې د ارزونې لاندې موده کې د پام وړ بدلونونه راغلی دی چې له پرمختیایي پروژو سره د بسپنه ورکوونکو د مرستو کموالی او د پور ورکوونکو لخوا د پور په بخښلو کې کموالی یې اصلي لاملونه ګڼل کیږي. په ورته وخت کې د کال په کال پرتلې پر بنسټ، په پانګه ایزه حساب کې داخلي جریان په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۸۲۳.۵۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۱،۳۱۴.۴۱ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۳۷ سلنه کموالی ښکاره کوي.

**۳.۱.۴ مالي حساب**

د ادباینو د بیلانس د مالي حساب لاندې بهرنۍ پانګونه یوه مهمه برخه ګڼل کیږي چې بهرنۍ مستقیمې پانګونې (FDI)، بهرنۍ پورتوفولیو پانګونې(FPI) او نورې پانګونې په کې شاملې دي. په هېواد کې دوامداره امنیتي او سیاسي اندیښنو د بهرنۍ مستقیمې پانګونې پر خالص داخلي جریان د پام وړ اغیزه کړې ده. شته شمېرې ښکاره کوي چې د بهرنۍ مستقیمې پانګونې خالص داخلي جریان په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۲.۹۰ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۸۰.۶۳ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله د پام وړ کموالی ښکاره کوي.

په ورته وخت کې، د خالصې پورتوفولیو په پانګونه کې بهرنی جریان په ۱۳۹۸ مالي کال کې منفي ۱۴.۶۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۱۴۷.۷۰ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله د پام وړ کموالی په ګوته کوي چې له بهرنیو هېوادونو څخه د افغانستان د پانګونې د ویستلو ښکارندویي کوي.

د شمېرو شننه ښکاره کوي چې له هېواد څخه بهر د افغانانو ټولیزه مالي شتمنۍ د ارزونې لاندې موده کې ۱۷.۹۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۱۵۷.۶۹ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله د پام وړ کموالی ښکاره کوي.(د لا وضاحت لپاره ۲.۴ او ۳.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ).

په ورته وخت کې، ټولیزه مالي پورایني په ۱۳۹۸ مالي کال کې منفي ۶.۹۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د

تیر کال د منفي ۹۵.۳۳ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله د پام وړ کموالی ښکاره کوي. د مالي حساب بیلانس په ۱۳۹۸ مالي کال کې په ټولیزه توګه ۱۱۷.۱۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۴۷۹.۳۵ میلیونه امریکایي ډالره ثبت شوي کچې په پرتله د پام وړ کموالی په ګوته کوي.

**۲.۴ ګراف: د پانګه ایز او مالي حساب بیلانس**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک

**۳.۴ ګراف: د بهرنۍ مستقیمې پانګونې داخلي جریانونه (FDI)**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک

### ۲.۴ د توکو سوداګري (مال التجاره)

د توکو سوداګري په یو هېواد یا سیمه کې د ګمرکونو د ګدامونو او ازادو زونونو له لارې د لیږد رالیږد په ګډون د توکو هر ډول داخلي او بهرنۍ لیږدونې رانغاړي.

د احصائیې او معلوماتو ملي اداري د شمېرو پر بنسټ؛ د افغانستان سوداګریز بیلانس د اوږدې مودې راهیسې په کسر کې دی او دا کسر په ډاګه کوي چې د وارداتي توکو ټولیزه ارزښت د صادراتي توکو د ټولیزه ارزښت په پرتله زیات دی. شته شمېرې ښکاره کوي چې د توکو د سوداګرۍ کسر په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۵،۹۱۲.۲۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۶،۵۳۱.۳۶ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله د سوداګرۍ په کسر کې ۹.۴۷ سلنه کموالی ښکاره کوي (د لا وضاحت لپاره ۳.۴ جدول او ۴.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ).

ترلاسه شوي معلومات ښکاره کوي چې د افغانستان د توکو ټولیزه صادرات په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۸۶۳.۸۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۸۷۵.۲۴ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۱.۳ سلنه کموالی ښکاره کوي. د صادریدونکو توکو له ډلې غالۍ او ټغرونه، څرمنې او وړۍ او طبي بذرونه د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې لوړیدونکی بهیر ښکاره کوي، حال دا چې یوازې خوراکي توکو (تازه مېوو) ټیټیدونکی بهیر درلودلی دی.

په ورته وخت کې، د کال په کال پرتلې پر بنسټ د توکو ټولیزه واردات په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۶،۷۷۶.۱۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۷،۴۰۶.۶۰ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۸.۵۱ سلنه کموالی ښکاره کوي. د وارداتو په ترکیب کې د شته شمېرو پر بنسټ، په ۱۳۹۸ مالي کال کې د لګښتي توکو، پانګه ایزو توکو او

صنعتي موادو د داخلي تقاضا كموالی د وارداتو د كمېدو اصلي لامل ګڼل كېږي.

**۴.۴ ګراف: د سوداګرۍ کړنې او بيلانس**




سرچينه: د احصائيې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک

**۳.۴ د سوداګرۍ لوری**

د سوداګرۍ لوری هغه هېواد يا هېوادونو ته ويل كېږي چې له يوه بل هېواد څخه ورته توكي صادرېږي او يا ترې توكي واردېږي. ۵.۴، ۶.۴ ګرافونه په ۱۳۹۸ مالي كال كې له سوداګريزو شريكانو سره د افغانستان د سوداګرۍ لوری ښكاره كوي. د شته شمېرو پر بنسټ، د افغانستان عمده سوداګريز ملګري د ګډو ګټو خپلواكه هېوادونه (CIS)، ايران، چين، پاكستان او هند دي.

**۱.۳.۴ د صادراتو لوری**

د توكو د سوداګرۍ د احصائيوي معلوماتو پر بنسټ **هندوستان په ۱۳۹۸ مالي كال كې د افغانستان د صادراتو لومړنی لوی پيرودونكی هېواد دی.** هندوستان ته د افغانستان د ټوليزه صادراتو ونډه د ارزونې لاندې كال په اوږدو كې ۴۷ سلنې ته رسېږي چې د تېر كال د ۴۱ سلنې ونډې په پرتله د پام وړ زياتوالی ښكاره كوي. په ياده موده كې هندوستان ته د صادرېدونكو توكو كچه ۴۱۰.۱۴ ميليونه امريكايي ډالرو ته رسېږي چې د تېر كال د ۳۵۹.۴۴ ميليونه امريكايي ډالرو په پرتله ۱۴ سلنه زياتوالی ښكاره كوي.

**په ۱۳۹۸ مالي كال كې د افغانستان د صادراتو دويم لوی پيرودونكی هېواد پاكستان ګڼل كېږي.** پاكستان ته د افغانستان د ټوليزه صادراتو ونډه ۳۵ سلنې ته رسېږي چې د تېر كال د ۴۳ سلنې ونډې په پرتله كموالی ښكاره كوي. پاكستان ته د صادرېدونكو توكو ټوليزه كچه په ۱۳۹۸ مالي كال كې ۲۹۸ ميليونه امريكايي ډالرو ته رسېږي چې د تېر كال د ۳۷۸ ميليونه امريكايي ډالرو په پرتله ۲۱ سلنه كموالی ښكاره كوي.

**۵.۴ ګراف: د صادراتو لوری ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۸ مالي كال**




سرچينه: د احصائيې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک

**په ۱۳۹۸ مالي كال كې د افغانستان د صادراتو درېيم لوی پيرودونكي هېوادونه چين او ايران دي.** چين ته د افغانستان د ټوليزه صادراتو ونډه د ارزونې لاندې كال په اوږدو كې ۴ سلنې ته رسېږي چې د تېر كال د ۳.۲ سلنې ثبت شوې كچې په پرتله زياتوالی ښكاره كوي.

همدا ډول، ايران ته د افغانستان د ټوليزه صادراتو ونډه ۲ سلنې ته رسېږي چې د تېر كال د ورته ۲ سلنې ثبت شوې كچې په پرتله ثابته پاتې شوې او كوم بدلون نه ښكاره كوي. په ورته وخت كې، چين ته د افغانستان د صادراتو ټوليزه كچه ۳۱ ميليونه امريكايي ډالرو ته رسېږي چې د تېر

کال د ۲۸.۴۱ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي، حال دا چې ایران ته د افغانستان صادراتو ټولیزه کچه ۱۴.۶۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۱۹.۵۱ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲۵ سلنه کموالی ښکاره کوي (د لا وضاحت لپاره ۵.۴ او ۶.۴ ګرافونو ته مراجعه وکړئ).

**۶.۴ ګراف: د صادراتو لوری ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۷ مالي کال**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک

### ۲.۳.۴ د وارداتو لوری

**د ګډو ګټو خپلواکه هیوادونه (CIS) په ۱۳۹۸ مالي کال کې د افغانستان د وارداتو لپاره تر ټولو ستره سرچینه ګڼل کیږي.** د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د ګډو ګټو خپلواکو هیوادونو څخه ټولیزه واردات د ۲۴ سلنې ونډې په درلودلو سره ۱،۶۳۳.۷۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۱،۹۸۳.۵۹ میلیونه امریکایي ډالرو (۲۶.۸ سلنه ونډې) په پرتله ۱۸ سلنه کموالی ښکاره کوي.

**ایران په ۱۳۹۸ مالي کال کې د افغانستان دویمه ستره وارداتي سرچینه ګڼل کیږي.** له ایران څخه افغانستان ته د ټولیزه وارداتو کچه په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۱،۲۴۷.۲۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۱،۲۶۴.۱۸ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې (۱۷ سلنې ونډې) په پرتله ۱ سلنه کموالی ښکاره کوي او د ټولیزه وارداتو ۱۸ سلنه جوړوي.

**چین د ۱۳۹۸ مالي کال په دریمه ربعه کې د افغانستان دریمه ستره وارداتي سرچینه ګڼل کیږي.** په ۱۳۹۸ مالي کال کې له چین څخه افغانستان ته د ټولیزه وارداتي توکو کچه د ۱۷ سلنې ونډې په درلودلو سره ۱،۱۵۶.۶۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۱،۱۶۵.۹۴ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې (۱۶ سلنې ونډې) په پرتله ۱ سلنه لږ څه کموالی ښکاره کوي.

**پاکستان د ارزونې لاندې کال کې د افغانستان څلورمه ستره وارداتي سرچینه ګڼل کیږي.** له پاکستان څخه افغانستان ته د ټولیزه وارداتو کچه په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۱،۰۵۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۱۰۸۶ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې (۱۵ سلنې ونډې) په پرتله ۳ سلنه کموالی ښکاره کوي او د ټولیزه وارداتو ۱۶ سلنه جوړوي.

هند، جاپان، عربي متحده امارات، جرمني او د امریکې متحده ایالتونه د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د افغانستان وروستی سترې وارداتي سرچینې ګڼل کیږي چې په ترتیب سره د ټولیزه وارداتو ۶ سلنه، ۳ سلنه، ۲ سلنه، ۱ سلنه او ۱ سلنه جوړوي (د لا وضاحت لپاره ۷.۴ او ۸.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ).

**۷.۴ ګراف: د وارداتو لوری ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۸ مالي کال**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک

**۸.۴ ګراف:** د وارداتو لوری ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۷ مالي کال




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک

### ۴.۴ د سوداګرۍ ترکیب

#### ۱.۴.۴ د وارداتو ترکیب

په ۱۳۹۸ مالي کال کې د وارداتو ترکیب ښکاره کوي چې:

- د لګښتي توکو د وارداتو له کمېدو سربېره، لګښتي توکو بیا هم په ۱۳۹۸ مالي کال کې د وارداتو په ټوکرۍ کې تر ټولو ستره ۳۷ سلنه ونډه ثبت کړې، حال دا چې په تیر کال کې دا ونډه ۳۹ سلنه وه. د لګښتي توکو صادرات په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۲،۴۸۹.۸۰ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۲،۹۰۴.۲۳ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله د پام وړ ۱۴.۲۷ سلنه کموالی ښکاره کوي.
- د وارداتو په ټوکرۍ کې دویمه ستره ونډه پانګه ایزو توکو ثبت کړې ده چې کچه یې د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې ۳۵ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۳۷ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله لږ څه کموالی ښکاره کوي. د پانګه ایزو توکو ټولیزه کچه ۲،۳۹۲.۴۰ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۲،۷۲۶.۹۰ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله د پام وړ ۱۲.۲۶ سلنه کموالی ښکاره کوي.
- د افغانستان د وارداتو په ټوکرۍ کې دریمه ستره ونډه تیلو او روغنیاتو (پطرولو) ثبت کړې ده چې کچه یې په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۱۶ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ۱۳ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. د تیلو او روغنیاتو (پطرولو) د وارداتو ټولیزه کچه ۱،۰۸۷ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۹۴۹.۷۸ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۱۳.۵۰ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.
- د افغانستان د وارداتو په ټوکرۍ کې تر ټولو کمه ونډه صنعتي موادو ثبت کړې ده چې دا ونډه د تیر کال له ۱۱ سلنې څخه د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې ۱۲ سلنې ته لوړه شوې ده. د صنعتي توکو د وارداتو ټولیزه کچه په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۸۱۵.۹۰ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۸۲۵.۶۸ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۱.۱۸ سلنه کموالی ښکاره کوي (د لا وضاحت لپاره ۹.۴ او ۱۰.۴ ګرافونو ته مراجعه وکړئ).

**۹.۴ ګراف:** د وارداتو ترکیب (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۷ مالي کال




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک

۱۰.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۸ مالي کال




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک

### ۲.۴.۴ د صادراتو ترکیب

په ۱۳۹۸ مالي کال کې د صادراتو ترکیب ښکاره کوي چې:

- د ارزونې لاندې موده کې د طبي بذرونو صادرات د افغانستان د صادراتو په ټوکرۍ کې تر ټولو ستره ۴۶ سلنه ونډه لري، حال دا چې په تیر کال کې یاده ونډه ۴۵ سلنه ثبت شوې وه.

د دې زیاتوالي اصلي لامل د طبي بذرونو او زعفرانو د صادراتو زیاتوالی ګڼل کیږي چې په ۱۳۹۸ مالي کال کې یې کچې په ترتیب سره ۱۶۸.۶۹ میلیونه او ۲۵.۷۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۱۴۶.۱۴ میلیونه او ۲۱.۲۲ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شویو کچو په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي.

په ورته وخت کې، د طبي بذرونو له صادراتو څخه ترلاسه شوې ګټه په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۳۹۹.۲۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۳۹۲.۸۸ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۱.۱۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

- د افغانستان د صادراتو په ټوکرۍ کې دویمه ستره ونډه خوراکي توکو (تیلي بذرونو او وچو او تازه میوو) ثبت کړې ده چې کچه یې د ارزونې لاندې موده کې ۴۶ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ۴۸ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله لږ څه کموالی ښکاره کوي.

د خوراکي توکو ټولیزه کچه په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۳۹۶.۵۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۴۱۷.۶۹ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۵ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. د دې کموالي ستر لامل په ټول هیواد کې د تیلي بذرونو او میوو د حاصل کموالی ګڼل کیږي.

۱۱.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۷ مالي کال




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک

- خرمني او وړۍ په ټولیزه صادراتو کې دریمه ستره ونډه لري چې کچه یې د ارزونې لاندې کال کې ۵ سلنې ته رسیږي او د تیر کال د ۵ سلنې په پرتله کوم توپیر نه ښکاره کوي.

د خرمنو او وړیو له صادراتو څخه ترلاسه شوې ګټه په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۴۳.۱۶ میلیونه امریکایي ډالره ښودل شوې چې د تیر کال د ۴۲.۳۲ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

- غالي او ټغرې چې په تیرو لسیزو کې د افغانستان د

صادراتو عمده برخه جوړوي، په توليزه صادراتو کې يې تر ټولو کمه ونډه ثبت کړې ده چې په ۱۳۹۸ مالي کال کې يې کچه ۳ سلنې ته رسيږي او د تير کال د ورته سلنې په پرتله کوم توپير نه ښکاره کوي.

د څرمنو او وړيو له صادراتو څخه ترلاسه شوې ګټه په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۲۴.۹ میلیونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د تير کال د ۲۲.۳۵ میلیونه امريکايي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۱۱.۴۳ سلنه زياتوالی ښکاره کوي (د لا وضاحت لپاره ۱۱.۴ او ۱۲.۴ ګرافونو ته مراجعه وکړئ).

**۱۲.۴ ګراف: د صادراتو ترکيب ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۸ مالي کال**




سرچينه: د احصائيې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک

### ۵.۴ بهرنۍ پورراينې

د افغانستان ټوليزه بهرنۍ پورراينې په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۱،۹۵۵.۵۲ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د تير کال د ۲،۱۰۲.۱۹ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله ۷ سلنه (۱۴۶.۶۷) ميليونه امريکايي ډالره کموالی ښکاره کوي. د دې کموالي اصلي لاملونه د پور د اصلي مبلغ او په تير وخت کې د دې پور د ټوليزې ټکټانې بيرته ورکړه او د ارزونې لاندې موده کې د اسعارو د نرخ څپ څپاندتيا ګڼل کيږي (د لا وضاحت لپاره ۱۳.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ).

افغانستان د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې نړيوال بانک، اسيايي پراختيايي بانک، اسلامي پراختيايي بانک، د اوپک صندوق، د پراختيا لپاره د سعودي صندوق، بلغاريا او کويټ ته د پور د اصلي مبلغ بيا ادائينه کړې ده، حال دا چې نړيوال بانک، آسيايي پراختيايي بانک، اسلامي پراختيايي بانک او د کويټ صندوق ته د خدمتونو لګښتونه هم تاديه شوي دي.

په ورته وخت کې د افغانستان د سترو څو اړخيزو پور ورکوونکو په توګه نړيوال بانک او اسيايي پراختيايي بانک د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د ۸.۲ ميليونه امريکايي ډالرو په ارزښت ځينې اصلي پورونه او د خدمتونو لګښتونه افغانستان ته بخښلي دي.

دوه اړخيزه پورونه په دوو ډلو؛ د پاريس کلب او د پاريس کلب پرته پور ورکوونکو باندې ويشل کيږي. د پاريس کلب پور ورکوونکو، په ځانګړې توګه د روسيې فدراسيون ته د ټوليزه ورکول کيدونکو پورونو کچه په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۷۸۴.۶۷ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د تير کال د ۸۸۹.۴۰ ميليونه امريکايي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله د ياد پور ورکوونکي د پور په کچه کې ۱۲ سلنه کموالی ښکاره کوي. د امريکايي ډالر پر وړاندې د روسي روبل د ارزښت کميدل د دې کموالي اصلي لامل ګڼل کيږي. له بلې خوا د پاريس کلب له غړو پرته هېوادونو لکه، د پراختيا لپاره د سعودي صندوق، بلغاريا، د کويټ صندوق، ايران او ايټاليا د پور

ورکونې کچه په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۱۳۹.۲۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۱۰۰.۸۹ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي.

له بلې خوا، افغانستان ته د څو اړخیزو پور ورکوونکو د پوراینې کچه ۱،۰۳۱.۶۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۱،۱۱۱.۹۳ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله د ارزونې لاندې موده کې ۸۰.۲۹ میلیونه امریکایي ډالره یا ۷ سلنه کموالی ښکاره کوي.

**۱۳.۴ ګراف: د بهرنۍ پوراینې پرتله، ۱۳۹۷ مالي کال او ۱۳۹۸ مالي کال**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک

**۶.۴ خالصه نړیوالې زیرمې**

د افغانستان بانک په ناخالصو او خالصو نړیوالو زیرمو کې سره زر، د پیسو د نړیوال صندوق سره د پور زیرمه او ونډه، د برداشت ځانګړی حق (SDR) او همدا ډول مهم اسعار لکه امریکایي ډالر، یورو او انګلیسي پونډ شامل دي. د افغانستان خالصې نړیوالې زیرمې د هېواد هغه ناخالصې نړیوالې زیرمې دي چې د پوراینې زیرمې ترې منفي شوي دي.

د هېواد ناخالصې نړیوالې زیرمې د ۱۳۹۸ مالي کال په پای کې ۸،۴۰۹.۶۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۸،۳۰۹.۸۸ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۱۰۰ میلیونه امریکایي ډالره زیاتوالی ښکاره کوي. د هېواد خالصه نړیواله زیرمو (NIR) د ارزونې لاندې موده کې لوړېدونکی بهیر درلودلی دی چې کچه یې ۷،۸۰۴.۷۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۷،۶۴۹.۸۸ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي (د لا وضاحت لپاره ۱۴.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ).

په ورته وخت کې د پوراینې د زیرمو کچه په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۶۰۴.۹۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۶۶۰ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۸.۳ سلنه کموالی په ګوته کوي. د پوراینې د زیرمو د کچې د کموالي اصلي لامل په بهرنیو اسعارو د سوداګریزو بانکونو په امانتونو کې کموالی ګڼل کیږي چې په ۱۳۹۸ مالي کال کې یې کچه ۵۴۹.۲۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۶۰۰.۶۴ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۸ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. همدا ډول د مالي تمویل زیرمې د ارزونې لاندې کال کې ۵۵.۶۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۵۹.۲۲ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۶ سلنه کموالی ښکاره کوي.

په بهرنیو اسعارو کې د نا میشتو امانتونو د پوراینې د زیرمو

کچه د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې شاوخوا ثابته پاتې شوې ده. د افغانستان د خالصه نړیوالو زیرمو اوسنی وضعیت په هېواد کې د سالم او مناسب پولي سیاست د ترسره کولو لپاره ښه ملاتړ ګڼل کېږي.

**۱۴.۴ ګراف: د تیرو دورو په اوږدو کې خالصه نړیوالې زیرمې**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک

## ۱.۴ جدول: د افغانستان د اداینو بیلانس (په میلیون امریکایي ډالر)

| اقلام/کلونه | ۱۳۹۴ مالي کال | ۱۳۹۵ مالي کال | ۱۳۹۶ مالي کال | ۱۳۹۷ مالي کال | ۱۳۹۸ مالي کال | د بدلون سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| جاري حساب | -۴،۰۴۰.۵۵ | -۲،۳۵۷.۸۷ | -۳،۱۲۵.۲۴ | -۳،۷۳۱.۷۷ | -۳،۶۵۴.۰۷ | -۲٪ |
| کریډت | ۴،۶۵۸.۲۰ | ۵،۱۴۵.۰۵ | ۴،۹۸۳.۷۳ | ۴،۵۴۳.۶۵ | ۳،۹۴۶.۲۴ | -۱۳٪ |
| ډبټ | ۸،۶۹۸.۷۴ | ۷،۵۰۲.۹۲ | ۸،۱۰۸.۹۸ | ۸،۲۷۵.۴۲ | ۷،۶۰۰.۳۱ | -۸٪ |
| د توکو او خدمتونو حساب | -۷،۰۴۴.۳۸ | -۶،۱۹۱.۴۶ | -۶،۸۰۳.۵۶ | -۶،۳۷۴.۳۸ | -۵،۸۶۱.۳۶ | -۸٪ |
| کریډټ | ۱،۴۱۷.۳۰ | ۱،۱۳۶.۰۱ | ۱،۱۵۲.۹۰ | ۱،۶۰۹.۴۷ | ۱،۵۰۹.۲۱ | -۶٪ |
| ډبټ | ۸،۴۶۱.۶۸ | ۷،۳۲۷.۴۸ | ۷،۹۵۶.۴۶ | ۷،۹۸۳.۸۵ | ۷،۳۷۰.۵۸ | -۸٪ |
| د توکوحساب | -۶،۶۶۷.۷۴ | -۵،۵۹۴.۹۸ | -۵،۹۳۲.۲۵ | -۵،۷۲۰.۶۳ | -۵،۲۹۴.۱۷ | -۷٪ |
| کریډټ | ۵۷۷.۸۶ | ۶۱۴.۲۲ | ۷۸۳.۹۶ | ۸۷۵.۲۴ | ۸۶۳.۸۳ | -۱٪ |
| ډبټ | ۷،۲۴۵.۶۰ | ۶،۲۰۹.۱۹ | ۶،۷۱۶.۲۱ | ۶،۵۹۵.۸۷ | ۶،۱۵۸.۰۰ | -۷٪ |
| د خدمتونو حساب | -۳۷۶.۶۵ | -۵۹۶.۴۹ | -۸۷۱.۳۱ | -۶۵۳.۷۵ | -۵۶۷.۱۹ | -۱۳٪ |
| کریډټ | ۸۳۹.۴۴ | ۵۲۱.۸۰ | ۳۶۸.۹۳ | ۷۳۴.۲۳ | ۶۴۵.۳۸ | -۱۲٪ |
| ډبټ | ۱،۲۱۶.۰۹ | ۱ ۱۱۸.۲۸ | ۱ ۲۴۰.۲۴ | ۱ ۳۸۷.۹۷ | ۱ ۲۱۲.۵۷ | -۱۳٪ |
| د عوایدو لومړنی حساب | ۱۷۹.۹۷ | ۱۷۹.۵۵ | ۲۴۸.۳۲ | ۱۹۰.۷۳ | ۳۰۶.۶۶ | ۶۱٪ |
| کریډټ | ۲۸۶.۹۹ | ۲۳۹.۸۴ | ۲۹۹.۵۴ | ۲۸۹.۴۳ | ۳۵۲.۵۸ | ۲۲٪ |
| ډبټ | ۱۰۷.۰۲ | ۶۰.۲۹ | ۵۱.۲۲ | ۹۸.۷۰ | ۴۵.۹۲ | -۵۳٪ |
| د عوایدو ثانوي حساب | ۲،۸۲۳.۸۷ | ۳،۶۵۴.۰۵ | ۳،۴۳۰.۰۰ | ۲،۴۵۱.۸۷ | ۱،۹۰۰.۶۴ | -۲۲٪ |
| کریډټ | ۲،۹۵۳.۹۱ | ۳،۷۶۹.۲۰ | ۳،۵۳۱.۳۰ | ۲،۶۴۴.۷۵ | ۲،۰۸۴.۴۵ | -۲۱٪ |
| ډبټ | ۱۳۰.۰۳ | ۱۱۵.۱۵ | ۱۰۱.۳۰ | ۱۹۲.۸۸ | ۱۸۳.۸۱ | -۵٪ |
| جاري لیږدوني (رسمي بسپنې) | ۲،۸۳۸.۲ | ۳،۲۳۲.۰ | ۲،۶۱۳.۹ | ۱،۹۵۰.۴ | ۱،۳۳۱.۱ | -۳۲٪ |
| کریډټ | ۲،۸۳۸.۲۰ | ۳،۲۳۲.۰۱ | ۲،۶۱۳.۹ | ۱،۹۵۰.۴ | ۱،۳۳۱.۱ | -۳۲٪ |
| ډبټ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰ | ۰.۰ | ۰.۰ | |
| شخصي لیږدوني | -۱۴.۳۲ | ۴۲۲.۰۴ | ۸۱۶.۱۰ | ۵۰۱.۴۴ | ۵۶۹.۴۹ | ۱۴٪ |
| کریډټ | ۱۱۵.۷۱ | ۵۳۷.۱۹ | ۹۱۷.۴۰ | ۶۹۴.۳۲ | ۷۵۳.۳۰ | ۸٪ |
| ډبټ | ۱۳۰.۰۳ | ۱۱۵.۱۵ | ۱۰۱.۳۰ | ۱۹۲.۸۸ | ۱۸۳.۸۱ | -۵٪ |
| د پانګې حساب | ۱،۳۱۷.۵۷ | ۱،۰۹۳.۵۷ | ۱،۳۰۵.۶۹ | ۱،۳۱۴.۴۱ | ۸۲۳.۵۵ | -۳۷٪ |
| کریډټ | ۱،۳۱۷.۵۷ | ۱،۰۹۳.۵۷ | ۱،۳۰۵.۶۹ | ۱،۳۱۴.۴۱ | ۸۲۳.۵۵ | -۳۷٪ |
| ډبټ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | |
| پانګه ایزې لیږدونې | ۱،۳۱۷.۵۷ | ۱،۰۹۳.۵۷ | ۱،۳۰۵.۶۹ | ۱،۳۱۴.۴۱ | ۸۲۳.۵۵ | -۳۷٪ |
| کریډت | ۱،۳۱۷.۵۷ | ۱،۰۹۳.۵۷ | ۱،۳۰۵.۶۹ | ۱،۳۱۴.۴۱ | ۸۲۳.۵۵ | -۳۷٪ |
| ډبټ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | |
| مالي حساب | -۲۶۵.۳ | ۶۷۸.۴ | ۴۵۰.۸ | ۴۷۹.۳۵ | ۱۱۷.۱۸ | -۷۶٪ |
| مستقیمه پانګونه | -۱۶۶.۹۸ | -۷۹.۵۹ | -۴۰.۲۷ | -۸۰.۶۳ | ۲.۹ | -۱۰۴٪ |
| د مالي شتمنیو خالصه پیرنې | ۲.۱۶ | ۱۴.۰۱ | ۱۱.۲۶ | ۳۸.۸۰ | ۲۶.۳۲ | -۳۲٪ |
| د پوراینو خالصه مشمولیت | ۱۶۹.۱۵ | ۹۳.۵۹ | ۵۱.۵۳ | ۱۱۹.۴۴ | ۲۳.۴۲ | -۸۰٪ |
| د پورټو فولیو پانګونې | ۸۰.۶۸ | ۹۹.۴۷ | -۲۹.۵۷ | ۱۴۲.۷۰ | -۱۴.۶۲ | -۱۱۰٪ |
| د مالي شتمنیو خالصه پیرنې | ۸۰.۶۸ | ۹۹.۴۷ | -۲۹.۵۷ | ۱۴۲.۷۰ | -۱۴.۶۲ | -۱۱۰٪ |
| د پوراینو خالصه مشمولیت | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | |
| نورې پانګونې | ۱۱۱.۷۸ | ۳۰.۰۲ | -۵۰.۱۲ | ۲۵۳.۰۲ | ۲۴.۸۷ | -۹۰٪ |
| شتمنی | ۱۱۰.۵۱ | ۳۵.۷۳ | ۱۷.۶۵ | ۱۵۷.۶۹ | ۱۷.۹۵ | -۸۹٪ |
| پوراینې | -۱.۲۶ | ۵.۷۲ | ۶۷.۷۷ | -۹۵.۳۳ | -۶.۹۳ | -۹۳٪ |
| د شتمنیو زیرمې | -۲۹۰.۷۳ | ۶۲۸.۵۵ | ۵۷۰.۷۳ | ۱۶۴.۲۶ | ۱۰۴.۰۳ | -۳۷٪ |
| خالصه خطاګانې او تیروتنې | ۲،۴۵۸ | ۱،۹۴۳ | ۲،۲۷۰ | ۲،۸۹۷ | ۲،۹۴۸ | ۲٪ |

سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک

**۲.۴ جدول: د توکو سوداګري (په میلیون امریکایي ډالر)**

| کلونه | ۱۳۹۵ مالي کال | | ۱۳۹۶ مالي کال | | ۱۳۹۷ مالي کال | | ۱۳۹۸ مالي کال | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ټولیزه | ونډه (سلنه) | ټولیزه | ونډه (سلنه) | ټولیزه | ونډه (سلنه) | ټولیزه | ونډه (سلنه) |
| واردات | ۶،۶۷۲.۳۹ | ۱۰۰٪ | ۷،۴۴۸.۱۴ | ۱۰۰٪ | ۷،۴۰۶.۶۰ | ۱۰۰٪ | ۶،۷۷۶.۱۲ | ۱۰۰٪ |
| صنعتي مواد | ۵۳۶.۴۷ | ۸.۰٪ | ۸۸۳.۲۷ | ۱۲٪ | ۸۲۵.۶۸ | ۱۱٪ | ۸۱۵.۹۰ | ۱۲٪ |
| تیل او روغنیات | ۱،۰۷۸.۷۳ | ۱۶٪ | ۸۷۷.۶۵ | ۱۱.۸٪ | ۹۴۹.۷۸ | ۱۳٪ | ۱،۰۷۸.۰۱ | ۱۶٪ |
| لګښتي توکي | ۲،۱۲۰.۴۴ | ۳۲٪ | ۲،۹۸۱.۴۶ | ۴۰.۰٪ | ۲،۹۰۴.۲۳ | ۳۹٪ | ۲،۴۸۹.۸۰ | ۳۷٪ |
| پانګه ایزه توکي او داسې نور | ۲،۹۳۶.۷۵ | ۴۴٪ | ۲،۷۰۵.۷۵ | ۳۶٪ | ۲،۷۲۶.۹۰ | ۳۷٪ | ۲،۳۹۲.۴۰ | ۳۵٪ |
| صادرات | ۶۱۳.۸۰ | ۱۰۰٪ | ۷۸۳.۹۳ | ۱۰۰.۰٪ | ۸۷۵.۲۴ | ۱۰۰٪ | ۸۶۳.۸۳ | ۱۰۰٪ |
| غالي او ټغرونه | ۵۲.۵۱ | ۹٪ | ۲۳.۷۴ | ۳.۰٪ | ۲۲.۳۵ | ۳٪ | ۲۴.۹ | ۳٪ |
| خوراکي توکي | ۲۶۹.۹۱ | ۴۴٪ | ۴۴۱.۵۱ | ۵۶.۳٪ | ۴۱۷.۶۹ | ۴۸٪ | ۳۹۶.۵۳ | ۴۵.۹٪ |
| څرمن او وړی | ۵۵.۰۰ | ۹٪ | ۲۳.۱۳ | ۳.۰٪ | ۴۲.۳۲ | ۵٪ | ۴۳.۱۶ | ۵٪ |
| طبي بذرونه او نور | ۲۳۶.۳۸ | ۳۹٪ | ۲۹۵.۵۵ | ۳۷.۷٪ | ۳۹۲.۸۸ | ۴۴.۹٪ | ۳۹۹.۲۴ | ۴۶.۲٪ |
| سوداګریز بیلانس | -۶،۰۵۸.۵۸ | | -۶،۶۶۴.۲۱ | | -۶،۵۳۱.۳۶ | | -۵،۹۱۲.۲۹ | |

سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک

**۳.۴ جدول: د بهرنۍ سوداګرۍ لورې، ۱۳۹۸ مالي کال (په میلیون امریکایي ډالرو)**

| د هېواد نوم | صادرات | د ونډې سلنه | واردات | د ونډې سلنه | د سوداګرۍ بیلانس |
|---|---|---|---|---|---|
| پاکستان | ۲۹۸.۰۴ | ۳۵٪ | ۱،۰۵۸.۰۱ | ۱۶٪ | -۷۵۹.۹۷ |
| هند | ۴۱۰.۱۴ | ۴۷٪ | ۴۰۴.۹۱ | ۶٪ | ۵.۲۲ |
| ایران | ۱۴.۶۲ | ۲٪ | ۱،۲۴۷.۲۶ | ۱۸٪ | -۱،۲۳۲.۶۴ |
| جرمني | ۱۰.۸۸ | ۱.۳٪ | ۷۵.۸۲ | ۱٪ | -۶۴.۹۴ |
| چین | ۳۱.۰۰ | ۴٪ | ۱،۱۵۶.۶۸ | ۱۷٪ | -۱،۱۲۵.۶۸ |
| انګلستان | | ۰.۰۰٪ | ۴.۳۹ | ۰.۰۶٪ | -۴.۳۹ |
| سعودي عربستان | ۹.۳۷ | ۱٪ | | ۰.۰۰٪ | ۹.۳۷ |
| د عربو متحده امارات | | ۰.۰۰٪ | ۱۳۰.۱۴ | ۲٪ | -۱۳۰.۱۴ |
| ترکیه | | ۰.۰۰٪ | ۶۶.۰۲ | ۰.۹۷٪ | -۶۶.۰۲ |
| د امریکا متحده ایالات | | ۰.۰۰٪ | ۴۹.۷۳ | ۱٪ | -۴۹.۷۳ |
| د ګډو ګټو خپلواک هېوادونه | ۹.۴۷ | ۱٪ | ۱،۶۳۳.۷۸ | ۲۴٪ | -۱،۶۲۴.۳۱ |
| جاپان | | ۰.۰۰٪ | ۲۰۱.۲۱ | ۳٪ | -۲۰۱.۲۱ |
| نور هېوادونه | ۸۰.۳۱ | ۹٪ | ۷۴۸.۱۶ | ۱۱.۰۴٪ | -۶۶۷.۸۵ |
| ټولیزه | ۸۶۳.۸۳ | ۱۰۰٪ | ۶،۷۷۶.۱۲ | ۱۰۰٪ | (۵،۹۱۲.۲۹) |

**سرچینه:** د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک

## ۴.۴ جدول: د بهرنی سوداګری لوری، ۱۳۹۷ مالي کال (په میلیون امریکایي ډالرو)

| د هېواد نوم | صادرات | د ونډې سلنه | واردات | د ونډې سلنه | د سوداګری بیلانس |
|---|---|---|---|---|---|
| پاکستان | ۳۷۸.۲۴ | ۴۳٪ | ۱،۰۸۶.۸۶ | ۱۵٪ | – ۷۰۸.۶۲ |
| هند | ۳۵۹.۴۴ | ۴۱٪ | ۳۵۴.۲۸ | ۵٪ | ۵.۱۶ |
| ایران | ۱۹.۵۱ | ۲٪ | ۱،۲۶۴.۱۸ | ۱۷٪ | – ۱،۲۴۴.۶۷ |
| جرمني | ۵.۳۴ | ۰.۶٪ | ۶۵.۵۶ | ۱٪ | – ۶۰.۲۲ |
| د ګډو ګټو خپلواک هېوادونه | ۱۲.۶۷ | ۱٪ | ۱،۹۸۳.۵۹ | ۲۷٪ | – ۱،۹۷۰.۹۲ |
| چین | ۲۸.۴۱ | ۳٪ | ۱،۱۶۵.۹۴ | ۱۶٪ | – ۱،۱۳۷.۵۳ |
| عربي متحده امارات | | | ۵۸.۴۶ | | |
| سعودي عربستان | ۶.۶۰ | ۰.۰۰٪ | | ۱٪ | – ۵۸.۴۶ |
| ترکیه | | | ۴۵.۴۱ | ۰.۶۱٪ | |
| جاپان | | ۰.۰۰٪ | ۴۱۴.۰۲ | ۶٪ | – ۴۱۴.۰۲ |
| انګلستان | | ۰.۰٪ | ۴.۶۶ | ۰٪ | – ۴.۶۶ |
| امریکا متحده ایالات | | ۰.۰۰٪ | ۵۵.۰۳ | ۰.۷۴٪ | – ۵۵.۰۳ |
| نور هېوادونه | ۶۵.۰۳ | ۷.۴۳٪ | ۹۰۸.۶۲ | ۱۲.۲۷٪ | – ۸۴۳.۵۹ |
| ټولیزه | ۸۷۵.۲۴ | ۹۹٪ | ۷،۴۰۶.۶ | ۱۰۰٪ | (۶،۴۹۲.۵۵) |

## ۵.۴ جدول: بهرنی پورانېې، ۱۳۹۸ مالي کال (په میلیون امریکایي ډالرو)

| تشریحات | ۱۳۹۷ مالي کال | د ونډې سلنه | ۱۳۹۸ مالي کال | د ونډې سلنه |
|---|---|---|---|---|
| ټولیزه بهرني پوراینې | ۲،۱۰۲.۱۹ | ۱۰۰.۰۰ | ۱،۹۵۵.۵۲ | ۱۰۰.۰۰ |
| دوه اړخیزه پور ورکوونکي | ۹۹۰.۲۶ | ۴۷.۱۱ | ۹۲۳.۸۹ | ۴۷.۲۵ |
| پاریس کلب | ۸۸۹.۴۰ | ۴۲.۳۱ | ۷۸۴.۶۷ | ۴۰.۱۳ |
| د روسیې فدراسیون | ۸۸۹.۴۰ | ۴۲.۳۱ | ۷۸۴.۶۷ | ۴۰.۱۳ |
| امریکا متحده ایالات | | ۰.۰۰ | – | ۰.۰۰ |
| جرمني | | ۰.۰۰ | – | ۰.۰۰ |
| د پاریس کلب پرته | ۱۰۰.۸۶ | ۴.۸۰ | ۱۳۹.۲۲ | ۷.۱۲ |
| څو اړخیزه پور ورکوونکي | ۱،۱۱۱.۹۳ | ۵۲.۸۹ | ۱،۰۳۱.۶۴ | ۵۲.۷۵ |
| د پراختیا نړیواله ټولنه (نړیوال بانک) | ۳۴۶.۹۵ | ۱۶.۵۰ | ۳۳۶.۸۷ | ۱۷.۲۳ |
| آسیا پراختیایي بانک | ۶۴۹.۹۱ | ۳۰.۹۲ | ۵۶۲.۹۳ | ۲۸.۷۹ |
| د پیسو نړیوال صندوق | ۶۸.۲۰ | ۳.۲۴ | ۸۷.۶۴ | ۴.۴۸ |
| اسلامي پراختیایي بانک | ۴۵.۲۱ | ۲.۱۵ | ۴۲.۶۵ | ۲.۱۸ |
| د اوپک صندوق | ۱.۶۷ | ۰.۰۸ | ۱.۵۳ | ۰.۰۸ |

## ۶.۴ جدول: خالصه نړیوالې زیرمې ( په میلیون امریکایي ډالر)

| په تیره ربعه کې بدلونونه | ۱۳۹۶ مالي کال | د بدلون سلنه | ۱۳۹۷ مالي کال | د بدلون سلنه | ۱۳۹۸ مالي کال | د بدلون سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| خالصه نړیوالې زیرمې (په ملیون امریکایي ډالر) | ۷،۳۹۱.۰۵ | ۲۳.۲۲ | ۷،۶۴۹.۸۸ | ۳.۵۰ | ۷،۸۰۴.۷۲ | ۲.۰۲ |
| د شتمنی زیرمې | ۸،۲۱۴.۵۲ | ۲۲.۷۱ | ۸،۳۰۹.۸۸ | ۱.۱۶ | ۸،۴۰۹.۶۹ | ۱.۲ |
| د پوراینې زیرمې | ۸۲۳.۴۷ | ۱۰.۹۱ | ۶۶۰.۰۰ | – ۱۹.۸۵ | ۶۰۴.۹۸ | – ۸.۳ |
| په بهرنیو اسعارو د سوداګریزو بانکونو امانتونه | ۷۶۰.۴۸ | ۴.۰۰ | ۶۰۰.۶۴ | –۲۱.۰۲ | ۵۴۹.۲۲ | – ۸.۶ |
| په بهرنیو اسعارو د نا میشتو امانتونه | ۰.۱۴ | – ۸۹.۵۷ | ۰.۱۴ | ۰.۰۰ | ۰.۱۴ | ۰.۰۰ |
| له تمویلي سرچینو څخه ګټه اخیستنه | ۶۲.۸۵ | ۱۷.۵۳ | ۵۹.۲۲ | – ۵.۷۷ | ۵۵.۶۲ | – ۶.۰۸ |
| نا خالصه نړیوالې زیرمې (د وارداتو د میاشتې په اساس) | ۱۳.۲۳ | | ۱۳.۳۹ | | ۱۳.۶۳ | |
| خالصه نړیوالې زیرمې (د وارداتو د میاشتې په اساس) | ۱۳ | | ۱۲ | | ۱۳ | |

**سرچینه:** د احصائیې او معلوماتو ملي اداره / د افغانستان بانک

# ۵

# د مالي سکتور بدلونونه

# ۵
# د مالیاتي سکتور بدلونونه

د مالیاتي سکتور بنسټیزې موخې د عوایدو د راټولیدو زیاتوالی او د هغو کړنو پر له پسې پوښښ رانغاړي چې د عملیاتي او پراختیایي لګښتونو له لارې تأمینیږي او په ورته وخت کې د دې برخې موخه د افغانستان د سولې او د پراختیا له ملي اړانې (ANPDF) سره سم د لګښتونو له تخصیص څخه د ډاډ ترلاسه کول دي.

سربېره پر دې، د عامه لګښتونو د زیاتوالي مدیریت، د مالي پالیسۍ جوړول، په عامه تشبثاتو کې اغیزناکتیا او د مالیاتو او ګمرکونو اداره کول د دې سکتور نورې موخې ګڼل کیږي. د غوړیدو او پرمختګ په حال کې هېوادونو په شان افغانستان هم په دوامداره توګه د بودجې له کسر سره مخ دی.

همدا ډول ټولیزه اصلي لګښتونه چې د ټولیزه کورنیو عوایدو په پرتله ډېر دي، په ۱۳۹۸ مالي کال کې ( له بسپنو پرته) ۲۰۳.۶۲ میلیارده افغانۍ کسر لري، حال دا چې د بسپنو په ګډون د بودجې کسر په تیر کال کې د ۱۳.۶۱ میلیارده افغانۍ زیاتوالي په پرتله د ارزونې لاندې موده کې ۱۱.۲۴ میلیارده افغانۍ کسر ثبت کړی دی.

ټولیزه کورني عواید په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۲۰۸.۴۲ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ۱۸۶.۸۴ میلیارده افغانۍ ثبت شوې کچې په پرتله ۱۸.۵۷ میلیارده افغانۍ یا ۹.۸۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د دې زیاتوالي اصلي لامل په مالیاتو کې زیاتوالی، د طلب لاندې سرچینو، اداري فیسونو او د توکو او خدمتونو د خرڅلاو زیاتوالی ګڼل کیږي. په ورته وخت کې، ټولیزه اصلي لګښتونه په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۴۱۲ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ۳۸۴.۵۲ میلیارده افغانۍ په پرتله زیاتوالی په ګوته کوي.

**۱.۵ ګراف: د ټولیزه عوایدو، لګښتونو او بسپنو پرتلنه، ۱۳۹۷ مالي کال – ۱۳۹۸ مالي کال**




سرچینه: د مالیې وزارت مالي صورت حساب/ د پولي سیاست آمریت

له بلې خوا، د بسپنه ورکوونکو مالي مرستې (بسپنې) عملیاتي او پراختیایي لګښتونه تر پوښښ لاندې نیسي. د بسپنه ورکوونکو ټولیزه بسپنې چې عملیاتي او پراختیایي برخو ته ځانګړې شوي دي، په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۱۹۲.۳۸ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۷ مالي کال د ۲۰۸.۲۸ میلیارده افغانۍ ثبت شوې کچې په پرتله ۱۵.۹۰ میلیارده افغانۍ یا ۸ سلنه کموالی ښکاره کوي چې په کلني توګه د مرسته کوونکي د ژمنه شوي پور په ورکړه او اداینه کې بدلون یې ستر لامل ګڼل کیږي.

سربېره پر دې، ټولیزه اصلي بودجه په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۳۹۹.۴۱ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر مالي کال د ۳۷۷.۱۹ میلیارده افغانۍ ثبت شوې کچې په پرتله ۲۲.۲۳ میلیارده افغانۍ یا ۵.۹ سلنه د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي.

**۱.۵. د بودجې د اجراء نرخ**

د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې دولت د ۴۴۵.۷۷ میلیارده افغانۍ ځانګړې شوې بودجې ( ټولیزې اصلي بودجې) ۸۹ سلنه په لګښت رسولې، حال دا چې دولت په ۱۳۹۷ مالي

کال کې له ۳۷۷.۱۹ میلیارده افغانۍ ځانګړې شوې بودجې څخه ۸۳ سلنه بودجه مصرف کړې وه چې په ټولیزه اصلي بودجه کې ۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د ټولیزې اصلي بودجې د زیاتیدو اصلي لاملونه په خپل وخت د تدارکاتو د ملي اداري لخوا د لګښتونو (مخارجو) د پروسې مراحلو ترسره کول او تصویب، په ولایتونو کې امنیتي وضعیت او د اړوندو بودجوي واحدونو لخوا د کړنو ښه والی ګڼل کیږي.

۲.۵ ګراف: د ۱۳۹۷ مالي کال او ۱۳۹۸ مالي کال ترمنځ د ټولیزې بودجې پرتله




سرچینه: د ماليې وزارت مالي صورت حساب/ د پولي سیاست آمریت

د عملیاتي بودجې د اجراء نرخ په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۹۱ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ۷۸ سلنې په پرتله ۱۳.۹ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي. همدا ډول د پراختیایي بودجې د اجراء نرخ په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۸۵.۲ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ۷۳.۲ سلنې په پرتله ۱۲ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي.

۳.۵ ګراف: د عملیاتي او پراختیایي بودجې د اجراء پرتلنه، ۱۳۹۶ مالي کال او ۱۳۹۷ مالي کال




سرچینه: د ماليې وزارت مالي صورت حساب/ د پولي سیاست لوی آمریت

### ۲.۵. د اصلي بودجې (کسر او ډېرېدنه)

د بسپنه ورکوونکو له مرستو مخکې د ټولیزې بودجې کسر په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۲۰۳.۶۲ میلیارده افغانۍ ته رسیده چې د تیر کال د ورته مودې د ۱۹۴.۶۸ میلیارده افغانۍ کسر په پرتله ۸.۹۵ میلیارده افغانۍ یا ۴.۵۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. په ورته وخت کې د بسپنه ورکوونکو د مرستو کچه د تیرې دورې له ۲۰۸.۲۸ میلیارده افغانۍ څخه په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۱۹۲.۳۸ میلیارده افغانۍ ته راښکته شوې دي. عملیاتي بودجه په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۲۷۵.۲۲ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ۲۶۶.۱۳ میلیارده افغانۍ په پرتله ۳.۴ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. سربیره پر دې، پراختیایي بودجه په یاده موده کې ۱۲۴.۱۹ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ۱۱۱.۰۶ میلیارده افغانۍ په پرتله ۱۱.۸۳ سلنه د پام وړ زیاتوالی په ګوته کوي. د پراختیایي بودجې د زیاتیدو اصلي لامل د بسپنو په کچه کې زیاتوالی او د ۱۳۹۸ مالي کال لپاره د بودجې منظم او مناسب تخصیص ګڼل کیږي. د دې ترڅنګ، ټولیزه بهرنۍ پلان شوې کلنۍ تمویلي سرچینې په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۱۹۹.۰۲ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر مالي کال د ۱۹۱.۲۸ میلیارده افغانۍ په پرتله ۴.۰۴ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي.

۴.۵ ګراف: د اصلي بودجې کسر او ډېریدنه (د بسپنو په ګډون او له بسپنو پرته)، ۱۳۹۷ مالي کال – او ۱۳۹۸ مالي کال




سرچینه: د ماليې وزارت مالي صورت حساب/ د پولي سیاست آمریت

## ۳.۵ ټولیزه عواید

د بسپنو په ګډون ټولیزه عواید په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۴۰۰.۸۰ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر مالي کال د ۳۹۸.۱۲ میلیارده افغانۍ ثبت شوې کچې په پرتله ۲.۶۸ میلیارده افغانۍ یا ۰.۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د پلان شویو کورنیو عوایدو کلنۍ راټولیدنې په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۱۸۸.۰۱ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر مالي کال د ۱۶۱.۶۲ میلیارده افغانۍ ثبت شوې کچې په پرتله ۲۶.۳۸ میلیارده افغانۍ یا ۱۶.۳۲ سلنه د پام وړ زیاتوالی په ګوته کوي. سربېره پر دې، د ۱۳۹۷ مالي کال د بودجې د کسر په له منځه وړلو او د ټولیزه عوایدو په راټولولو کې ټولیزه کورنیو عوایدو او د بسپنه ورکوونکو مرستو د پام وړ رول لوبولی څو د هېواد کلنۍ بودجه ډېره کړي.

همدا ډول په ۱۳۹۸ مالي کال کې د ټولیزه عوایدو په راټولیدو کې د زیاتیدو بنسټیز لاملونه په مالیاتي عوایدو (د خرڅلاو مالیاتو، ملکیتي مالیاتو، عایداتي مالیاتو او مالیاتي جریمو)، ټولنیزې ونډې او د عوایدو په نورو سرچینو (د پانګې له ملکیت، د طلب وړ سرچینو او داسې نورو څخه ترلاسه شویو عوایدو) کې د پام وړ زیاتوالی ګڼل کېږي. که څه هم په ګمرکي محصولونو، د امتیاز په حقونو او متفرقه عوایدو کې کموالی او د بسپنه ورکوونکو په مرستو کې د پام وړ بدلون راغلی دی.

**۵.۵ ګراف: د ټولیزه عوایدو ، لګښتونو او بسپنو ونډه، ۱۳۹۸ مالي کال**




سرچینه: د مالیې وزارت مالي صورت حساب/ د پولي سیاست آمریت

**۶.۵ ګراف: د ټولیزه عوایدو ونډه، ۱۳۹۸ مالي کال**




سرچینه: د مالیې وزارت مالي صورت حساب / د پولي سیاست آمریت

### ۱.۳.۵ کورني عواید

د کورنیو عوایدو ټولیزه راټولیدنې په ۱۳۹۸ مالي کال کې ښې شوي دي چې د تیر مالي کال په پرتله د پام وړ زیاتوالی په ګوته کوي، حال دا چې د دولت لخوا دا اقدامات په ۱۳۹۸ مالي کال کې د ناخالصه کورنیو تولیداتو د کسر په کمولو کې کافي ګڼل کېږي.

د کورنیو عوایدو په راټولیدو کې د زیاتوالي اصلي لاملونه د مالیاتي عوایدو (عایداتي مالیاتو، د خرڅلاو مالیاتو، ملکیتي مالیاتو او ثابتو مالیاتو) په عوایدو، ټولنیزو ونډو او ټولیزه نورو عوایدو (د پانګې له ملکیت څخه ترلاسه شوي عواید، اداري فیسونه، د ځمکې او ودانیو خرڅلاو او د طلب وړ سرچینو څخه ترلاسه شوي عواید) کې زیاتوالی ګڼل کېږي. له بلې خوا، ټولیزه کورني عواید په ۱۳۹۸ مالي کال ۲۰۸.۴۲ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر مالي کال د ۱۸۹.۸۴ میلیارده افغانۍ ثبت شوې کچې په پرتله ۱۸.۵۷ میلیارده افغانۍ یا ۹.۸۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

**۷.۵ ګراف: د ټولیزه کورنیو عوایدو پرتله، ۱۳۹۷ مالي کال او ۱۳۹۸ مالي کال (مبلغ په زر افغانۍ)**




سرچینه: د مالیې وزارت مالي صورت حساب/ د پولي سیاست آمریت

شته شمېرې ښکاره کوي چې د ټولیزه عوایدو بېلابېلو برخو لکه؛ ثابتو مالیاتو په ۱۳۹۸ مالي کالي کې له ۱۲.۶۴ میلیارده افغانۍ څخه ۱۲.۷۳ میلیارده افغانۍ، د خرڅلاو مالیاتو له ۳۲.۴۵ میلیارده افغانۍ څخه ۳۴.۱۱ میلیارده افغانۍ ته او عایداتي مالیات له ۳۰.۰۸ میلیارده افغانۍ څخه په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۳۱.۷۹ میلیارده افغانۍ ته زیات شوي دي، حال دا چې د کورنیو عوایدو ځینو برخو لکه؛ متفرقه عواید له ۲۵.۱۵ میلیارده افغانۍ څخه ۱۵.۶۴ میلیارده افغانۍ ته او استخراجي صنعت له ۲.۳۰ میلیارده افغانۍ څخه ۱.۸۰ میلیارده افغانۍ ته ټیټوالی موندلی دی.

**۸.۵ ګراف: په ۱۳۹۸ مالي کال کې د غیر مالیاتي عوایدو عمده برخې**




سرچینه: د مالیې وزارت مالي صورت حساب/ د پولي سیاست آمریت

## ۲.۳.۵. غیر مالیاتي عواید

غیر مالیاتي عواید چې د کورنیو عوایدو عمده برخه جوړوي، په ۱۳۹۸ مالي کال ۹۰.۷۶ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر مالي کال د ۷۷.۱۰ میلیارده افغانۍ ثبت شوې کچې په پرتله ۱۷.۷۲ سلنه یا ۱۳.۶۶ میلیارده افغانۍ د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي. د غیر مالیاتي عوایدو د زیاتیدو اصلي لامل د پانګه ایزو شتمنیو څخه ترلاسه شویو عوایدو، ادراي فیسونو، د تقاعد د ونډو او په متفرقه عوایدو کې د پام وړ زیاتوالی ګڼل کیږي.

د غیر مالیاتي عوایدو تر ټولو ستره برخه د تقاعد ونډې جوړوي، د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې ۵.۵۱ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ۵.۴۹ میلیارده افغانۍ په پرتله ۰.۴۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي، حال دا چې د طلب وړ سرچینو څخه ترلاسه شوي عواید له ۲.۶۲ میلیارده افغانۍ څخه ۲۶.۳۹ میلیارده افغانۍ ته لوړ شوي چې ۹۰۸.۵۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. همدا ډول، له پانګه ایزو شتمنیو څخه ترلاسه شوي عواید په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۲.۳۹ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ۲.۲۹ میلیارده افغانۍ په پرتله ۴.۲۵ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. له بلې خوا، متفرقه عواید له ۲۵.۵۰ میلیارده افغانۍ څخه په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۱۵.۶۴ میلیارده افغانۍ ته راټیټ شوي چې ۳۸.۶۷ سلنه کموالی ښکاره کوي.

**۹.۵ ګراف: د ۱۳۹۷ مالي کال او ۱۳۹۸ مالي کال د ټولیزه غیر مالیاتي عوایدو د عمده برخو پرتله**




سرچینه: د مالیې وزارت مالي صورت حساب/ د پولي سیاست آمریت

## ۳.۳.۵ د بسپنه ورکوونکو مرستې

د بسپنه ورکوونکي مرستې د ملي بودجې مهمه برخه جوړوي چې دا بسپنې په دواړو عملیاتي او پراختیایي بودجو کې عمده لګښتونه تمویلوي. همدا ډول د افغانستان حکومت له بېلابېلو بسپنه ورکوونکو، د پیسو له صندوقونو او نړیوالو کمیټو څخه په عملیاتي او پراختیایي لګښتونو کې د یو لړ پروګرامونو د تمویل په موخه مالي مرستې او کله کله پورونه ترلاسه کوي.

سربېره پر دې مالي ثبات هغه ته وایي چې ټولیزه کورنۍ

لګښتونه د ټولیزه کورني عوایدو له لارې تمویل شي، حال دا چې د افغانستان کورني لګښتونه په نسبي توګه د بهرنیو مالي مرستو او پورونو او پاتې برخه یې د کورنیو عوایدو له لارې تمویلیږي.

همدا ډول، د بسپنو کچه په دې وروستیو کلونو کې راکمه شوې چې د افغانستان د بیارغونې لپاره د پیسو صندوق (ARTF)، د افغانستان د نظم او قانون لپاره د پیسو صندوق (LOTFA)، د امنیت د لیږد لپاره د ګډو ځواکونو قوماندانۍ (CSTC-A)، نړیوال بانک، اسیایي پراختیایي بانک او نور د افغانستان عمده بسپنه ورکوونکي دي.

له بلې خوا، ټولیزه پراختیایي او عملیاتي بسپنې په ۱۳۹۸ مالي کال ۱۹۲.۳۸ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر مالي کال د ۲۰۸.۲۸ میلیارده افغانۍ په پرتله ۱۵.۹۰ میلیارده افغانۍ کموالی ښکاره کوي. په پرتلیزه توګه، د افغانستان د نظم او قانون لپاره د پیسو صندوق (LOTFA) مرستې په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۲۳.۴۵ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ۲۵.۰۱ میلیارده افغانۍ په پرتله ۶ سلنه کموالی په ګوته کوي، حال دا چې د امنیت د لیږد لپاره د ګډو ځواکونو د قوماندانۍ- (CSTC-A) دفاع وزارت، کورنیو چارو وزارت او ناټو مالي مرستې په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۵۶.۵۸ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ۵۹.۵۹ میلیارده افغانۍ په پرتله ۵ سلنه کموالی ښکاره کوي.

**۱۰.۵ ګراف: د ۱۳۹۷ مالي کال او د ۱۳۹۸ مالي کال د ټولیزه کلنیو بسپنو شننه**




سرچینه: د مالیې وزارت مالي صورت حساب/ د پولي سیاست آمریت

**۱۱.۵ ګراف: د ۱۳۹۷ مالي کال او د ۱۳۹۸ مالي کال د بسپنه ورکوونکو د بسپنو عمده برخې**




سرچینه: د مالیې وزارت مالي صورت حساب/ د پولي سیاست آمریت

**۱۲.۵ ګراف: د ۱۳۹۷ مالي کال او د ۱۳۹۸ مالي کال د بسپنه ورکوونکو د بسپنو**




سرچینه: د مالیې وزارت مالي صورت حساب/ د پولي سیاست آمریت

### ۴.۵ لګښتونه

اصلي لګښتونه په پراختیایي او عادي لګښتونو ډله بندي شوي چې د اتو بیلابیلو سکتورونو لکه؛ امنیتي، دولتي، ښوونې او روزنې، روغتیا، کرنې، ټولنیزه خوندیتوب، بیخ بنسټونو او د اقتصادي مدیریت لپاره ځانګړي شوي دي. همدا ډول دا لګښتونه د سکتور دواړو برخو یعني عملیاتي او پراختیایي بودجو لپاره ځانګړي شوي، حال دا چې د بیخ بنسټونو سکتور، د اقتصاد د مدیریت سکتور او د کرنې د سکتور لګښتونه د افغانستان د پراختیا د ملي ستراتیژۍ د لومړیتوبونو له مخې ترسره شوي دي. سربېره پر دې، ټولیزه اصلي لګښتونه په ۱۳۹۸ مالي کال ۴۱۲.۰۴ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تېر کال د ۳۸۴.۵۲ میلیارده افغانۍ په پرتله په ټولیزه پراختیایي او عملیاتي لګښتونو کې ۲۷.۵۲ میلیارده افغانۍ یا ۷.۱۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. په اصلي لګښتونو کې د زیاتیدو اصلي لاملونه د کارکوونکو په

معاشونو او پانګه ایزو لګښتونو کې زیاتوالی ګڼل کېږي. همدا ډول عملیاتي لګښتونه په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۲۷۲.۸۷ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۷ مالي کال د ۲۵۸.۰۲ میلیارده افغانۍ په پرتله ۱۴.۸۵ میلیارده افغانۍ ( ۵.۷۵ سلنه) زیاتوالی ښکاره کوي.

په ورته وخت کې پراختیایي لګښتونه د ۱۰.۰۲ سلنې د پام وړ زیاتوالي په درلودلو سره د ۱۳۹۷ مالي کال له ۱۲۶.۴۹ میلیارده افغانۍ څخه په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۱۳۹.۱۶ میلیارده افغانۍ ته زیات شوي دي چې د تیر کال په پرتله په پراختیایي لګښتونو کې د پام وړ ۱۲.۶۷ میلیارده افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي.

**۱۳.۵ ګراف: د ټولیزه لګښتونو پرتله، ۱۳۹۷ مالي کال ـ ۱۳۹۸ مالي کال**




سرچینه: د مالیې وزارت مالي صورت حساب/ د پولي سیاست آمریت

# ٦

## د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی

## ۶
## د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی

د بانکي نظام د کړنو د څرنګوالي تر سرلیک لاندې په دې څپرکي کې د کال په کال مالي بهیرونو ته عمومي کتنه کیږي او د مهمو مالي شاخصونو په اړه د مالي احصائیې ګرافونه، جدولونه او سرچینې وړاندې کیږي.
بانکي نظام په ټولیزه توګه ۱۳ مجوز بانکونه رانغاړي چې له ډلې درې یې دولتي، اته یې خصوصي بانکونه، یو بشپړ اسلامي بانک[1] او دوه نور یې د بهرنیو بانکونو نماینده ګۍ دي. په ۱۳۹۸ مالي کال کې د بانکي نظام د کړنو له شننې وروسته د اسلامي بانکدارۍ[2] برخه وړاندې کیږي.

د ۱۳۹۸ مالي کال په پای کې ترلاسه شوي معلومات په ډاګه کوي چې بانکي نظام د تیر کال په پرتله ټیټېدونکی بهیر درلودلی دی. همدا ډول، د ټولیزه شتمنیو، نا خالصه پورونو او امانتونو کچه راکمه شوې ده چې د پورونو تصفیه او د پورونو حذفول، د بهرني بانک د یوې نماینده ګۍ تړل کیدل، د ونډو ورکړه او د امانتونو ویستل یې اصلي لاملونه په ګوته شوي دي، حال دا چې د اکویټي پانګه د ګټورتیا له امله زیاته شوې ده. په ورته وخت کې، سیالیت په کافي حد کې دی، خو د بانکي نظام د شتمنیو کیفیت لا هم ټیټ پاتې دی.

### ۱.۶ د بانکي نظام شتمنۍ

د بانکي نظام شتمنۍ په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۳۱۳.۰۶ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ۰.۱۵ سلنه کموالي په پرتله ۰.۸۲ سلنه کموالی ښکاره کوي (د لا وضاحت لپاره ۱.۶ جدول ته مراجعه وکړئ). د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د کمېدو اصلي لاملونه د امانتونو(په زیاته کچه د مشتریانو د جاري امانتونو) ویستل، د یو بهرني بانک د نماینده ګۍ تړل کیدل او د ونډو ورکړه ګڼل کیږي. د ټولیزه شتمنیو جلا شننه ښکاره کوي چې د بانکونو ترمنځ طلباتو (ډالري حسابونو) د پام وړ کموالی موندلی دی، حال دا چې خالصو پورونو (په امریکایي ډالرو پورونو)، په خزانه کې نغدو پیسو او پر د افغانستان بانک باندې طلباتو لږ څه کموالی ثبت کړی دی.

د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د پورټوفولیو مهمې برخې په خزانه کې نغدې پیسې او پر د افغانستان بانک باندې طلبات (۴۲.۹۷ سلنه)، د بانکونو ترمنځ خالصه طلبات (۲۶.۶۲ سلنه)، خالص پورونه (۱۱.۵۴ سلنه)، پانګونې (۱۱.۱۳ سلنه)، نورې خالصې شتمنۍ (۴.۹۷ سلنه) او ثابتې شتمنۍ د ټولیزه شتمنیو (۳.۱۱ سلنه) جوړوي، حال دا چې د بیرته ترلاسه شویو شتمنیو او ناملموسو شتمنیو ونډه ډیره کمه شوې ده (د لا زیاتو معلوماتو لپاره ۱.۶ جدول ته مراجعه وکړئ).
د بانکي نظام په ټولیزه شتمنیو کې تر ټولو ډیره ۶۷.۲۴ سلنه ونډه خصوصي بانکونو ثبت کړې ده، (اسلامي بانک د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۶.۹ سلنه جوړوي). ورپسې دولتي بانکونه ۲۷.۱۲ سلنه ونډه لري، حال دا چې د بهرنیو بانکونو نماینده ګۍ د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۵.۶۴ سلنه جوړوي.

---

۱: د بانکي نظام په بولټن کې اسلامي بانک د خصوصي بانکونو یوه برخه ده.
۲: د اسلامي بانکوالۍ نظام له یو اسلامي بانک او اته دریځو څخه جوړ شوی دی.

۱.۶ ګراف: د بانکي نظام په ټولیزه شتمنیو کې د بانکي ګروپونو ونډه




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

| ۱.۶ جدول: د بانکي نظام شتمنی، پورواینې او پانګه | | | | |
|---|---|---|---|---|
| مبلغ په میلیون افغانۍ | ۲۰۱۸ دسمبر | ۲۰۱۹ دسمبر | د ټولیزه شتمنی / پورواینې سلنه | وده |
| شتمنی | | | | |
| په خزانه کې نغدي پیسې او په د افغانستان بانک باندې طلبات | ۱۳۵،۳۶۹ | ۱۳۱،۳۹۲ | ۴۲ ٪ | -۲.۹٪ |
| د بانکونو ترمنځ طلبات (نګه) | ۹۴،۶۷۷ | ۸۳،۳۳۸ | ۲۶.۶٪ | -۱۱.۹ ٪ |
| پانګونې (نګه) | ۲۴،۹۵۱ | ۳۴،۸۴۸ | ۱۱.۱ ٪ | ۳۹.۷ ٪ |
| پورونه (نګه) | ۳۷،۳۶۳ | ۳۶،۱۲۷ | ۱۱.۵ ٪ | -۳.۳ ٪ |
| بیرته ترلاسه شوې شتمنی | ۸۸۲ | ۱،۰۸۷ | ۰.۳ ٪ | ۲۳.۳ ٪ |
| نورې شتمنی | ۱۳،۳۰۰ | ۱۵،۵۵۵ | ۵ ٪ | ۱۶.۹ ٪ |
| نا ملموسه شتمنی | ۹۰۱ | ۹۷۱ | ۰.۳ ٪ | ۷.۸٪ |
| ثابتې شتمنی | ۸،۲۲۳ | ۹،۷۵۱ | ۳.۱٪ | ۱۸.۶٪ |
| ټولیزه شتمنی | ۳۱۵،۶۶۶ | ۳۱۳،۰۶۹ | ۱۰۰٪ | -۰.۸۲ ٪ |
| پورواینې | | | | |
| ټولیزه امانتونه | ۲۷۳،۳۳۵ | ۲۶۶،۵۷۶ | ۹۶.۱ ٪ | -۲.۵٪ |
| پور اخیستنې | ۳،۰۶۸ | ۴،۶۱۵ | ۱.۷ ٪ | ۵۰.۴٪ |
| نورې پورواینې | ۴،۹۴۳ | ۶،۱۷۴ | ۲.۲ ٪ | ۲۴.۹٪ |
| ټولیزه پورواینې | ۲۸۱،۳۴۵ | ۲۷۷،۳۶۵ | ۱۰۰٪ | -۱.۴ ٪ |
| مالي پانګه | ۳۴،۳۲۰ | ۳۵،۷۰۴ | | ۴.۰٪ |
| ټولیزه پورواینې او پانګه | ۳۱۵،۶۶۶ | ۳۱۳،۰۶۹ | | -۰.۸۲ ٪ |
| سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک | | | | |

### ۱.۱.۶ ناخالصه پورونه

د بانکي نظام د ټولیزه ناخالصه پورونو پورټوفولیو د ۱۳۹۸ مالي کال تر پایه پورې ۴۱.۱۵ میلیارده افغانۍ ته رسیږي او د ټولیزه شتمنیو په سلو کې ۱۳.۱۴ جوړوي چې د ۲۰۱۸ کال د ډسمبر د پای د ۴۱.۴۳ میلیارده افغانۍ او ۰.۸۷ سلنې په پرتله د کال په کال شمېرو پر بنسټ ۰.۶۹ سلنه کموالی ښکاره کوي او تیر کال یې د ټولیز شتمنیو په سلو کې ۱۳.۱۳ جوړوله. د بانکي نظام د ټولیزه ناخالصه پورونو د کمیدو اصلي لاملونه د پورونو تصفیه او د پورونو حذفول ګڼل کېږي.

۲.۶ ګراف: د ناخالصه پورونو په پورټوفولیو کې د بانکي ګروپونو ونډه




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د پور په پورټوفولیو کې زیاتوالی په څلورو بانکونو پورې تړاو لري، په داسې حال کې چې اوو بانکونو د خپل پور په پورټوفولیو کې کموالی او پاتې دوو بانکونو په پور ورکړه کې ونډه اخیستې نه ده.

د بانکي ډلو ترمنځ جلا شننه ښکاره کوي چې خصوصي بانکونو د کال په کال شمېرو پر بنسټ په ټولیزه پورټوفولیو کې د ۸۸.۷۰ سلنه ونډې په لرلو سره ۰.۸۹ سلنه کموالی ثبت کړی، حال دا چې دولتي بانکونو د بانکي نظام په پورټوفولیو کې د ۱۰.۵۶ سلنې ونډې په درلودلو سره ۴.۵۵ سلنه او د بهرنیو بانکونو نمایندګیو د ۰.۷۴ سلنې ونډې په درلودلو سره ۳۲ سلنه کموالی موندلی دی.

### ۲.۱.۶ د پور د زیان زېرمې

د اعتباري خطر د کچې د ارزولو پر مهال، بانکونه باید د خطر د کمولو د اډانې له مخې د اعتباري خطر د کمولو ابزارونو ته پاملرنه وکړي. د شتمنیو د ډلبندۍ او د نوې مقررې د حکمونو له مخې، بانکونه اړ دي څو د غیر معیاري شتمنیو لپاره ځانګړې شرایط جوړ کړي، حال دا چې د اعتباري خطر د راکمولو په موخه د معیاري پورونو په برخه کې د زېرمو جوړول اختیاري ګڼل کېږي.

د ۲۰۱۹ مالي کال د ډسمبر په پای کې د ټولیزه ناخالصه پورونو ټولیزه تأمین شوې ونډه ۱۲.۲۱ سلنه رسیږي، په داسې حال کې چې د ۲۰۱۸ مالي کال د ډسمبر په پای کې دا شمېره ۹.۸۳ سلنې ته رسیده.

### ۳.۱.۶ د کریډټ وېشنه

په بیلابیلو سکتورونو کې د ناخالصو پورونو له ډله بندۍ څخه معلومیږي چې ځینو سکتورونو ته د نورو په پرتله زیات پورونه ورکول کېږي. د یادونې وړ ده چې د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د سوداګرۍ سکتور ته ویشل شوي پورونه د ناخالصو پورونو ۴۴.۳۶ سلنه جوړوي چې د تیر کال د ۴۵.۳۴ سلنې په پرتله ۰.۹۹ سلنه کموالی ښکاره کوي (زیات شمېر یې په نورو اقلامو، سیمنټو او نورو رغنیزو موادو کې ویشل شوي دي)؛ په نورو عمده سکتورونو کې د "خدمتونو سکتور" لپاره ځانګړي شوي پورونه د ناخالصو پورونو (د ۲۰.۵۴ سلنې په پرتله ۲۲.۱۵ سلنه) جوړوي چې په کې ځمکني ټرانسپورټ ته زیات پورونه ځانګړي شوي دي، د "تولیدي او صنعت" سکتور لپاره (۱۲.۱۹ سلنې په پرتله ۱۱.۰۳ سلنه)، د "د بیخبنسټیزو پروژو" سکتور لپاره (د ۶.۸۳ سلنې په پرتله ۸.۷۵ سلنه)، د " سوداګریزو حقیقي ملکیتونو او رغونې سکتور" لپاره (د

۹.۰۳ سلنې په پرتله ۷.۵۱ سلنه)، د ″ کرنې، مالدارۍ او فارمونو او د لګښتي توکو پورونو″ سکتور (د ۱۳۹۷ مالي کال د ۶.۰۶ سلنې په پرتله په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۶.۲۱ سلنه) ځانګړي شوي دي. په ورته وخت کې، په څلورو سکتورونو لکه؛ د بیخبنسټیزو پروژو، خدمتونو، د مالدارۍ، فارمونو او لګښتي توکو سکتورونو په پورونو کې زیاتوالی راغلی، حال دا چې د سوداګریزو حقیقي ملکیتونو او رغونې، تولیدي او صنعت، سوداګرۍ او کرنې سکتورونو پورونه کم شوي دي.

همدا ډول، د منځنیو، کوچنیو او وړو پورونو سکتور ته ځانګړي شوي پورونه راکم شوي چې د بانکي نظام د نهو بانکونو لخوا وړاندې کېږي (د لا ډیرو معلوماتو لپاره ۳.۶ جدول ته مراجعه وکړئ). څو اقتصادي سکتورونو ته د پورونو په ځانګړي کولو سره بانکونه د ځانګړي سکتور د کړکیچن کېدو په صورت کې د هغه له اعتباري خطر سره مخ کېږي چې دا کار د بانکوالۍ پر ټولو سکتورونو باندې ناوړه اغېزه پرېږدي. له همدې امله بانکونه باید د صعب الحصول پورونو د لوړ نسبت په پام کې نیولو سره د مهمو سکتورونو اړوند خطرونه له نږدې وڅاري.

شاوخوا ۷۳ سلنه پورونه د کابل لپاره ځانګړي شوي، حال دا چې د بلخ او هرات ولایتونه په ترتیب سره په دویم او درېیم ځای او ورپسې بادغیس او قندهار ولایتونه په څلورم او پنځم ځای کې راغلي دي.

**۲.۶ جدول: د سکتورونو پر بنسټ د پورونو وېش**

| | د ۱۳۹۳ لیندۍ (د ۲۰۱۴ ډیسمبر) | د ۱۳۹۴ لیندۍ (د ۲۰۱۵ ډیسمبر) | د ۱۳۹۵ لیندۍ (د ۲۰۱۶ ډیسمبر) | د ۱۳۹۶ لیندۍ (د ۲۰۱۷ ډیسمبر) | د ۱۳۹۷ لیندۍ (د ۲۰۱۸ ډیسمبر) | د ۱۳۹۸ لیندۍ (د ۲۰۱۹ ډیسمبر) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د حقیقي ملکیتونو او ودانیو سوداګریز پورونه | ۱۴.۳۲٪ | ۹.۴۴٪ | ۱۱.۱۲٪ | ۸.۷۰٪ | ۹.۰۳٪ | ۷.۵۱٪ |
| **رغونه او ودانۍ** | ۱۴.۳۲٪ | ۹.۴۴٪ | ۱۱.۱۲٪ | ۸.۷۰٪ | ۹.۰۳٪ | ۷.۵۱٪ |
| بېخبنستیزې پروژې | ۵.۲۶٪ | ۵.۴۰٪ | ۴.۰۲٪ | ۵.۶۶٪ | ۶.۸۲٪ | ۸.۷۵٪ |
| برېښنا | ۰.۳۵٪ | ۰.۲۲٪ | ۰.۳۸٪ | ۰.۴۰٪ | ۰.۴۸٪ | ۰.۱۲٪ |
| سړکونو او ریل پټلۍ | ۲.۴۱٪ | ۱.۱۷٪ | ۰.۶۴٪ | ۱.۳۲٪ | ۲.۱۸٪ | ۲.۸۴٪ |
| بندونه | ۰.۶۱٪ | ۰.۰۹٪ | ۰.۰۴٪ | ۰.۰۰٪ | ۰.۳۶٪ | ۰.۳۸٪ |
| کانونه | ۰.۰۸٪ | ۱.۴۸٪ | ۰.۵۲٪ | ۰.۴۸٪ | ۰.۵۲٪ | ۰.۴۹٪ |
| نورې بېخبنستیزې پروژې | ۱.۸۱٪ | ۲.۴۴٪ | ۲.۴۴٪ | ۳.۴۶٪ | ۳.۲۸٪ | ۴.۹۲٪ |
| تولیدات او صنعت | ۹.۵۳٪ | ۱۰.۶۲٪ | ۸.۴۸٪ | ۹.۳۵٪ | ۱۲.۱۹٪ | ۱۱.۰۳٪ |
| د فلزونو، لرګیو، پلاستیک، ربړ، څرمنو او کاغذونو تولیدات او توکي | ۲.۴۸٪ | ۴.۴۲٪ | ۳.۴۷٪ | ۲.۶۷٪ | ۴.۱۰٪ | ۵.۳۸٪ |
| تولیدات، لاسي او ماشیني تولیدات | ۴.۱۹٪ | ۴.۲۴٪ | ۳.۷۴٪ | ۳.۱۶٪ | ۳.۶۷٪ | ۳.۶۳٪ |
| سمنټ او ودانیز مواد | ۲.۸۶٪ | ۱.۹۶٪ | ۱.۲۷٪ | ۳.۵۲٪ | ۴.۴۲٪ | ۲.۰۱٪ |
| سوداګري | ۳۴.۰۵٪ | ۴۱.۱۸٪ | ۴۰.۰۷٪ | ۴۲.۵۰٪ | ۴۵.۳۴٪ | ۴۴.۳۶٪ |
| منسوجات (نساجي) | ۲.۵۹٪ | ۰.۵۲٪ | ۰.۷۲٪ | ۱.۵۴٪ | ۲.۲۱٪ | ۱.۹۰٪ |
| عمده پلورنه | ۴.۹۳٪ | ۹.۸۹٪ | ۴.۳۴٪ | ۴.۶۷٪ | ۳.۶۲٪ | ۴.۷۴٪ |
| ماشینونه | ۰.۱۲٪ | ۰.۲۵٪ | ۰.۱۳٪ | ۰.۰۹٪ | ۰.۴۱٪ | ۰.۳۷٪ |
| پترولیم او روغنیات | ۸.۷۴٪ | ۹.۸۰٪ | ۱۱.۰۸٪ | ۱۰.۷۸٪ | ۱۱.۴۸٪ | ۱۱.۳۰٪ |
| پرزه جات | ۰.۲۴٪ | ۱.۴۲٪ | ۰.۲۶٪ | ۱.۳۹٪ | ۱.۷۸٪ | ۱.۸۹٪ |
| برېښنایي توکي | ۱.۴۰٪ | ۱.۵۸٪ | ۱.۹۱٪ | ۲.۷۶٪ | ۳.۲۱٪ | ۲.۶۶٪ |
| سمنټ اور نور ودانیز مواد | ۱.۸۷٪ | ۲.۷۳٪ | ۲.۳۵٪ | ۲.۵۷٪ | ۵.۱۴٪ | ۳.۹۹٪ |
| خوراکي توکي | ۴.۵۲٪ | ۸.۲۴٪ | ۷.۸۰٪ | ۷.۲۷٪ | ۶.۴۴٪ | ۸.۲۱٪ |
| نور ټول توکي | ۵.۷۲٪ | ۳.۴۷٪ | ۴.۱۷٪ | ۳.۲۸٪ | ۷.۹۲٪ | ۶.۳۶٪ |
| پرچونه سوداګري | ۳.۹۲٪ | ۳.۲۸٪ | ۷.۳۱٪ | ۸.۱۵٪ | ۳.۱۳٪ | ۲.۹۴٪ |
| خدمتونه | ۲۰.۱۱٪ | ۲۷.۶۹٪ | ۲۹.۱۹٪ | ۲۷.۴۹٪ | ۲۰.۵۵٪ | ۲۲.۱۵٪ |
| زده کړه | ۰.۰۰٪ | ۰.۰۰٪ | ۰.۰۰٪ | ۰.۰۰٪ | ۰.۰۳٪ | ۰.۰۳٪ |
| هوټلونه او ریستورانټونه | ۱.۲۰٪ | ۱.۴۶٪ | ۱.۳۳٪ | ۲.۰۴٪ | ۲.۱۶٪ | ۲.۴۴٪ |
| مخابرات/د موبایل کارت ویشونکي | ۲.۹۲٪ | ۵.۷۰٪ | ۵.۹۶٪ | ۵.۵۲٪ | ۵.۹۸٪ | ۶.۵۷٪ |
| ځمکنۍ ټرانسپورټ | ۴.۸۷٪ | ۵.۳۱٪ | ۴.۸۶٪ | ۱.۸۶٪ | ۳.۰۸٪ | ۴.۱۳٪ |
| هوایي ټرانسپورټ | ۴.۱۸٪ | ۲.۶۶٪ | ۲.۳۵٪ | ۲.۹۰٪ | ۱.۲۱٪ | ۰.۹۱٪ |
| روغتیا | ۰.۷۱٪ | ۱.۱۶٪ | ۱.۴۲٪ | ۱.۷۳٪ | ۱.۷۴٪ | ۱.۶۶٪ |
| رسنۍ، اعلانونه او چاپ | ۰.۰۴٪ | ۰.۰۴٪ | ۰.۰۵٪ | ۱.۱۸٪ | ۱.۲۸٪ | ۱.۹۲٪ |
| نور ټول خدمتونه | ۶.۱۹٪ | ۱۱.۳۶٪ | ۱۳.۲۲٪ | ۱۲.۲۶٪ | ۵.۰۷٪ | ۴.۵۰٪ |
| څاروي او فارمونه | ۰.۰۴٪ | ۰.۰۳٪ | ۰.۰۶٪ | ۰.۲۳٪ | ۰.۳۰٪ | ۰.۵۰٪ |
| څاروي او کرنه | ۰.۰۴٪ | ۰.۰۳٪ | ۰.۰۶٪ | ۰.۲۳٪ | ۰.۳۰٪ | ۰.۵۰٪ |
| کرنیز پورونه | ۲.۶۱٪ | ۲.۶۷٪ | ۳.۲۰٪ | ۳.۹۴٪ | ۳.۸۶٪ | ۳.۰۷٪ |
| لګښتي پورونه | ۰.۲۶٪ | ۰.۳۰٪ | ۰.۶۵٪ | ۰.۸۶٪ | ۱.۹۰٪ | ۲.۶۳٪ |
| اشخاصو ته د استوګنې رهني پورونه | ۷.۱۴٪ | ۲.۶۸٪ | ۲.۷۸٪ | ۰.۷۱٪ | ۰.۰۰٪ | ۰.۰۰٪ |
| نور ټول پورونه | ۶.۶۸٪ | ۰.۰۰٪ | ۰.۴۳٪ | ۰.۵۷٪ | ۰.۰۰٪ | ۰.۰۰٪ |

سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت/ د افغانستان بانک

په نورو ولایتونو کې د پورونو تخصیص (تناسب) ډېر لږ دی. د بانکي نظام د پورونو په سکتوري، جغرافیایي او اداري وېش کې لازمه تنوع راغلې نه ده، خو تمه کېږي چې د وخت په تیرېدو سره د پورونو وېش متنوع شي. دا به ښه وي چې ټول بانکونه په پور ورکولو کې فعاله ونډه واخلي او د پور ورکولو خدمتونه متنوع او په مالي نظام کې خپل رول په ښه توګه ترسره کړي.

**۳.۶ ګراف: په ټولیزه ناخالصو پورونو کې د کوچنیو، لویو او منځنیو پورونو ونډې**




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

**۲.۶ د پورونو ډله بندي**

**۱.۲.۶ صعب الحصول پورونه[۳]**

بانکونه باید د خپل اعتباري خطر مدیریتي تدبیرونه پیاوړي کړي، څو د صعب الحصول پورونو لوړه کچه چې مطلوبه نه ګڼل کیږي، راکمه کړي. سربېره پر دې، داسې انګیرل کېږي هغه بانکونه چې د پور ورکولو په برخه کې کمزورې کړنې لري، د خطر مدیریت یې بې اغیزې دی. ښکاره ده چې د پور په برخه کې د کم کیفیت لرونکي بانکونه د پور لپاره غوښتنلیکونه په کره توګه وارزوي، له ټولو نافذه قوانینو، مقررو، متحدالمالونو، داخلي پالیسیو او کړنلارو سره سم عمل وکړي او د پور اخیستونکو مالي وضعیت له نږدې وڅاري څو ډاډمن شي چې د نورو پورونو ورکړه د مالي نظام د ثبات لپاره کوم خطر نه متوجه کوي.

په پولي اصطلاح، د ۱۳۹۸ مالي کال په پای کې د بانکي نظام په ټولیزه ناخالصه پورونو کې د صعب الحصول پورونو ونډه ۵.۹۵ میلیارده افغانۍ یا ۱۴.۴۷ سلنې او د بانکي نظام د مقرراتي پانګې ونډه ۱۸.۹۵ سلنې ته رسیږي چې ۲.۲۳ میلیارده افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي چې اصلي لامل یې د دربیو بانکونو لخوا ټیټو طبقو ته د پورونو لېږدول ګڼل کېږي.

د پورونو ډله ایزه شننه ښکاره کوي چې له ۵.۹۵ میلیارده صعب الحصول پورونو څخه ۵.۸۶ میلیارده یې په خصوصي بانکونو پورې تړاو لري چې د بانکي نظام د ټولیزه ناخالصه پورونو ۱۴.۲۶ سلنه او د ټولیزه صعب الحصول پورونو په سلو کې ۹۸.۵۳ جوړوي. همدا ډول، د دې پورونو ۸۷ میلیونه افغانۍ په دولتي بانکونو پورې اړه لري چې د بانکي نظام د ټولیزه ناخالصه پورونو ۰.۲۱ سلنه (د ټولیزه صعب الحصول پورونو ۱.۴۷ سلنه) جوړوي.

د صعب الحصول پورونو سکتوري شننه ښکاره کوي چې د دې پورونو عمده برخه د سوداګرۍ په سکتور پورې اړه لري چې د بانکي نظام د ټولیزه صعب الحصول پورونو ۵۱.۸۸ سلنه جوړوي چې تر ټولو ډیره برخه (۱۱.۳۰ سلنه او ۱۰.۵۶ سلنه) یې په خوراکي توکو او پرزه جاتو پورې اړه لري. د خدمتونو سکتور د صعب الحصول پورونو د ۱۸.۱۶ سلنې ونډې په درلودلو سره په دویم ځای کې راځي چې ډیره برخه (۱۳.۲۵ سلنه) یې په ځمکني ټرانسپورټ پورې اړه لري.

۳. د شتمنیو د ډله بندۍ او تخصیص د نوي مقررې له مخې، پاتې راغلې شتمنۍ او مخکې ورکړې چې اصلي یا د ګټانې مبلغ یې د ۱۲۱ تر ۴۸۰ ورځو لپاره نا تصفیه شوی پاتې وي (پاتې راغلې شتمنۍ او خساره).

توليدي او د صنعت سکتور د بانکي نظام په ټولیزه صعب الحصول پورونو کې د ۱۱.۲۶ سلنې ونډې په درلودلو سره په دریم ځای کې راځي، حال دا چې د سوداګریزو حقیقي ملکیتونو او رغونې او د بېخبنسټیزو پروژو په سکتورونو کې د صعب الحصول پورونو ونډه په ترتیب سره ۹.۳۷ او ۷.۱۵ سلنې ته رسیږي.

د مالي چارو د څارنې لوی آمریت له هغو بانکونو سره له نږدې کار کوي چې د پور کمزورې کړنې لري، څو د خپلو شتمنیو د کیفیت د ښه والي لپاره پلانونه طرحه او تطبیق کړي. دا وضعیت مقرراتي څارنې او چټکو اصلاحي اقداماتو ته اړتیا لري څو د دغو کمزورو بانکونو د ګټورتیا او د پانګې پر کفایت باندې د منفي اغېزو د مخنیوي لپاره د اعتباري خطر مدیریت پیاوړی کې.

۴.۶ ګراف: د پور د کیفیت پورټوفولیو




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت/ د افغانستان بانک

**۲.۲.۶ معکوس ډله بندي شوي پورونه**

معکوس ډله بندي شوي (تحت المعیار، مشکوکه، خساره)[۴] پورونه په ۱۳۹۸ مالي کال کې د ۱.۲۱ میلیارده افغانۍ زیاتوالي په درلودلو سره ۷.۳۶ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ټولیزه ناخالصه پورونو ۱۷.۹۰ سلنه او د مقرراتي پانګې ۲۳.۴۴ سلنه جوړوي چې د پور د کیفیت ټیټوالی یې اصلي لامل دی او له همدې امله د بانک د اداري لخوا پیاوړې څارنې او اصلاحي اقداماتو ته اړتیا لري، څو د معکوسو ډله بندي شویو پورونو کچه مطلوب حد ته راښکته کړي. سربېره پر دې، د هغو بانکونو چې د پور ورکړې کیفیت یې ټیټ دی، د ګڼې اداري د پیاوړي کولو، د داخلي ابزارونو د اغېزناکتیا زیاتولو او د داخلي او غیر سیستماتیک خطر پر ښه مدیریت باندې ډېر ټینګار وشي. د بانک مدیریت باید مناسبه تدبیرونه تر لاس لاندې ونیسي، څو په هغو مسایلو او کمزورتیاوو باندې غور وکړي چې د احتیاطي مقررو له مخې د پور د کمیدو لامل کېږي.

که څه هم سیستماتیک خطر او اقتصادي رکود به له اصولي پلوه د بانکونو د مهمو شتمنیو کیفیت او په ځانګړې توګه پورونه کمزوري کړي؛ خو د بانکونو اداري باید داسې میکانیزمونه طرحه کړي چې د دا شان خطرونو وړاندوینه او د بالقوه خطرونو مخنیوی وکړي او په بانکي نظام کې د لا نور خرابوالي د له منځه وړلو په موخه مناسب احتیاطي تدبیرونه تر لاس لاندې ونیسي.

**۳.۲.۶ تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه**

تر نظر لاندې کټګورۍ[۵] کې ډله بندي شوي پورونه ۵.۵۴ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ټولیزه ناخالصو پورونو په سلو کې ۱۳.۴۷ جوړوي او د تیر کال په پرتله ۲۰.۸۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې دا زیاتوالی د بانکي نظام په دوو بانکونو پورې تړاو لري او ټیټو طبقو ته د پورونو لېږدول او د پورونو بیاځلي ډله بندي یې اصلي لامل ګڼل کېږي.

د پورونو دا کټګوري دقیقې څارنې ته اړتیا لري، ځکه چې دا ښایي په راتلونکي کې معکوسه ډله بندي شویو (تحت المعیار، مشکوکه او خساره) پورونو ته واوړي.

۴. د شتمنیو د ډله بندۍ او تخصیص د نوي مقررې له مخې، هغه شتمنۍ او مخکې ورکړې چې اصلي مبلغ یا ټکټانه یې د ۶۱ تر ۱۲۰ ورځو پورې (تحت المعیار) ناتصفیه (ناترلاسه) شوې پاتې وي. پاتې راغلي شتمنۍ او مخکې ورکړې چې اصلي یا د ټکټانې مبلغ یې د ۱۲۱ تر ۴۸۰ ورځو (مشکوکه) ورځو لپاره نا تصفیه شوی پاتې وي. پاتې راغلي شتمنۍ چې اصلي یا د ټکټانې مبلغ یې د ۴۸۱ ورځو څخه زیات وي، په خساره کټګورۍ کې پاتې کیږي.

۵. د شتمنیو د ډله بندۍ او تخصیص د نوي مقررې له مخې، هغه شتمنۍ او مخکې ورکړې چې اصلي یا ټکټانې مبلغ یې د ۳۱ تر ۶۰ ورځو پورې (د نظر لاندې) ناتصفیه شوی پاتې وي.

### ۴.۲.۶ په خساره کټګورۍ کې پورونه[۶]

په خساره کټګورۍ کې ډله بندي شوي پورونه د ۱۳۹۸ مالي کال په پای کې د ټولیزه ناخالصه پورونو ۱۶.۵۹ میلیونه افغانۍ یا ۰.۰۴ سلنه جوړوي او د بانکي نظام په درېیو بانکونو پورې تړاو لري.

### ۲.۱.۶ د بانکونو ترمنځ طلبات

د بانکونو تر منځ ناخالصه طلبات د شتمنیو د بېلابېلو کټګوریو په منځ کې دویم ځای لري. اوس مهال د بانکونو ترمنځ طلبات د بانکي نظام د ټولیزه شتمنو ۸۳.۴۶ میلیارده افغانۍ یا ۲۶.۶۶ سلنه جوړوي. د بانکونو ترمنځ ناخالصه طلبات د تیر کال په پرتله په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۱۱.۳۰ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې ۱۱.۹۲ سلنه کموالی ښکاره کوي او د اوو بانکونو د امریکايي ډالرو په حسابونو پورې اړه لري. په ورته وخت کې د افغانۍ کارونه زیاته شوې او دا بهیر ښکاره کوي چې بانکي نظام په نورو بانکونو کې له کمې ټکټانې څخه ترلاسه شویو شتمنیو کې د خپلو شته مالي وجوهو یوه برخه لیږدولې ده. د یادونې وړ ده چې بانکونه باید نه یوازې د یو انفرادي بانک اړوند خطرونه وارزوي، بلکې په کوم هېواد یا هېوادونو کې چې د دوي مالي وجوه ایښې وي، هم وڅاري (د لا وضاحت لپاره ۴.۶ جدول ته مراجعه وکړئ.

**۵.۶ ګراف: د بانکي ډلو ترمنځ د بانکونو ترمنځ طلباتو ونډه**




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

### ۳.۱.۶ پانګه اچونه

د بانکي نظام د خالصې پانګې[۷] پورتوفولیو پور پاڼې، دولتي بیه لرونکې پاڼې او په اړوندو کمپنیو کې پانګه اچونه رانغاړي چې په ۱۳۹۸ مالي کال کې یې کچه ۳۹.۶۷ سلنه یا ۹.۸۹ میلیارده افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي او د ټولیزه شتمنیو ۳۴.۸۴ میلیارده افغانۍ یا ۱۱.۱۳ سلنه جوړوي او دا زیاتوالی په درېیو بانکونو پورې تړاو لري. د بانکي نظام د پانګونې ستره برخه له هېواده بهر ترسره شوې ده. د پانګونې په پورتوفولیو کې دا زیاتوالی په دوو دولتي بانکونو، څلورو سوداګریزو بانکونو او د بهرنیو بانکونو په یوې نماینده ګۍ پورې تړاو لري.

### ۴.۱.۶ په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات

په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات د ټولیزه شتمنیو تر ټولو لویه کټګوري ده چې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۴۱.۹۷ سلنه جوړوي او د تیر کال د ثبت شې شمېرې په پرتله ۳.۹۷ میلیارده افغانۍ کموالی ښکاره کوي او کچه یې د ۱۳۹۸ مالي کال په پای کې ۱۳۱.۳۹ میلیارده افغانۍ ته رسیږي. د دې کموالي اصلي لامل د افغانستان بانک د پانګه ایزو پاڼو او د الزامي زیرمو د حساب کموالی ګڼل کېږي. بانکي نظام په بشپړه توګه د اجباري زېرمې له مقررو سره په تطابق کې دی او په محتاط او ورو ډول راجلب شوې پیسې د شتمنیو په نورو ډولونو کې ځای پر ځای کوي.

### ۲.۶ پوراینې

د بانکي نظام ټولیزه پوراینې په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۲۷۷.۳۶ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ۲۸۱.۳۴ میلیارده افغانۍ په پرتله ۳.۸۹ میلیارده افغانۍ یا ۱.۴۱ سلنه کموالی ښکاره کوي. د ټولیزه پوراینو د کمیدو اصلي لامل د امانتونو (په زیاته کچه د مشتریانو د جاري

---

۶. د شتمنیو د ډله بندۍ او تخصیص د نوي مقررې له مخې، هغه شتمنۍ او مخکې ورکړې چې د اصلي یا ټکټانې د مبلغ ادواینه یې د۴۸۱ او یا ډېرو ورځو لپاره نا ادا شوې پاتې وي او د بانکونو د ثبت په کتابونو کې د یوه کال لپاره پاتې شي (خساره)، له یو کال تیریدو وروسته تصفیه کېږي.

۷. په پانګو اچونو کې په پور پاڼو، بیه لرونکو پاڼو، په اړوندو شرکتونو او فرعي شرکتونو کې پانګه اچونې شاملې دي.

امانتونو) ويستل ګڼل کېږي. د پورواينو تر ټولو ډېره برخه امانتونه (۹۶.۱۱ سلنه) جوړوي چې نورې پورواينې (۲.۲۳ سلنه) په دويم او پور اخيستنې (۱.۶۶ سلنه) په درېيم ځای کې راځي. د لا زياتو معلوماتو لپاره ۱.۶ جدول ته مراجعه وکړئ.

**۶.۶ ګراف: د بانکي ډلو ترمنځ د پورواينو ونډه**




سرچينه: د مالي چارو د څارنې لوی آمريت، د افغانستان بانک

### ۱.۲.۶ امانتونه

امانتونه چې د بانکي نظام مهمه تمويلي سرچينه ګڼل کېږي او د بانکونو ترمنځ امانتونه او د مشتريانو امانتونه رانغاړي، د ۱۳۹۸ مالي کال په پای کې ۲۶۶.۵۷ ميلياره افغانۍ ته رسيږي چې د تير کال د ثبت شوي شمېرې په پرتله ۶.۷۵ ميلياره افغانۍ يا ۲.۴۷ سلنه کموالی ښکاره کوي. د بانکي نظام ټوليزه امانتونه ۴.۸۶ ميلياره د بانکونو ترمنځ امانتونه او ۲۶۱.۷ ميلياره د مشتريانو امانتونه رانغاړي. د بانکي نظام په امانتونو کې د کميدو اصلي لاملونه په ډالري او نورو اسعارو د مشتريانو د جاري امانتونو کموالی او همدا ډول د يو بهرني بانک د نماینده ګۍ بنديدل ګڼل کېږي. د اسعارو شننه ښکاره کوي چې په افغانۍ ايښودل شوي امانتونه د ۲.۴۳ سلنې زياتوالي په درلودلو سره د بانکي نظام د ټوليزه امانتونو ۳۰.۹۲ سلنه جوړوي، حال دا چې په امريکايي ډالرو ايښودل شوي امانتونه د ۲.۳۱ سلنې کموالي په درلودلو سره ۶۴ سلنې ته رسيږي. همدا ډول په نورو اسعارو ايښودل شوي امانتونه د ۲۶ سلنه کموالي په درلودلو سره د ټوليزه امانتونو په سلو کې ۵ سلنه جوړوي.

د خصوصي بانکونو ټوليزه امانتونه د ۳.۲۱ سلنې کموالي په درلودلو سره ۱۸۲ ميلياره افغانۍ ته رسيږي او د بانکي نظام د ټوليزه امانتونو ۶۸.۲۹ سلنه جوړوي. د بانکي نظام په ټوليزه امانتونو کې د دولتي بانکونو ونډه ۷۰ ميلياره افغانۍ ته رسيږي چې د تير کال په پرتله ۰.۸۹ سلنه کموالی ښکاره کوي او د ټوليزه امانتونو په سلو کې ۲۶.۲۷ جوړوي. له بلې خوا، د بانکي نظام په ټوليزه امانتونو کې د بهرنيو بانکونو د نمايندګيو ونډه ۱۴.۵۱ ميلياره افغانۍ ته رسيږي چې د تير کال په پرتله د ۰.۶۷ سلنه کموالي په درلودلو سره د بانکي نظام د ټوليزه امانتونو ۵.۴۴ سلنه جوړوي.

د امانتونو د ډولونو له پلوه، د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې جاري امانتونه د ۴.۵۵ سلنه کموالي په درلودلو سره د ټوليزه امانتونو ۷۲.۸۲ سلنه، ورپسې د سپما امانتونه د ۴.۱۲ سلنې زياتوالي په درلودلو سره د ټوليزه امانتونو ۱۹.۷ سلنه جوړوي او په دويم ځای کې راځي، حال دا چې د بانکي نظام موده ايزه امانتونه د ۲.۱۲ سلنه زياتوالي په درلودلو سره د ټوليزه امانتونو د پورټوفوليو ۷.۴۹ سلنه جوړوي.

**۷.۶ ګراف: په افغانۍ امانتونه**




سرچينه: د مالي چارو د څارنې لوی آمريت، د افغانستان بانک

**۸.۶ ګراف: د امانتونه اسعاري ترکیب**




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

**۹.۶ ګراف: د بانکي ډلو ترمنځ امانتونه**




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت/ د افغانستان بانک

**۱۰.۶ ګراف: د امانتونو ډولونه**




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

**۲.۲.۶ پور اخیستنې**

د بانکي نظام د تمویل په تولیزه جوړښت کې د پور اخیستنې ونډه د ۵۰ سلنه زیاتوالي په درلودلو سره د ۱۳۹۸ مالي کال په پای کې ۴.۶۱ میلیارده افغانی ته رسیږي چې د بانکي نظام د ټولیزه پورواینو ۱.۶۶ سلنه جوړوي. د یادونې وړ ده چې د پور اخیستنې اوسنی حالت د بانکي نظام په څلورو بانکونه پورې اړه لري.

**۳.۶ نقدینه ګي (سیالیت)**

د نقدینه ګی خطر کولای شو د پور اخیستونکو او امانت اېښودونکو د تقاضاوو د پوره کولو لپاره د کافي سیالو شتمنیو نه درلودل تعریف کړو. ټول بانکونه اړ دي څو له نقدینه ګۍ څخه د رامنځته شویو ستونزو د مخنیوي لپاره سیالیت په مطلوب حد کې وساتي.

له همدې کبله، بانکونه باید د شتمنیو یوه مسؤله کمېټه (ALCO) ولري چې د دې کمېټې دندې د بانک د سیاستونو په پام کې نیولو سره د نیمګړتیاوو د تحلیل او تجزیې له لارې د بانک د نقدینه ګی، د حساسیت د ازمایښت، د سناریو د شننې، د نغدي جریان د شننې او د داسې نورو له مدیریت څخه عبارت دي.

**۱.۳.۶ د سیالیت نسبت (پراخه کچه)**

په ټولیزه توګه د بانکونو د پراخ سیالیت نسبت د ټاکلي معیار (۱۵ سلنې) او د ټچټک سالیت نسبت د ټاکلي حد (۲۰ سلنې) څخه لوړ دی. د بانکي نظام د پراخ سیالیت نسبت په منځنی ډول ۰.۵۵۸۹ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ۰.۷۶۶۲ سلنې په پرتله ۰.۲۰۷۳ سلنه کموالی ښکاره کوي. ( د زیاتو معلوماتو لپاره د ۶.۳ جدول ته مراجعه وکړئ).

| **۳.۶ جدول: په ۱۳۹۸ مالي کال کې د بانکي نظام مهم نسبتونه وړاندې کوي** | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| نسبتونه (په سلنه) | د ۲۰۱۴ ډسمبر | د ۲۰۱۵ ډسمبر | د ۲۰۱۶ ډسمبر | د ۲۰۱۷ ډسمبر | د ۲۰۱۸ ډسمبر | د ۲۰۱۹ ډسمبر |
| د پانګې د کفایت د نسبت مجموعه | ۲۶.۴۶ | ۱۹.۹۴ | ۲۷.۶۸ | ۲۹.۸۱ | ۲۵.۸۳ | ۲۵.۹۳ |
| په ۱ ردیف کې د پانګې د کفایت نسبت | ۲۶.۰۹ | ۱۹.۶۶ | ۲۲.۹۳ | ۲۸.۱۷ | ۲۴.۴۹ | ۲۴.۵۰ |
| په ټولیزه ناخالصو پورونو کې د صعب الحصول پورونو ونډه | ۸.۰۹ | ۱۲.۳۴ | ۱۲.۶۷ | ۱۲.۴۲ | ۸.۹۹ | ۱۴.۴۷ |
| له شتمنیو څخه ترلاسه شوې ګټه(ROA) | ۰.۹ | ۰.۲ | ۰.۱۱ | ۰.۶۴ | ۰.۷۸ | ۰.۸۳ |
| د پانګه اچوونکو د پانګې ترلاسه شوې ګټه(ROE) | ۷.۳۵ | ۱.۶۹ | ۱.۰۸ | ۳.۳۸ | ۶.۶۸ | ۷.۲۴ |
| د سیالیت نسبت ( پراخه منځنۍ کچه ) | ۷۳.۶ | ۶۸.۲۲ | ۶۷.۷۴ | ۶۵.۹۲ | ۷۶.۶۲ | ۵۵.۸۹ |
| په ټولیزه شتمنیو کې د سیالو شتمنیو ونډه | ۷۳.۲۸ | ۷۵.۰۵ | ۷۱.۹۸ | ۷۳.۹۵ | ۷۲.۹۰ | ۶۸.۶۳ |

**سرچینه:** د مالي چارو د څارنې لوی آمریت/ د افغانستان بانک

### ۴.۶ پانګه

بانکي نظام کافي پانګه لري او د ټولیزه شتمنیو په سلو کې ۱۱.۴۰ سلنه جوړوي. د بانکي نظام خالصه پانګه (اکویټي) ۳۵.۷۰ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د کال په کال شمېرو پر بنسټ ۴.۰۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي او د یاد کال په اوږدو کې ترلاسه شوې ګټې او د اړوندو کمپنیو د ونډو ګټې یې اصلي لاملونه ګڼل کېږي. همدا ډول، د بانکي نظام د پانګې د کفایت نسبت ۲۵.۹۳ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ۲۵.۸۳ سلنې په پرتله ۰.۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. ( د لا زیاتو معلوماتو لپاره ۳.۶ جدول ته وګورئ).

جلا شننه ښکاره کوي چې د ټولو بانکونو د مالي پانګې او مقرراتي پانګې حد لوړ ټاکل شوی دی. همدا ډول د بانکونو د پانګې د کفایت نسبت د افغانستان بانک د ټاکل شوي حد (د خطر په اساس د عیار شوې شتمنۍ په سلو کې ۱۲) څخه لوړ دی. د بازل معیار د پانګې او د خطر په اساس د عیار شوې شتمنۍ لپاره په سلو کې ۸ دی.

### ۵.۶ ګټورتیا (نافعیت)

بانکي نظام په ټولیزه توګه ۲.۶۸ میلیارده افغانۍ خالصه ګټه کړې چې د تیر کال د ۲.۳۷ میلیارده افغانۍ په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. د بانکي نظام د ګټې د زیاتیدو اصلي لامل د تیر کال د ۰.۷۸ او ۶.۶۸ سلنې په پرتله په روان کال کې له شتمنیو څخه د ترلاسه شوې ګټې ۰.۸۳ سلنه او له پانګې څخه د ترلاسه شوې ګټې ۷.۲۴ سلنه زیاتوالی په ګوته شوی دی. د ټکټانې لرونکو پانګونو د خالصې ټکټانې د عوایدو زیاتوالی، د اسعارو په نرخونو او راکړه ورکړه کې له اسعارو څخه د ترلاسه شویو عوایدو زیاتوالی او په پور پاڼو کې د پانګونې د عوایدو زیاتوالی او په مالیاتي لګښتونو کې کموالی هغه عاملونه دي چې د تیر کال په پرتله یې د ګټورتیا په زیاتیدو کې د پام وړ مرسته کړې ده.

که څه هم، عملیاتي لګښتونه او ځانګړي شوي مبلغونه د ارزونې لاندې موده کې زیات شوي، حال دا چې د غیر ټکټانې عواید راکم شوي دي. د ډلې پر بنسټ شننه په ډاګه کوي چې دولتي بانکونو، خصوصي بانکونو او د بهرنیو بانکونو نمایندګیو یاده موده له ګټې سره پای ته رسولې ده (د لا ډیرو معلوماتو لپاره ۱۰.۶ جدول ته مراجعه وکړئ).

د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې د بانکی نظام د ګټورتیا تر ټولو ستره برخه دولتي بانکونو جوړوله چې د شتمنیو څخه د ترلاسه شوې ۱.۷۴ سلنه ګټې په درلودلو سره ۱.۴۷ میلیارده افغانۍ (چې د دې سکتور د خالصې ګټې په سلو کې ۵۴.۹۶ جوړوي)، خصوصي بانکونو له شتمنیو څخه د ترلاسه شوې ۰.۵۱ سلنه ګټې په درلودلو سره ۱.۰۱ میلیارده افغانۍ ته رسیږي (چې د دې سکتور د خالصې ګټې په سلو کې ۳۷.۹۴ جوړوي)، حال دا چې د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو ګټه د کال په کال ۰.۴۷ سلنه له شتمنیو څخه د ترلاسه شوې ګټې په درلودلو سره ۱۹۰ میلیونو افغانیو ته رسیږي او د دې سکتور په سلو کې ۷.۱ جوړوي.

د یادونې وړ ده چې څلورو بانکونو په یاده موده کې ۲۱۰ میلیونه افغانۍ زیان کړی چې د تیر کال د ۱۴۲ میلیونه افغانۍ په پرتله د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي او په دریو بانکونو پورې اړه لري. د اصلي عاید پر بنسټ شپږو بانکونو یاده موده له زیان سره پای ته رسولې، حال دا چې د تیر کال په ورته موده کې نهو بانکونو په زیان کې ؤ.

| ۴.۶ جدول: د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه او دریمه ربعه کې د ګټې/ زیان جدول | | | |
|---|---|---|---|
| نوم | ۲۰۱۸ ډسمبر | ۲۰۱۹ ډسمبر | د ودې سلنه |
| د ټکټانې عاید | ۷،٤۸۷ | ۷،٥۰۱ | ۰.۲٪ |
| د ټکټانې لګښت | ۱،۱۳٦ | ۱،۱۰۰ | – ۳.۲٪ |
| د ټکټانې خالص عاید | ٦،۳٥۱ | ٦،٤۰۲ | ۰.۸٪ |
| د غیر ټکټانې عاید | ۷،۷۷۸ | ۷،٦۱٥ | –۲.۱٪ |
| د غیر ټکټانې لګښتونه (له معاش پرته) | ٦،۱۸۱ | ٦،۳۱٥ | ۲.۲٪ |
| د معاش لګښت | ٤،۳٦۷ | ٤،۳۹۰ | ۰.٥٪ |
| د پور خالص تخصیص | ۱،۰۰٦ | ۱،۲۷۹ | ۲۷.۱٪ |
| د پانګونو ګټه/زیان | ۱٤ | ۲٤۰ | ۱،٥۷٥.٤٪ |
| د مالیې مخکې عاید او د اسعارو ګټه/زیان | ۲،٥۹۰ | ۲،۲۷۳ | –۱۲.۲٪ |
| د اسعارو د ګټې/ زیان مالیه | ٦۷۰ | ۱،۰۷۸ | ٦۰.۹٪ |
| تکس | ۸۸۲ | ٦٦۸ | – ۲٤.۳٪ |
| خالصه ګټه | ۲،۳۷۸ | ۲،٦۸۳ | ۱۲.۸٪ |

سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

**۱۱.۶ ګراف: د بانکي نظام ګټورتیا**




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

**۱۲.۶ ګراف: له شتمنۍ څخه ترلاسه شوې ګټه (ROA) او له پانګې څخه ترلاسه شوې ګټه (ROE)**




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

**۱۳.۶ ګراف: خالصه نهایي ټکټانه**




سرچینه: د اسلامي بانکوالۍ او مالي چارو آمریت، د افغانستان بانک

### ۶.۶ د اسعارو خطر

ټول بانکونه د اسعارو د پرانیستي عمومي وضعیت (± ۴ سلنه) مقرراتي حد په محدوده کې د اسعارو د انفرادي وضعیت (± ۲ سلنه) پر بنسټ د ټاکل شوي حد په محدوده کې دي، پرته له دوو بانکونو څخه چې د اسعارو د عمومي وضعیت او انفرادي وضعیت (د امریکایي ډالرو او یورو اوړد مهاله وضعیت) له ټاکل شویو حدودو څخه یې سرغړونه کړې ده.

دا بانکونه باید خپل اسعاري وضعیت په ټاکلي محدوده کې عیار کړي، که نه نو د امریکایي ډالرو د ارزښت کموالی د بانکونو د لا زیان لامل کېدای شي.

د بانکي نظام په مقرراتي پانګې باندې د اسعارو په نرخ کې د بدلونونو اغیزه ښکاره کوي چې د اسعارو د ۲۰ سلنې مبادلوي ارزښت د لوړېدو سره د بانکي نظام مقرراتي پانګه ۲.۰۶ میلیارده افغانۍ ډېرېږي او د دې برعکس راکمیدلی شي. په ورته وخت کې ۴ سلنه بدلون ۴۱۲.۰۶ میلیونو افغانیو په کچه بدلون راولي او کمېدل یې د دې بر عکس بدلون راوستلی شي.

### ۷.۶ د ټکټانې د نرخ خطر

ټول بانکي نظام د ټکټانې د نرخ د حساس وضعیت څخه برخمن دی. خو بیا هم د بانکونو د ټکټانې نرخ د حساسیت د مهال وېش محاسبه ښکاره کوي چې د بانکي نظام د ټکټانې خالصه عاید به په راتلونکو ۱۲ میاشتو کې په بازار کې د ټکټانې د ۰.۰۳ سلنې نرخ د زیاتوالي (د ټکټانې د زیاتیدونکي نرخ د ټکان) له امله ۷۰۸ میلیونه افغانۍ ته زیات شي. د دې برعکس، که چېرې د ټکټانې نرخ ۰.۰۳ سلنه ټیټوالی (د ټکټانې د ټیټیدونکي نرخ ټکان) ومومي له ټکټانې څخه ترلاسه شوی عاید به ۷۰۸ میلیونه افغانۍ ټیټ شي. که چیرې د درېیو بانکونو د ټکټانې نرخ ۰.۰۳ سلنه زیات شي، دا کار به دراتلونکو ۱۲ میاشتو په ترڅ کې د دې بانکونو د خالصې ټکټانې عاید راکم کړي.

د بانکونو د شتمنیو د حساسیت په کچه باندې د فشار راوړلو عمده لامل د پوراینې د ټکټانې د ادراینې په نسبت د شتمنیو د ټکټانې د ادراینې زیاتوالی دی. که څه هم دا کار د بانکونو د خالصه ټکټانې کچه او ګټه زیاتوي، خو په

بازار کې د نرخونو د ناڅاپي کموالي له امله بانکونه ډېر زیانمنوي.

**۸.۶ د اسلامي بانکوالۍ کړنې**

**عمومي کتنه**

د اسلامي بانکوالۍ عمده مالي شاخصونو د ارزونې لاندې په اوړدو کال کې لوړېدونکی بهیر ثبت کړی دی چې د امانتونو د زیاتیدو له امله په ټولیزه شتمنیو کې زیاتوالي یې اصلي لامل ګڼل کیږي. همدا ډول، د اسلامي بانکوالۍ له شپږو دریځو څخه د څلورو دریځو پانګه منفي ده، حال دا چې د یو بشپړ اسلامي بانک پانګه (اکویټۍ) په ښه وضعیت کې قرار لري چې په ګټورتیا کې زیاتوالي او د نقدینه ګۍ کافي حد یې اصلي لاملونه په ګوته شوي دي. که څه هم ناخالصه مالي تمویل په یاده موده کې ټیټیدونکی بهیر ښکاره کړی چې اصلي لامل یې د اسلامي بانکوالۍ د یوې نماینده ګۍ د پور تصفیه ګڼل کیږي، حال دا چې پانګونې لوړېدونکې بهیر درلودلی دی چې نوې پانګونې یې اصلي لامل په ګوته شوی دی.

د اسلامي بانکوالۍ ټولیزه شتمنۍ د ۱۳۹۸ مالي کال په څلورمه ربعه کې ۳۸.۲۳ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۳۴.۵۳ میلیارده افغانۍ په پرتله ۱۰.۷۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د اسلامي بانکوالۍ د شتمنیو د زیاتیدو اصلي لامل په خزانه کې نغدو پیسو او د صکوکو په پانګونه کې زیاتوالی ګڼل کیږي. همدا ډول، د ټولیزه ناخالصه مالي تمویل او د پانګونې پورټوفولیو د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې ۱۲.۹۵ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې په پرتله ۱۷.۵۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. په ټولیزه ناخالصه مالي تمویل او پانګونه کې د زیاتوالي اصلي لامل د پانګونې د نویو صکوکو صادرول ګڼل کیږي. په ورته وخت کې مرابحه مالي تمویل د تصفیې له امله په یاده موده کې راکم شوی دی. د یادونې وړ ده چې په یاده موده کې د بیا څخل لپاره د مرابحې مالي تمویل ترسره شوی دی. د اسلامي بانکوالۍ د ټولیزه ناخالصه مالي تمویل پورټوفولیو ۱۶.۱۶ سلنه کموالی او د دې برعکس د صکوکو پانګونه ۶۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

ټولیزه امانتونه چې د اسلامي بانکوالۍ عمده تمویلي سرچینه جوړوي، د ۱۳۹۸ مالي کال په پای کې ۳۱.۳۹ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال په پرتله ۸.۵۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د ټولیزه امانتونو د زیاتیدو اصلي لامل د مشتریانو د موده ایزو او سپما امانتونو زیاتوالی ګڼل کیږي. په ورته وخت کې د اسلامي بانکوالۍ برخې موده ایز او د سپما امانتونه په ګډه د ټولیزه امانتونو په سلو کې ۶۰.۶۶ سلنه حال دا چې موده ایز امانتونه او د سپما امانتونه په جلا توګه د ټولیزه امانتونو په ترتیب سره په سلو کې ۲۴.۷ او ۳۶.۵۸ سلنه جوړوي. له بلې خوا، د افغانۍ پر وړاندې د امریکایي ډالرو د ارزښت زیاتیدو د دې برخې د ټولیزه امانتونو په ډېریدو کې مهمه ونډه لرلې ده، حال دا چې د مشتریانو جاري امانتونو د ارزونې لاندې کال کې ټیټوالی موندلی دی.

د اسلامي بانکوالۍ د یوې دریځې لپاره په یو ټاکلي حد کې د مالي پانګې د ساتلو لپاره قانوني شرایط ټاکل شوي نه دي. همدا ډول، د یو بشپړ اسلامي بانک پانګه د مقرراتي حد څخه لوړه ده چې په ۱۳۹۸ مالي کال کې د دې برخې ټولیزه پانګې ۰.۸۸ سلنه کموالی ثبت کړی چې اصلي لامل یې په یاده موده کې زیانونه په ګوته شوي دي. په ورته وخت کې، د اسلامي بانکوالۍ د شپږو دریځو له ډلې د

ځلورو دریځو مالي پانګه منفي ده، حال دا چې د یو بشپړ اسلامي بانک د مقرراتي پانګې نسبت (د خطر په اساس د عیار شوې شتمنۍ په سلو کې ۱۲) له معیار سره ډېر نږدې دی.

په ټولیزه توګه، اسلامي بانکوالۍ په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۲۷۹.۹۳ میلیونه افغانۍ زیان کړی، حال دا چې دا شمېره د تیر کال په ورته موده کې ۷۵۱.۷۸ میلیونه افغانۍ ته رسیده. له همدې امله، له شتمنیو څخه ترلاسه شوې ګټه او له پانګې څخه ترلاسه شوې ګټه په کلنۍ توګه منفي ۱۰.۶ سلنې ته رسیږي، حال دا چې د تیر کال په ورته ربعه کې دا شمېره ۵.۴ او له پانګې څخه ترلاسه شوې ګټه ۱۸.۵ سلنه ثبت شوې وه.

د اسلامي بانکوالۍ د دریځو د نقدینه ګۍ او اسعارو مقدارونه، د افغانستان بانک لخوا د ټاکل شویو معیارونو (د چټکې نقدینه ګۍ نسبت ۲۰ سلنه او د پراخې نقدینه ګۍ نسبت ۱۵ سلنه او د اسعارو د ټولیز وضعیت لپاره مثبت/منفي ۴۰ سلنه او د اسعارو انفرادي وضعیت لپاره مثبت/منفي ۲۰ سلنه) او پر اسعارو د ټولیزه او انفرادي مقدار (د امریکایي ډالرو د زیات مقدار) مطابق دی. له بلې خوا، یو بشپړ اسلامي بانک د مرکزي بانک لخوا د اسعارو له دواړو ټاکل شویو حدودو څخه سرغړونه کړې ده.

**۱.۸.۶ د اسلامي بانکوالۍ ټولیزه شتمنۍ**

د اسلامي بانکوالۍ ټولیزه شتمنۍ په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۳۸.۲۳ میلیارده افغانۍ (۴۸۷.۲۸ میلیونه امریکایي ډالر) ته رسیږي چې د تیرې ربعې د ۱۰۹.۴۲ سلنه زیاتوالي په پرتله ۱۰.۷۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د اسلامي بانکوالۍ برخې د ټولیزه شتمنیو د زیاتیدو اصلي لامل په ټولیزه امانتونو کې زیاتوالی ګڼل کیږي.

د ټولیزه شتمنیو شننه ښکاره کوي چې په خزانه کې نغدو پیسو او د صکوکو په پانګونه کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی.

د اسلامي بانکوالۍ ټولیزه شتمنیو توپیر ته په پام سره د دې برخې د دریځو د شتمنۍ له زیاتیدو وروسته د بشپړ اسلامي بانک شتمنیو زیاتوالی کړی په داسې حال کې چې د اسلامي بانکوالۍ د دریځو شتمنیو د تیر کال په پرتله ۵.۴۲ سلنه کموالی کړی ؤ. د اسلامي بانکوالۍ په ټولیزه شتمنیو کې د بشپړ اسلامي بانک د شتمنیو ونډه په سلو کې ۵۷ او د دولتي بانکونو د دریځو ونډه په سلو کې ۱۱.۵ ته رسیږي، حال دا چې د خصوصي بانکونو د ځلورو دریځو ونډه د اسلامي بانکوالۍ د ټولیزه شتمنیو په سلو کې ۳۲.۲ جوړوي. په ۱۳۹۸ مالي کال کې د اسلامي بانکوالۍ د شتمنیو بهیر په ۱۴.۶ ګراف کې ښودل کیږي.

د ۲۰۱۹ زیږدیز کال د ډیسمبر او جنوري میاشتو په اوږدو کې د اسلامي بانکوالۍ په شتمنیو کې د نوسانونو اصلي لامل په یاده موده کې د مشتریانو په جاري امانتونو کې کموالي په ګوته شوی دی. همدا ډول، د اسلامي بانکوالۍ د ټولیزه شتمنۍ د پورتوفولیو عمده برخې په خزانه کې نغدې پیسې او له ټکټانې پرته په افغانستان بانک باندې طلبات (۴۶.۵ سلنه)، د بانکونو ترمنځ طلبات (۱۲.۳ سلنه)، خالصه مرابحه مالي تمویل (۱۰.۸ سلنه)، په صکوکو کې پانګونه او د اجارې لپاره ترلاسه شوې شتمنۍ (۲۰.۳ سلنه) او نورې شتمنۍ (۱۰ سلنه) جوړوي.

**۵.۶ جدول: په نزولي ترتیب د اسلامي بانکوالی برخې شتمنی، ۲۰۱۹ سپټمبر**

| شمیره | د بانکونو نومونه | شتمنی په میلیون افغانی | د اسلامي بانکداری برخې په ټولیزه شتمنیو کې د هر بانک د سلنې اندازه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د افغانستان اسلامي بانک | ۲۱،۶۳۸.۳۹ | ۵۶.۵۹ |
| ۲ | د افغان یونایټیډ بانک د اسلامي بانکوالی دریڅه | ۴،۷۹۱.۷۰۹ | ۱۲.۵۳ |
| ۳ | د ملي بانک د اسلامي بانکوالی دریڅه | ۴،۲۶۵.۳۱ | ۱۱.۱۵ |
| ۴ | د غضنفر بانک د اسلامي بانکوالی دریڅه | ۳،۲۹۳.۹۳ | ۸.۶۱ |
| ۵ | د میوند بانک د اسلامي بانکوالی دریڅه | ۲،۷۹۵.۵۶ | ۷.۳۱ |
| ۶ | د افغانستان نړیوال بانک د اسلامي بانکوالی دریڅه | ۱،۳۴۳ | ۳.۵۱ |
| ۷ | د نوي کابل بانک د اسلامي بانکوالی دریڅه | ۱۰۸.۳۶ | ۰.۲۸ |
| ټولیزه | | ۳۸،۲۳۷.۱۸ | ۱۰۰.۰۰ |

سرچینه: د اسلامي بانکوالی او مالي چارو آمریت، د افغانستان بانک

**۶.۶ جدول: د اسلامي بانکوالی نظام ټولیزه شتمنی او پوراینې**

| مبلغ په میلیون افغانی | ۱۳۹۷ لیندۍ<br>۲۰۱۸ ډیسمبر | ۱۳۹۸ لیندۍ<br>۲۰۱۹ ډیسمبر | د ټولیزه شتمنیو/پوراینو سلنه | ربعوار وده/ټیټوالی |
|---|---|---|---|---|
| شتمنی | | | | |
| په خزانه کې نغدې پیسې او پر افغانستان بانک باندې طلبات | ۱۴،۸۱۳.۰۶ | ۱۷،۷۶۸.۰۷ | ۴۶.۴۷٪ | ۱۹.۹۵ ٪ |
| د بانکونو ترمنځ طلبات | ۵،۸۸۱.۴۲ | ۴،۷۱۹.۹۷ | ۱۲.۳۴٪ | -۱۹.۷۵ ٪ |
| خالص مرابحه مالي تمویل | ۵،۷۴۹.۵۵ | ۴،۱۱۱.۴۲ | ۱۰.۷۵٪ | -۲۸٪ |
| پانګونه (صکوک او نور) | ۴،۸۲۲.۷۲ | ۷،۷۶۱.۴۲ | ۲۰.۳۰٪ | ۶۱٪ |
| نورې شتمنی | ۲،۶۱۰.۰۲ | ۲،۸۲۴.۵۲ | ۷.۳۸ ٪ | ۷ ٪ |
| ثابتې او نامملموسې شتمنی | ۶۶۲.۸۱ | ۷۷۶.۶۱ | ۲.۴۸ ٪ | ۳۴.۹ ٪ |
| ټولیزه شتمنی | ۳۴،۵۳۹.۶۰۱ | ۳۸،۲۳۷.۱۸ | | ۱۰.۷۱ ٪ |
| پوراینې | | | | |
| امانتونه | ۲۸،۹۱۳.۰۸۵ | ۳۲،۸۱۵.۸۵ | ۹۱.۷۶ ٪ | ۸.۵۹ ٪ |
| نورې پوراینې | ۱،۵۷۱.۲۴ | ۲،۸۱۹.۷۶ | ۸.۲۴ ٪ | ۷۹.۴۶ ٪ |
| ټولیزه پوراینې | ۳۰،۴۸۴.۳۲ | ۳۴،۲۱۷.۷۵ | | ۱۲ ٪ |
| مالي پانګه | ۴،۰۵۵.۲۶ | ۴،۰۱۹.۶۱ | | -۰.۸۸ ٪ |
| ټولیزه پوراینې + پانګه | ۳۴،۵۳۹.۶۰۱ | ۳۸،۲۳۷.۱۸ | | ۱۰.۷۱ ٪ |

سرچینه: د اسلامي بانکوالی او مالي چارو آمریت، د افغانستان بانک

**۱۴.۶ ګراف: د اسلامي بانکوالی برخې د شتمنیو بهیر**




سرچینه: د اسلامي بانکوالی او مالي چارو آمریت، د افغانستان بانک

### ۱.۱.۸.۶ ناخالصه مرابحه مالي تمویل او پانګونه (صکوک)

د اسلامي بانکوالی د ټولیزه ناخالصه مرابحه مالي تمویل او پانګونه (صکوک او نور) په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۱۲.۹۵۸ میلیارده افغانی (۱۶۵.۱۳۳ میلیونه امریکایي ډالر) ته رسیږي چې د تیر کال په پرتله ۱.۹۳میلیارده افغانی یا ۱۷.۵۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي او د دې برخې د ټولیزه شتمنیو په سلو کې ۳۱.۰۵ جوړوي. په ورته وخت کې، ناخالص مرابحه مالي تمویل ۶.۱۹۸ میلیارده افغانی (۷۸.۹۹ میلیونه

امریکایي ډالرو) ته رسیږي او د دې برخې د ټولیزه شتمنیو په سلو کې ۱۷.۹۴ سلنه جوړوي، حال دا چې پانګونه (صکوک او نور) ۴.۸۲۲ میلیارده افغانۍ (۶۱.۴۵ میلیونه امریکایي ډالرو) ته رسیږي او د دې برخې د ټولیزه شتمنیو په سلو کې ۱۳.۹۶ جوړوي. د ناخالصه مرابحه مالي تمویل او پانګونې (صکوک او نورو) کې تر ټولو ډیر زیاتوالی د صکوکو په پانګونه کې راغلی دی، حال دا چې د پور د تصفیې له امله د مرابحې مالي تمویل کم شوی دی.

سربېره پر دې، په افغانیو مالي تمویل او پانګونه ۳.۷۶ میلیارده افغانۍ (۴۸.۰۲ میلیونه امریکایي ډالرو) ته رسیږي چې د ټولیزه ناخالصه تمویل او پانګونې په سلو کې ۲۹.۰۸ او د ټولیزه شتمنۍ په سلو کې ۹.۸۵ جوړوي. حال دا چې په امریکایي ډالرو مالي تمویل او پانګونه ۹.۱۸ میلیارده افغانۍ (۱۱۷.۱۱ میلیونه امریکایي ډالر) ته رسیږي چې د ټولیزه ناخالص تمویل او پانګونې په سلو کې ۷۰.۹۱ او د ټولیزه شتمنۍ په سلو کې ۲۴.۰۳ جوړوي. د ټولیزه مالي تمویل او پانګونې په پورتوفولیو کې د کموالي اصلي لامل د ارزونې لاندې کال کې د اسلامي بانکوالۍ د یوې دریڅې لخوا د ۱.۲۶ میلیارده افغانۍ په ارزښت د مرابحه مالي تمویل تصفیه کول په ګوته شوی دی.

همدا ډول، د پانګونې په بیه لرونکو پاڼو (صکوک) کې په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۲.۹۳ میلیونه افغانۍ زیاتوالی راغلی دی. په ټولیزه ناخالصه پانګونه کې د زیاتوالي اصلي لامل د ارزونې لاندې موده کې د صکوکو نوی مالي تمویل په ګوته شوی دی. په ورته وخت کې، په یاده ربعه کې د مرابحې د مالي تمویل تصفیه او قسطونه راټول شوي دي.

په افغانستان کې د مرابحې د مالي تمویل سکتوري پور ورکونه د اسلامي بانکوالۍ د دریڅې په وسیله ترسره کیږي چې د اسلامي بانکوالۍ د ټولیزه ناخالصې مرابحې مالي تمویل په سلو کې ۸۴.۲۲ جوړوي، حال دا چې په ټولیزه ناخالصه مرابحه مالي تمویل کې د یو بشپړ اسلامي بانک ونډه په سلو کې ۱۵.۷ ده او د دې برخې په صکوکو کې د پانګونې ټولیزه بیه لرونکې پاڼې چې له هېواده بهر په پانګه اچول شوې، د بشپړ اسلامي بانک لخوا زیاتې کارول شوي او د ټولیزه پانګونې په سلو کې ۸۳.۳۳ جوړوي او پاتې ۱۶.۶۶ سلنه د سوداګریزو بانکونو د اسلامي بانکوالۍ د دوو دریڅو مشترکه ونډه جوړوي. د دې سکتور د ټولیزه ناخالصه مالي تمویل او پانګونې ډله بندي د ۵.۰۵ میلیارده افغانیو په ارزښت د ترلاسه کیدو وړ مرابحه چې ۱۶ سلنه کموالی ښکاره کوي او د ناخالصه مالي تمویل او پانګونې ۴۰.۱۰ سلنه جوړوي، ټیټېدونکې مشارکت (۱۱۵.۸۳ میلیونه افغانۍ یا ۰.۸۹ سلنه)، د دوامداره مشارکت مالي تمویل (۵۳ میلیونه افغانۍ)، د ۴.۶۷ میلیارده افغانیو په ارزښت د صکوکو پانګونه چې ۳.۲۳ میلیارده زیاتوالی ښکاره کوي او د ناخالصه مالي تمویل او پانګونې ۳۶ سلنه جوړوي، د ۲.۰۰۷ میلیارده افغانیو په ارزښت د اجارې لپاره ترلاسه شوې شتمنۍ چې د ناخالصه مالي تمویل او پانګونې ۱۵.۵ سلنه جوړوي، رانغاړي.

د یادونې وړ ده چې د یو بانک د اسلامي بانکوالۍ دریڅې او د افغانستان اسلامي بانک د پانګونې (صکوکو) په پورتوفولیو کې زیاتوالی راغلی دی، په داسې حال کې چې د نوي کابل بانک د اسلامي بانکوالۍ دریڅې د ارزونې لاندې کال کې د مالي تمویل او پانګونې کومې کړنې ترسره کړې نه دي.

۷.۶ جدول: د محصول پر بنسټ د اسلامي بانکوالۍ مالي تمويل او پانګونه (ناخالص)- مبلغ په میلیون افغانی

| شمیره | محصول | مقدار په میلیون افغانی | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | ۲۰۱۸ ډیسمبر | ۲۰۱۹ ډیسمبر | د مبلغ توپیر | د توپیر سلنه | د ناخالصه مالي تمويل او پانګونې په توګه د محصولاتو سلنه |
| ۱ | د ترلاسه کیدو وړ مرابحه | ٦،١٩٨.٤٨ | ٥،١٩٦.٥٥ | -١،٠٠١.٩٣ | -١٦.١٦٪ | ٤٠.١٠٪ |
| ۲ | ټیټیدونکی مشارکت | ١٢٥.٥١ | ١١٥.٨٣ | (٩.٦٧٥) | -٨٪ | ٠.٨٩٪ |
| ۳ | د دوامداره مشارکه مالي تمويل | ٥١.٠٧ | ٥٣.٠١ | ١.٩٤ | ٤٪ | ٠.٤١٪ |
| ۴ | د پانګونې بیه لرونکې پاڼې (صکوک) | ١،٤٣٩.٨٣ | ٤،٦٧٥.٠١ | ٣،٢٣٥.١٧ | ٢٥٥٪ | ٣٦.٠٨٪ |
| ۵ | د اجارې لپاره ترلاسه شوې شتمنۍ | ١،٩٦٥.٢٤ | ٢،٠٠٧.٤٨ | ٤٢.٢٣ | ٢٪ | ١٥.٥٪ |
| ۶ | نورې پانګونې | ١،٢٤١.٠٥ | ٩١٠.٠٨ | (٣٣٠.٩٨) | -٢٧٪ | ٧.٠٢٪ |
| | ټولیزه | ١١،٠٢١.٢٠ | ١٢،٩٥٧.١٣ | ١،٩٣٦.٧٦ | ١٧.٥٧٪ | ١٠٠٪ |

سرچينه: د اسلامي بانکوالۍ او مالي چارو آمریت، د افغانستان بانک

**۱۵.۶ ګراف: د اسلامي بانکوالۍ د محصول پر بنسټ پانګونه او مالي تمويل: د ۱۳۹۷ او ۱۳۹۸ مالي کلونو ترمنځ پرتله (مبلغ په میلیون افغانی)**




سرچينه: د اسلامي بانکوالۍ او مالي چارو آمریت، د افغانستان بانک

**۱۶.۶ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په پای کې د محصول پر بنسټ د پانګونې او مالي تمويل سلنه**




سرچينه: د اسلامي بانکوالۍ او مالي چارو آمریت، د افغانستان بانک

### ۲.۱.۸.۶ د مالي تمويل او پانګونې د زیان زیرمې

د ۱۳۹۸ مالي کال په پای کې د اسلامي بانکوالۍ ټولیزه تخصیص شوې مبلغونه ۱.۱۷۹ میلیارده افغانۍ

ته رسيږي چې د تیر کال د مالي تمويل په پرتله ۷۱۸ میلیونه افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي او په ټولیزه توګه د مرابحې په مالي تمويل پورې اړه لري. د دې سکتور لپاره تخصیص شوي مبلغونه د مرابحې د مالي تمويل لپاره ۱.۰۸ میلیارد افغانۍ، د بانکونو ترمنځ طلباتو لپاره ۷۴.۸۵ میلیونه افغانۍ او د ترلاسه کیدونکي مبلغ لپاره ۱۹.۱۶ میلیونه افغانۍ رانغاړي. د مرابحه مالي تمويل لپاره تخصیص شوی مبلغ د تیر کال د ۴.۱۹ سلنې په پرتله په ۱۳۹۸ مالي کال کې د اسلامي بانکوالۍ برخې د ټولیزه ناخالصه مالي تمويل ۹.۰۹ سلنه جوړوي.

### ۳.۱.۸.۶ د بانکونو ترمنځ طلبات

د اسلامي بانکوالۍ د بانکونو ترمنځ طلبات چې د شتمنۍ په کټګوریو کې څلورمه لویه کټګوري ده، د ۱۳۹۸ مالي کال په پای کې ۴.۷۱ میلیارده افغانۍ (۶۰.۱۵ میلیونه امریکايي ډالرو) ته رسيږي او د ټولیزه شتمنیو په سلو کې ۱۳.۲۶ جوړوي او د تیر کال په پرتله ۱.۶۹۸ میلیارد افغانۍ کموالی ښکاره کوي. د دې کموالي ډیره برخه د بانکونو په موده ایزه امانتونو

کې ثبت شوې چې اصلي لامل یې د قرارداد د وخت پوره کیدل ګڼل کیږي.

د یادونې وړ ده چې په افغانیو د بانکونو ترمنځ طلبات ۷.۴ سلنه، په امریکایي ډالرو د بانکونو ترمنځ طلبات ۹۶.۹۸ سلنه او په نورو اسعارو د بانکونو ترمنځ طلبات ۳.۴ سلنه راکم شوي دي (د لا ډیرو معلوماتو لپاره ۱۷.۶ ګراف ته مراجعه وکړئ).

د اسلامي بانکوالۍ د شپږو دریځو له ډلې دوه ځانګې او یو اسلامي بانک د بانکونو ترمنځ طلبات لري چې ۱.۴۲۸ میلیارده افغانۍ موده ایز امانتونه او ۳.۶۴ میلیارده افغانۍ جاري امانتونه رانغاړي او په بانکونو کې د توکو د مرابحې او د بانکونو د داخلي لیږدونو او له نورو بانکونو سره د معاملو د تصفیې او تسویې په توګه کارول کیږي.

۱۷.۶ ګراف: د اسلامي بانکوالۍ برخې د بانکونو ترمنځ طلبات




سرچینه: د اسلامي بانکوالۍ او مالي چارو آمریت، د افغانستان بانک

**۴.۱.۸.۶ په خزانه کې نغدې پیسې او په د افغانستان بانک باندې طلبات**

د اسلامي بانکوالۍ په خزانه کې نغدې پیسې او په د افغانستان بانک باندې طلبات د ۱۳۹۸ مالي کال په پای کې ۱۷.۷۶ میلیارده افغانۍ (۲۲۶.۴۳ میلیونه امریکایي ډالرو) ته رسیږي چې د تیر کال په پرتله ۲.۹۵۵ میلیارده افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي. په خزانه کې نغدې پیسې او په د افغانستان بانک باندې طلبات د اسلامي بانکوالۍ تر ټولو لویه برخه ده او د ټولیزه شتمنیو په سلو کې ۴۶.۴۷ جوړوي او تر ټولو ډیر زیاتوالی په د افغانستان بانک باندې طلباتو کې راغلی دی. په خزانه کې نغدو پیسو او په د افغانستان بانک باندې طلباتو د زیاتوالي اصلي لامل د ارزونې لاندې کال کې د دې برخې د ټولیزه امانتونو کموالی ګڼل کیږي. په ټولیزه توګه، په خزانه کې نغدې پیسې او په د افغانستان بانک باندې طلبات ۵.۴۸ میلیارده په خزانه کې نغدې پیسې ۹.۷۳ میلیارده، د افغانستان بانک د غیر ټکټانې جاري حساب او ۲.۵۴ میلیارده د افغانستان بانک د الزامي زیرمو حساب جوړوي.

**۲.۸.۶ ټولیزه امانتونه**

امانتونه چې د اسلامي بانکوالۍ عمده تمویلي سرچینه او د پوراینو مهمه برخه جوړوي، د ۱۳۹۸ مالي کال په پای کې ۳۱.۳۹ میلیارده افغانۍ (۴۰۰.۱۲ میلیونه امریکایي ډالرو) ته رسیږي چې د تیر کال د ۲۸.۹۱ میلیارده افغانۍ (۳۶۸.۴۶ میلیونه امریکایي ډالرو) او ۱۳۶ سلنې ودې په پرتله ۸.۵۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي او د ټولیزه پوراینو په سلو کې ۹۱.۷۶ جوړوي. په ټولیزه امانتونو کې د زیاتوالي اصلي لامل د یو بشپړ اسلامي بانک د مشتریانو په موده ایزه او سپما امانتونو کې زیاتوالی ګڼل کیږي چې د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې یې په ترتیب سره ۱.۶۹۸ میلیارده افغانۍ (۲۸.۰۴ سلنه) او ۲.۰۹۳ میلیارده افغانۍ (۲۲.۴۶ سلنه) زیاتوالی ثبت کړی دی، حال دا چې د مشتریانو په جاري امانتونو کې ۱.۳۰۷ میلیارده افغانۍ (۹.۶۶ سلنه) کموالی راغلی دی.

**۱۸.۶ ګراف: د ۲۰۱۹ کال د ډیسمبر پر بنسټ د امانتونو ډله بندي**




سرچینه: د اسلامي بانکوالۍ او مالي چارو آمریت، د افغانستان بانک

د دې ترځنګ، په افغانۍ امانتونو په یاده موده کې زیاتوالی ثبت کړی، حال دا چې په امریکایي ډالرو امانتونو په یاده موده کې کموالی کړی دی. په ورته وخت کې، د دې برخې په افغانۍ امانتونه ۱۲.۰۶ میلیارده افغانۍ (۱۵۳.۷۶ میلیونه امریکایي ډالر) ته رسیږي او ۳۰.۵ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي او د ټولیزه امانتونو په سلو کې ۳۸.۴۲ جوړوي، حال دا چې په امریکایي ډالرو امانتونه په یاده موده کې ۱۹.۳۳ میلیارده افغانۍ (۲۴۶.۳۶ میلیونه امریکایي ډالرو) ته رسیږي او د ټولیزه امانتونو په سلو کې ۶۱.۵۷ جوړوي چې ۶.۴۷ سلنه کموالی ښکاره کوي. په ورته وخت کې، اسلامي بانک د دې برخې په ټولیزه امانتونو کې تر ټولو ستره ۵۸.۳۶ سلنه ونډه لري، حال دا چې د اسلامي بانکوالۍ دریځې د ټولیزه امانتونو په سلو کې ۴۱.۶۳ جوړوي.

د دې برخې د مشتریانو ټولیزه امانتونه؛ ۱۲.۲۲ میلیارده افغانۍ جاري امانتونه، ۷.۷۵ میلیارده افغانۍ موده ایز امانتونه او ۱۱.۴۱ میلیارده افغانۍ د سپما امانتونه رانغاړي. همدا ډول، جاري امانتونه د ټولیزه امانتونو په سلو کې ۳۸.۹۴، موده ایز امانتونه په سلو کې ۲۴.۷۰ او د سپما امانتونه د ټولیزه امانتونو په سلو کې ۳۶.۳۵ جوړوي. په ورته وخت کې، ټولیزه امانتونه ۳۱.۲۰۲ میلیارده افغانۍ د مشتریانو امانتونه او ۱۹۵.۳۳ میلیونه افغانۍ د بانکونو امانتونه رانغاړي. د یادولو وړ ده چې د بانکونو امانتونه د ټولیزه امانتونو یوازې ۰.۶۲ سلنه جوړوي.

### ۳.۸.۶ نقدینه ګي (سیالیت)

د اسلامي بانکوالۍ د ټولو دریځو او اسلامي بانک د نقدینه ګۍ وضعیت د نقدینه ګۍ د پراخ نسبت (۱۵ سلنه) او نقدینه ګۍ د چټک نسبت (۲۰ سلنه) لپاره له ټاکل شوي حد څخه پورته دی. د بانکي نظام د دې برخې د نقدینه ګۍ پراخ نسبت په منځني ډول ۵۳.۵۴ سلنه دی چې د تیرې مودې د ۵۷.۱۹ سلنې په پرتله ۳.۶۵ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. د یادونې وړ ده چې په افغانستان کې د پانګې د بازار د نه شتون له امله بانکي نظام په زیاته کچه سیال پاتې شوی دی.

په عامه توګه د نقدینه ګۍ خطر کولای شو د پور اخیستونکو او امانت اېښودونکو د تقاضاوو د پوره کولو لپاره د کافي سیالو شتمنیو نه درلودل تعریف کړو. ټول بانکونه اړ دي څو له نقدینه ګۍ څخه د رامنځته شویو ستونزو د مخنیوی لپاره سیالیت په مطلوب حد کې وساتي.

له همدې کبله، اسلامي بانک او د اسلامي بانکوالۍ دریځې باید د شتمنیو یوه مسئوله کمېټه (ALCO) ولري چې د دې کمېټې دندې د بانک د سیاستونو په پام کې نیولو سره د نیمګړتیاوو د تحلیل او تجزیې له لارې د بانک د نقدینه ګۍ د حساسیت د ازمایښت، د سناریو د شننې، د نغدي جریان د شننې او داسې نورو له مدیریت څخه عبارت دي.

| ۸.۶ جدول: د ۲۰۱۹ کال تر ډیسمبر پورې د اسلامي بانکوالۍ د مالي ښه والي مهم شاخصونه | | |
|---|---|---|
| نسبتونه (په سلنه) | د ۲۰۱۸ ډیسمبر | د ۲۰۱۹ ډیسمبر |
| په ټولیزه شتمنیو کې د سیالو شتمنیو ونډه | ٪۵۹.۹۲ | ٪۵۸.۸۱ |
| د لنډې مودې پورراینو کې د سیالو شتمنیو ونډه | ٪۱۵۳ | ٪۱۸۴ |
| په ټولیزه مالي لګښتونو کې پر اسعارو د مالي لګښتونو ونډه | ٪۶۸.۰۴ | ٪۶۱.۵۷ |
| په ټولیزه مالي تمویلونو کې پر اسعارو د مالي تمویلونو ونډه | ٪۷۰.۹۸ | ٪۷۰.۹۲ |
| له شتمنیو څخه ترلاسه شوې ګټه(ROA) | ۴.۳۹ | (۱۰.۶) |
| د پانګه اچوونکو له پانګې ترلاسه شوې ګټه(ROE) | ۱۸.۴۸ | (۶.۹۶) |
| سرچینه: د اسلامي بانکوالۍ او مالي چارو آمریت، د افغانستان بانک | | |

**۴.۸.۶ پانګه**

د اسلامي بانکوالۍ د برخې پانګه د ۱۳۹۸ مالي کال په پای کې ۴.۰۱۹ میلیارده افغانۍ (۵۱.۶۷ میلیونه امریکایي ډالر) ته رسیږي چې د تیر کال د ۴.۰۵۵ میلیارده افغانۍ په پرتله ۰.۸۸ سلنه کموالی ښکاره کوي. د اسلامي بانکوالۍ برخې د اکویټي پانګې د کمیدو اصلي لامل په یاده موده کې د بانکي نظام زیانونه ګڼل کیږي.

همدا ډول د افغانستان د اسلامي بانک د پانګې د کفایت نسبت له مقرراتي حد څخه پورته دی. په ورته وخت کې د اسلامي بانکوالۍ د دریځو پانګه د ونډه لرونکو برخه (چې د سیالو شتنمنیو په ډول نه ده، خو د پانګونې د ملکیت په ارزښت ده او د عادي بانک څخه اسلامي بانک ته ورکول شوې یا لیږدول شوې ده)، د تیرو کلونو پاتې شوې ګټه/ تاوان، نور عمده عواید (د ثابتو شتمنیو د بیاځلي ارزښت ټاکنې څخه ترلاسه شوي عواید) او د روان کال ګټه/تاوان رانغاړي. د دې سکتور د مالي پانګې بهیر لکه څنګه چې پورته واضح شوی دی، په ۶.۱۹ ګراف کې ښودل کیږي.

**۱۹.۶ ګراف: د اسلامي بانکوالۍ برخې د مالي پانګې بهیر**




سرچینه: د اسلامي بانکوالۍ او مالي چارو آمریت، د افغانستان بانک

د اسلامي بانکوالۍ یوه دریځه د دې سکتور په ټولیزه پانګه کې تر ټولو ډیره ۷۲.۸۴ سلنه ونډه لري، حال دا چې اسلامي بانک د دې سکتور د ټولیزې پانګې په سلو کې ۳۵ جوړوي.

**۵.۸.۶ ګټورتیا (نافعیت)**

**ربعې په ربعې:**

اسلامي بانکوالۍ، د ۱۳۹۸ مالي کال څلورمه ربعه له ۲۳.۵۱ میلیونه افغانۍ خالصې ګټې سره پای ته رسولې چې د تیرې ربعې د ۳۵.۵۳ میلیونه افغانۍ خالص زیان په پرتله د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي. د اسلامي بانکوالۍ د شپږو دریځو له ډلې درېیو دریځو په تیره ربعه کې د څلورو دریځو لخوا د ۴۶.۲۵ میلیونه افغانۍ زیان په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په پای کې ۱۳۳.۴۰ میلیونه افغانۍ زیان کړی دی. د دې برخې د زیانونو د کمیدو اصلي لامل د دې برخې د غیر انتفاعي عاید زیاتوالی ګڼل کیږي چې په یاده موده کې یې کچه ۲۱۰.۹۳ میلیونه افغانیو ته رسیږي چې د تیرې ربعې په پرتله ۱۳۰ میلیونه افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي. د اسلامي بانک خالصه ګټه د ارزونې لاندې ربعه کې ۱۰۳.۰۹ میلیونه افغانۍ ته رسیږي. د یادونې وړ ده چې په روانه ربعه کې د اسعارو د بیاځلي ارزښت ټاکنې له عوایدو پرته د اسلامي بانک زیان ۷۳.۹۸ میلیونه افغانۍ ته رسیږي، حال دا چې د اسعارو د بیاځلي ارزښت ټاکنې د عوایدو په ګډون ۱۷۷.۰۷ میلیونه افغانۍ زیان ثبت کړی دی. سربیره پر دې، د اسلامي بانک زیان له ۷۳.۹۸ میلیونه افغانۍ څخه ۱۰۳.۰۹ میلیونه افغانۍ ته زیات شوی دی او د ۱۷۷.۰۷ میلیونه افغانۍ په ارزښت د اسعارو د بیاځلي ارزښت ټاکنې څخه ترلاسه شوي عواید د دې بانک اصلي عواید نه جوړوي.

**ټولیزه ګټورتیا:**

په ټولیزه توګه، د اسلامي بانکوالۍ د ۱۳۹۸ مالي کال د څلورو ربعو په اوږدو کې (د ۲۰۱۹ کال له جنوري څخه تر ډیسمبر پورې) ۲۷۹.۵۳ میلیونه افغانۍ (۳.۵۶۷ میلیونه امریکایي ډالر) خالصه زیان کړی دی چې د تیر کال د ورته مودې د ۷۵۲.۰۹ میلیونه افغانۍ خالصه زیان په پرتله د پام وړ کموالی ښکاره کوي. په ورته وخت کې، د دې زیان په پایله کې له شتمنیو څخه ترلاسه شوې ګټه په کلني توګه

منفي ۱۰.۶ سلنې او له پانګې څخه ترلاسه شوې ګټه منفي ۶.۹۶ سلنې ته راټيټه شوې، حال دا چې د ۲۰۱۸ مبلغ کال په ډيسمبر مياشت کې ۵.۳۹ سلنه او ۱۸.۴۸ سلنه ؤ.

همدا ډول، د دې سکتور د زيانونو اصلي لامل د ۱.۴۲۸ ميليارده افغانۍ په ارزښت (چې ۹۴.۰۱ سلنه يې د اسلامي بانکوالۍ څلور دريځې او پاتې برخه يې اسلامي بانک جوړوي) د ناخالصه پورونو تخصيص په ګوته شوی دی. په ورته وخت کې، دې سکتور د ۷۴۶.۱۶ ميليونه افغانۍ په ارزښت نوی پور تخصيص کړی دی چې ۶۷۷.۵۶ ميليونه افغانۍ د اسلامي بانکوالۍ په څلورو دريځو او پاتې ۶۸.۵۹ ميليونه افغانۍ په اسلامي بانک پورې تړاو لري.

د دې ترڅنګ، خالصه ګټه په ۱۳۹۸ مالي کال کې د ۱۳۷.۸۰ ميليونه افغانۍ په ارزښت راټيټه شوې، حال دا چې غير انتفاعي لګښتونو (عملياتي لګښتونو) د ۵۴۹.۱۳ ميليونه افغانۍ په ارزښت زياتوالی کړی چې د دې سکتور د زيان نور لاملونه ګڼل کېږي.

په ورته وخت کې، خالصه ګټه او د اسعارو له ارزښت ټاکنې څخه ترلاسه شوې عوايد په ۱۳۹۸ مالي کال کې زيات شوي دي. د اسلامي بانکوالۍ د شپږو دريځو له ډلې پنځو دريځو د ارزونې لاندې کال کې ۴۳۲.۹۴ ميليونه افغانۍ زيان کړی چې د تېرې مودې د ۱۲۲.۷۱ ميليونه افغانۍ زيان په پرتله چې يوازې په درېيو دريځو پورې يې تړاو درلوده، د پام وړ زياتوالی ښکاره کوي. په ورته وخت کې، اسلامي بانک د ارزونې لاندې کال له خالصې ګټې سره پای ته رسولی چې کچه يې ۱۴۲.۴۸ ميليونه افغانۍ ته رسيږي. د اسلامي بانک د خالصې ګټې د زياتوالي اصلي لامل د ۱۳۹۸ مالي کال د ارزونې لاندې موده په اوږدو کې د اسعارو د ارزښت ټاکنې څخه د ۶۶۸.۵۶ ميليونه افغانۍ په ارزښت د ترلاسه شويو عوايدو زياتوالی ګڼل کېږي.

| ۹.۶ جدول: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د اسلامي بانکوالۍ نظام د ګټې او زيان جدول | | | |
|---|---|---|---|
| د ګټې او زيان جدول (مبلغ په ميليون افغانۍ) | | | |
| اقلام | ۲۰۱۸ ډيسمبر | ۲۰۱۹ ډيسمبر | توپير |
| انتفاعي عوايد | ۹۱۷.۱۱ | ۷۰۴.۱۴ | (۱۴.۹۷) |
| انتفاعي لګښتونه | ۱۸۲.۸۰۱ | ۳۰۵.۶۲ | ۱۲۲.۸۲ |
| خالص انتفاعي عوايد | ۵۳۶.۳۱ | ۳۹۸.۵۱ | (۱۳۷.۸۰۱) |
| نور غير انتفاعي عوايد | ۳۸۵.۷۸ | ۴۸۸.۵۹ | ۱۰۲.۸۱ |
| نور غير انتفاعي لګښتونه | ۶۸۰.۴۶ | ۱,۲۲۹.۶۰ | ۵۴۹.۱۳ |
| د اسعاور له ارزښت ټاکنې مخکې ګټه (زيان) | **۲۸۸.۵۳** | **(۱,۰۲٤.۷٦)** | **(۱,۳۱۳.۳)** |
| د خالص پور تخصيصونه | (۴۶.۹۰۶) | ۶۸۲.۲۶ | ۷۲۹.۱۷ |
| د اسعارو د ارزښت ټاکنې ګټه/زيان | ۲۳۴.۸۲ | ۶۴۸.۲۲ | ۴۱۳.۳۹ |
| ماليه | (۲۲۸.۴۲۶) | (۹۶.۴۱۴) | ۱۳۲.۰۱۲ |
| له ماليې وروسته خالص انتفاعي عايد/زيان | ۷۵۲.۰۹ | (۲۷۹.۹۳) | (۱,۰۳۲.۰۲) |
| **سرچينه:** د اسلامي بانکوالۍ او مالي چارو آمريت، د افغانستان بانک | | | |

په عامه توګه، د اسلامي بانکوالی برخې د مالي تمویل اووه ډوله مالي محصولات وړاندې کوي چې په ۱۳۹۸ مالي کال کې د مالي تمویل له یادو محصولاتو څخه ترلاسه شوي عواید په لاندې جدول کې ښودل کیږي.

**۱۰.۶ جدول: د شریعت مطابق محصولاتو د عمده ډولونو څخه ترلاسه شوي عواید**

| د شریعت مطابق تړون د عمده ډولونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو ارزښت (مبلغ په میلیون افغانۍ) | | | |
|---|---|---|---|
| **محصول** | **۲۰۱۸ ډیسمبر** | **۲۰۱۹ ډیسمبر** | **توپیر** |
| د بانکونو سره موده ایز امانتونه | ۵۸.۰۲ | ۶۸.۲۳ | ۱۰.۲۱ |
| د نورو مالي ادارو د امانتونو څخه ترلاسه شوي انتفاعي عواید | ۱۱.۴۸ | ۶۸.۴۴ | ۵۶.۹۵ |
| مرابحه | ۵۲۲.۸۶ | ۳۵۱.۲۷ | (۱۷۱.۵۸) |
| ټیټیدونکې مشارکه | ۹.۳۴ | ۱۴.۸۷ | ۵.۵۳ |
| صکوک | ۱۵. ۷۰۲ | ۱۱۵. ۵۸ | ۹۹.۸۷ |
| اجاره | ۱۰۱.۶۹۵ | ۸۵.۷۲ | (۱۵.۹۷) |
| ټولیزه انتفاعي عواید | **۷۱۹.۱۱** | **۷۰٤.۱٤** | **(۱٤.۹۷)** |

سرچینه: د اسلامي بانکوالی او مالي چارو آمریت، د افغانستان بانک

**۲۰.۶ ګراف: د شریعت مطابق محصولاتو د سترو ډولونو څخه ترلاسه شوي عواید**




سرچینه: د اسلامي بانکوالی او مالي چارو آمریت، د افغانستان بانک

په ټول هیواد کې د اسلامي بانکدارۍ برخې د کارکوونکو، پور اخیستونکو، امانت ایښودونکو، او نورو مشتریانو ټولیز شمېر د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدوکې په لاندې جدول کې ښودل کیږي.

**۱۱.۶ جدول: د اسلامي بانکوالی د برخې کارکوونکي، پور اخیستونکي او امانت ایښودونکي**

| ځانګړنې | شماره |
|---|---|
| د پوره ورخې کارکوونکي | ۱,۰۱۸ |
| موجوده پور اخیستونکي | ۷۶۲ |
| موجوده امانت ایښودونکي | ۴۴۱,۸۶۱ |

سرچینه: د اسلامي بانکوالی او مالي چارو آمریت، د افغانستان بانک

**پایله:**

د اسلامي بانکوالۍ برخې ټولیزه شتمنۍ د ۱۳۹۸ مالي کال په څلورمه ربعه کې ۳۸.۳۲ میلیارده افغانۍ (۴۸۷.۲۸ میلیونه امریکایي ډالر) ته رسیږي چې د تیر کال په پرتله ۱۰.۷۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د اسلامي بانکوالۍ د برخې د شتمنیو د زیاتیدو اصلي لامل د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د ټولیزه امانتونو زیاتوالی ګڼل کیږي.

همدا ډول، د اسلامي بانکوالۍ د خالص مالي تمویل او پانګونې پورتوفولیو ۱۱.۶۸ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال په پرتله ۱.۹۳ میلیارده افغانۍ یا 17.57 سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې اصلي لامل یې د نویو صکوکو صادرول په ګوته شوی دی.

امانتونه چې د اسلامي بانکوالۍ برخې عمده تمویلي سرچینه جوړوي، د ۱۳۹۸ مالي کال په پای کې ۳۱.۳۹ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال په پرتله 8.59 سلنه زیاتوالی ښکاره کوي او د ټولیزه پوراینو په سلو کې ۹۱.۷۶ جوړوي. د یادونې وړ ده چې د اسلامي بانکدارۍ برخې د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې ۲۷۹.۹۳ میلیونه خالص زیان کړی چې د ۱.۴۲۸ میلیارده افغانۍ په ارزښت د ناخالصه پورونو تخصیص یې اصلي لامل ګڼل کیږي چې ۹۴.۰۱ سلنه د اسلامي بانکوالۍ د څلورو دریځو او پاتې یې د یو اسلامي بانک لخوا تخصیص شوي دي.






Web: www.dab.gov.af 0093 0202104761 info@dab.gov.af Da Afghanistan Bank-Youtube www.facebook.com/AFGCentralbank twitter.com/AFGCentralbank

آمریت عمومی دفتر ریاست